Afghan Salar Library

لومړی ټوک

# د سرو زرو خزانه

(عمومي معلومات،
پندونه او خوږې کیسې)



لیکنه او ترتیب
امان الله

بسم الله الرحمن الرحیم

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# د سرو زرو خزانه

(عمومي معلومات، پندونه او خوږې کيسې)

ليکنه او ترتيب: امان الله

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# د کتاب پېژندنه:


| | |
|---|---|
| دکتاب نوم: | د سروزرو خزانه (عمومي معلومات، پندونه او خوږې کيسې) |
| ليکنه او ترتيب: | امان الله |
| کمپوز: | امان الله |
| ډيزاين: | شريف الله (للموال) ٠٧٨٧٢٦٧٥٨٥ |
| چاپ کال: | ١٣٩٥ هـ.لمريز يا 2016م |
| دچاپ شمېر: | ١١٠٠ ټوکه |
| چاپ چارې: | افغان خپرندويه ټولنه - جلال اباد |
| فيسبوک پاڼه: | Afghanpublisher-nangharhar |
| چاپ لړ: | (٢٦) |
| بيه: | ) |



د چاپ حقوق د خپرندويه ټولنې سره خوندي دي


## دترلاسه کولو ځايونه:

**ننګرهار:** افغان کتاب پلورنځی، اسحاق زی مارکيټ، لاندې منزل - جلال آباد

موبايل شميرې: ٠٧٩٣٣٢١٠٩٨ - ٠٧٧٩٠٩٠٧٨٢

**کابل:** اقراء کتاب پلورنځی، نيو کابل کتاب پلورنځی

**پلچرخي:** انصاف کتاب او قرطاسيه پلورنځی

**لغمان:** محمديونس کتاب پلورنځی ، کوهستاني کتابخانه

**کندهار:** سنځر کتاب پلورنځی

**ګرديز:** روحاني بابا کتاب پلورنځی


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## لیکلړ

سرلیک | مخ


لومړی فصل.......................................................۱
دغوسل ،اودس ، لمونځ مسائل ،قصې او لسګونه نور مهم مسایل..................۱
رسول الله اکرمﷺ فرمايلي دي:...........................................۱
هغه څوک چې لمونځ نه کوي.................................................۳
هغه ګټې چې لمونځ کونکي ته ورکول کیږي.......................................۳
دُنیوي سزا هغه چاته چې په لمونځ کې سستي کوي....................................۳
دمرګ په وخت کې درې عذابه....................................................۳
درې عذابه دقبر څخه دراپورته کېدلو څخه وروسته...................................۳
دغسل طريقه او نبوي حدیثونه.....................................................۴
سړي باید ځان پاک کړي بني اسرائیلو داسې ونه کړه..................................۶
دجمعې په ورځ غسل کول صحت ته ګټه رسوي...........................................۶
مسواک او دهغه ګټې.................................................................۶
څلورشیان دټولو پیغمبرانو سنت دي.....................................................۷
دمسواک حکمت او په جنګ کې دکفارو تېښته...........................................۷
اودس او دهغې مسائل...................................................................۸
دزیاتو اوبو مصرفول په اوداسه کې اصراف دی.............................................۱۱
د او داسه څخه وروسته دوه رکعته تحية الوضوء لمونځ کوئ.................................۱۱
کفار حیران شول چې ولې دمسلمانانو عسکر نه مریضان کیږي..................................۱۱
دتیمم مسائل...........................................................................۱۲
تیمم څه ډول وهل کیږي...............................................................۱۲
دعایشې (رض) په برکت دتیمم آیت نازل شو...............................................۱۲
بیت الخلا (تشناب) دتلو طریقه.........................................................۱۳
دمسجد آداب او دهغې په اړه حدیثونه....................................................۱۳


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

صف جوړول............ ۱۴
مسجد ته تګ جهاد دی............ ۱۵
اودس او لمونځ د ګناهونو کفاره ده............ ۱۶
څوک امامت کولی شي؟............ ۱۶
د آذان په ځواب کښې باید څه ووایو؟............ ۱۷
په قعده کې د ګوتې پورته کول د رسول الله سنت دي............ ۱۷
د یهودي، انجلي، کیسه چې په آذان عاشقه شوې وه............ ۱۷
څو ډوله لمونځ پېژنئ؟............ ۱۸
د اشرق لمونځ د عمرې ثواب لري............ ۱۸
د څاښت لمونځ............ ۱۸
د څاښت لمونځ و کړئ تر څو چې رزق مو زیات شي............ ۱۹
اوابین لمونځ............ ۱۹
د تهجد لمونځ څه وخت اداء کیږي؟............ ۲۰
الله(ج) په نیمه شپه کې د دنیا آسمان ته رابښکته کیږي............ ۲۰
بد ترینه غل د لمونځ غل دی............ ۲۱
د تسبیح لمونځ (صلاة تسبیح)............ ۲۱
د استخارې لمونځ............ ۲۳
د توبې لمونځ............ ۲۳
ابوبکر صدیق (رض) به په کراره سره لمونځ کولو............ ۲۳
د سجدې او رکوع ګټې............ ۲۴
اوه ځلې تسبیح ویل لوړه درجه لري............ ۲۵
د لمانځه فرضونه............ ۲۶
د لمانځه واجبات............ ۲۶
د لمانځه سنتونه............ ۲۷
د لمانځه مستحبات............ ۲۸

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دلمانځه فاسدونکي............................................................ ۲۸
دلمانځه مکروهات............................................................ ۲۸
دلمانځه ترتیب دنیت څخه تر سلام ګرځولو پورې او دلمانځه مکمله ترجمه...... ۳۰
تحیات............................................................ ۳۱
دلمانځه څخه وروسته دعاګانې............................................................ ۳۳
استغفرالله الذي لا اله الا هو الحي القیوم............................................................ ۳۴
سجده سهوه نورو ته هم وښیئ............................................................ ۳۵
دپنځه وخته لمونځونو د وختونو پېژندنه............................................................ ۳۶
د جُمعې د لمانځه د اداکولو طریقه............................................................ ۳۶
دجُمعې د ورځې ګټې او فضائل............................................................ ۳۷
دجنازې دلمانځه ترتیب............................................................ ۳۹
بې کوره سړی او عیسی (ع)............................................................ ۴۰
تر ټولو لویه صدقه............................................................ ۴۱
په کومو وختونو کې دعاقبلیږي............................................................ ۴۱
دچا دعاګانې قبلیږي............................................................ ۴۲
ترټولو غوره شپې چې په هغو کې دعا قبلیږي............................................................ ۴۲
دشیطان قسم خوړل............................................................ ۴۴
دشیطان نصیحت............................................................ ۴۵
د زکات مسائل............................................................ ۴۵
په څومره سرو زرو باندې زکات کیږي؟............................................................ ۴۵
زکات په کومو لارو کې مصرفولی شو؟............................................................ ۴۵
دعمر بن عبدالعزیز (عمر ثاني) خلافت............................................................ ۴۶
حضرت بي بي فاطمې (رض) د حضرت علي (رض) څخه انار وغوښتل............................................................ ۴۶
دقرآن کریم مسائل............................................................ ۴۷
دسورت یاسین لوستل د قران کریم دلسو سپارو دویلو ثواب لري............................................................ ۴۷

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د قرآن کريم صحيح لوستل ........ ۴۸
د قرآن کريم د ختم ترتيب ........ ۴۹
د قرآن کريم د سورتونو گټې ........ ۵۰
په هغو کورونو کې چې سورة بقره لوستل کيږي نو هغه ته شيطان نه داخليږي ........ ۵۰
د الهٰکم التکاثر سورت د قرآن کريم د زرو آياتونو سره برابر دی ........ ۵۰
د زلزال سورت لوستل د قرآن کريم د نيمې برخې برابر دی ........ ۵۱
رسول الله ﷺ به کوم سورتونه ډېر زيات خوښول؟ ........ ۵۲
د الملک (تبارک الذی) سورت فضيلت ........ ۵۳
د تلاوت سجده څه ډول اداء کيږي ........ ۵۳
د قرآن کريم او پيغمبرانو مسائل ........ ۵۳
څو پيغمبران پېژنئ؛ نومونه يې واخلئ؟ ........ ۵۳
د قرآن کريم په سمه توگه ويل واجب دي ........ ۵۵
ذکر کول او د هغې گټې ........ ۵۵
په کومو ځايونو کې چې ذکر کيږي ملائکې هغه ځای کې راغونډيږي ........ ۵۲
بسم الله الرحمٰن الرحيم او د مار ، ماته خوړل ........ ۵۷
د آية الکرسي ويل د تيږو کلا جوړوي ........ ۵۸
د لا حوله ولاقوة الا بالله.... په ويلو سره د زندان څخه آزاد شو ........ ۵۸
حضرت ابراهيم عليه السلام د الله (ج) په نوم خپله تو له شتمني وبخښله ........ ۵۹
دروژې مسائل ........ ۶۰
آيا روژتي خپله ښځه ښکلولی شي؟ ........ ۶۱
يو سړي روژه وخوړله نو رسول الله ته يې وويل چې هلاک شوم ........ ۶۲
په هلک او انجلۍ باندې کله روژه فرض کيږي؟ ........ ۶۳
د روژه خور سزا ........ ۶۳
د تراويح دلمانځه دعاء ........ ۶۳
لوی (کبيره) گناهونه ........ ۶۴

دکبیره گناهونو سزا ........................................................ ۶۴
هر نشه کونکی شی شراب دي ........................................................ ۶۴
شراب خور د زنا کار څخه بد تر دی ........................................................ ۶۵
دشراب خور کورته د حضرت عمر (رض) کتل ........................................................ ۶۵
د واده لرونکي زنا کار سزا څه ده؟ ........................................................ ۶۶
دمجرد زنا کار سزا څه شی ده؟ ........................................................ ۶۶
د زنا ضرر ........................................................ ۶۷
د زنا کار درې نصیحتونه ........................................................ ۶۷
دقمار باز سزا څه ده؟ ........................................................ ۶۷
دلواطت کار سزا څه ده؟ ........................................................ ۶۸
حضرت علي (رض) لواطت کونکی سوځولی وو ........................................................ ۶۸
دلواطت زیانونه ........................................................ ۶۸
دقاتل سزا څه شی ده؟ ........................................................ ۶۹
د غل سزا څه شی ده؟ ........................................................ ۶۹
رسول الله ﷺ وایي که چیرته زما لور (فاطمه (رض) ) هم غلا وکړي نو لاس یې غوڅوم ........................................................ ۶۹
دلاس دغوڅولو دسزا حکمت او نورې سزاګانې ........................................................ ۷۰
دکوم شرعي عذر څخه پرته دلمونځ نه کونکي سزا ........................................................ ۷۰
دیولمونځ نه کوونکي کیسه چې د زنا کار څخه بدتره دی ........................................................ ۷۱
رسول الله ﷺ گنهگار سړي ته وویل چې دروغ مه وایه ........................................................ ۷۲
د رسول الله ﷺ په وړاندې بدترینه اخلاق دروغ ویل دي ........................................................ ۷۲
توبه وکړئ الله (ج) مهربان دی ........................................................ ۷۲
بدکاره ښځې سپي ته اوبه ورکړي نو الله (ج) ورته بخښنه وکړه ........................................................ ۷۳
د یونس (ع) توبه ویستل دماهي په ګېډه کې ........................................................ ۷۳
دوهم فصل ........................................................ ۷۵

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

زړه راښکوونکې کیسې ........................................ ۷۵
د مشکلاتو دعا او د دنیا او آخرت آرزو ګانې (غوښتنې) ........................................ ۷۵
حَسبِیَ اللهُ لا اله الا هُو عَلیهِ توکّلتُ وَهُوربُ العَرشِ العَظِیم ........................................ ۷۵
د شیطان د شر څخه حفاظت ........................................ ۷۵
د سرو زرو په تخته باندې د سرو زرو پندونه (نصیحتونه) ........................................ ۷۶
جنتي انسان ته پنځه خصلتونه ورکول کیږي ........................................ ۷۶
مسلمان باید رسول الله ﷺ و پېژني ........................................ ۷۷
رسول الله ﷺ د نورو پیغمبرانو څخه پنځه ځانګړي خاصیتونه لري ........................................ ۷۸
د ثوبان (رض) ملګرتیا د رسول الله ﷺ سره ........................................ ۷۹
په رسول الله ﷺ فخر وکړئ ........................................ ۷۹
کبرجن انسانان وپېژنئ ........................................ ۸۰
د رسول الله ﷺ کړنلاره ........................................ ۸۰
رسول الله ﷺ دوژلو څخه ډډه کړې ده ........................................ ۸۰
د الله (ج) څخه پرته نور څوک په غیبو باندې نه پوهیږي ........................................ ۸۱
د رسول الله ﷺ مبارک غاښ ........................................ ۸۱
د رسول الله ﷺ ورزش او منډه وهل ........................................ ۸۱
د رسول الله ﷺ توکې ........................................ ۸۲
د یوې اوښې بچې درکوم ........................................ ۸۲
ته ښایسته یې که ښځه دې؟ ........................................ ۸۲
په ورزش کې د رسول الله ﷺ پهلواني ........................................ ۸۲
رسول الله ﷺ به خشاک (خس) راټول ........................................ ۸۳
د رسول الله ﷺ غېږه نیول ........................................ ۸۳
یو سړي وویل زه نکاح (واده) نکوم، بل وویل چې زه روژه نیسم، بل وویل چې زه همیشه لمونځ کوم ........................................ ۸۳
یو ځوان د رسول الله ﷺ څخه د زنا کولو اجازه وغوښتله ........................................ ۸۵

خپله گناه مه ښکاره کوئ............................................................ ۸۵
الله(ج)، رسول الله ﷺ، ابوبکر صدیق (رض) او... درې شیان خوښوي.................... ۸۵
په اسلامي طریقه سره سلام اچول............................................................ ۸۶
په علي (رض) باندې، د عمر (رض) سلام اچول............................................ ۸۶
یو یهودي په رسول الله السام علیکم وویل................................................... ۸۷
رسول الله ﷺ به څه ډول سترې مه شې کوله................................................ ۸۸
مکمل سلام اچول د برش درجې ثواب لري.................................................... ۸۸
د رسول الله ﷺ ډوډۍ خوړل.................................................................. ۸۹
خپله گېډه په درې برخو باندې وویشئ......................................................... ۹۰
د ډوډۍ خوړلو دعاء له یاده مه باسئ!........................................................ ۹۱
هغه څوک چې نه مړیږي.......................................................................... ۹۱
د ډوډۍ خوړلو آداب.............................................................................. ۹۳
د پرنجي دعاء...................................................................................... ۹۴
کورته د ننوتلو دعاء............................................................................... ۹۴
د کور څخه د وتلو دعاء........................................................................... ۹۵
هغه دعاء دا ده: بسم الله توکلتُ علی الله لا حولَ ولا قوةَ الا بالله..................... ۹۵
د رسول الله د ویده کېدو طریقه................................................................ ۹۵
څوک چې خوبویني.............................................................................. ۹۵
بیهوده خوبونه...................................................................................... ۹۶
د اعرابي څو پوښتنې او د رسول الله ﷺ ځوابونه.......................................... ۹۶
صحابي چا ته ویل کیږي؟......................................................................... ۹۷
حضرت ابوبکر صدیق (رض)..................................................................... ۹۷
رسول الله ﷺ به د ابوبکر صدیق (رض) ډېر احترام کولو.................................. ۹۷
د حضرت ابوبکر صدیق (رض) علم او پوهه.................................................. ۹۸
څوک د رسول الله ﷺ سره مینه لري؟.......................................................... ۹۸

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دابوبکر صدیق (رض) پندونه او نصیحتونه........ ۹۹
رسول الله، به په سرپو کې، دچا سره ډېره مینه درلوده؟........ ۱۰۰
دابوبکر صدیق (رض) ژړا........ ۱۰۰
پنځه(۵) تیارې او پنځه(۵) رڼاګانې........ ۱۰۱
حضرت ابوبکر صدیق (رض) دخلافت په وخت کې........ ۱۰۱
ابوبکر صدیق (رض) خپلې ژبې ته سزا ورکوي........ ۱۰۲
دابوبکر صدیق (رض) په وخت کې به دړندو ښځو سره کومک کېدو........ ۱۰۲
امیر المؤمنین حضرت عمر (رض)........ ۱۰۳
دحضرت عمر (رض)، پندونه........ ۱۰۳
عمر (رض) غوښتل چې دابوبکر صدیق (رض) څخه مخکې شي........ ۱۰۴
هغه سړی چې دعمر (رض) دکور په څنګ کې تېرېده........ ۱۰۴
دنیل دسیند جریان دعمر (رض) په خط سره........ ۱۰۵
حضرت عمر (رض) او دخلکو غمخواري دهغه دخلافت په وخت کې........ ۱۰۵
حضرت عمر (رض) به دخپل غلام سره نوبت کوو........ ۱۰۶
د حضرت عمر (رض) د اولادونو پېوندي جامې........ ۱۰۷
د حضرت عمر (رض) جامې........ ۱۰۷
دحضرت عمر (رض) خلافت........ ۱۰۸
دحضرت عمر (رض) ترټولو غوره خاطره........ ۱۰۸
حضرت عثمان (رض)........ ۱۰۸
دحضرت عثمان (رض) ژوند........ ۱۰۹
دعثمان (رض) تجارت او رښتینولي........ ۱۰۹
حضرت علي (رض)........ ۱۱۰
دحضرت علي (رض) نصیحتونه........ ۱۱۰
دحضرت علي (رض) زړورتوب او حوصله........ ۱۱۱
حضرت علي (رض) به د ویده کېدو څخه مخکې درې ځلې آیة الکرسي لوستله ۱۱۲

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مړو به د حضرت علي (رض) سره خبرې کولې........................ ۱۱۲
حضرت علي (رض) وايي زما څخه څلور شيان زده کړئ.................. ۱۱۲
نهه(۹) شيان د ياده و يستلو سبب گرځي................................. ۱۱۳
د فرضو ، واجبو او سنتو ترمنځ څه توپير دی................................ ۱۱۳
مفسد څه شی دی............................................................ ۱۱۴
فتواء څه ته وايي؟............................................................ ۱۱۴
مباح څه ته وايي؟............................................................. ۱۱۴
مستحب څه ته وايي؟.......................................................... ۱۱۴
اجماع څه ته وايي؟............................................................ ۱۱۵
قياس څه ته وايي؟............................................................. ۱۱۵
مجتهد چاته وايي؟............................................................. ۱۱۵
څو ډوله دينونه موجود دی؟.................................................... ۱۱۵
ايمان څه شی دی؟............................................................ ۱۱۵
اسلام څه شی دی؟............................................................ ۱۱۵
پېغمبر چا ته ويل کيږي؟....................................................... ۱۱۲
مذهبونه......................................................................... ۱۱۲
ملائکې څوک دي؟............................................................. ۱۱۲
دأحد غر......................................................................... ۱۱۷
دلقمان حکيم صيب پندونه...................................................... ۱۱۸

## لومړی فصل

### دغوسل ،اودس ، لمونځ مسائل ،قصې او لسګونه نور مهم مسایل

رسول الله اکرمﷺ فرمایلي دي:
که غواړئ چې شیطان مو کور ته داخل نشي نو سورت بقره وایئ.(مسلم)
که غواړئ چې سکون درباندې نازل شي نو سورت کهف لولئ.(بخاري)
که غواړئ چې اویا زره پرښتې درته دبښنې او مغفرت دعا وکړي نو سورت دخان لولئ.(ترمذي)
رسول اللهﷺفرمایلي دي:هرمهم کار چې په بسم الله سره شروع نشي نو هغه بې برکته وي
که غواړئ چې وړیا او مفت اجر او ثواب لاسته راوړې نو ،نور خلک نیکو کارونو ته دعوت کړئ.(مسلم)
رسول اللهﷺفرمایلي دي چې:هر څوک چې دلمونځ لحاظ نه ساتي نو دقیامت په ورځ به دفرعون ، هامان او أبی ابن خلف سره دده حشر وي.(أحمد )
آیا پوهیږئ هر څوک چې دمرګ څخه وروسته هغه په نیکئ سره یاد کړي نو هغه جنتي دی.(مسلم)
رسول اللهﷺفرمایلي دي:هرڅوک چې دالواقعه سورت هره شپه وایي نو هیڅکله به درته فقر او غربت ونه رسیږي.(ابن مسعود )
او ابن مسعود (رض) به خپلو لونو ته امر کوو چې هره شپه دغه مبارک سورت لولئ.
حضرت محمدﷺفرمایلي دي:چې د (سبحان الله والحمد الله ولااله الا الله والله اکبر) ویل ګناهونه داسې رژوي لکه څنګه چې په یخنئ کې دونو پاڼې رژیږي.(انس رض)

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

که غواړې چې الله (ج) درته لس ځله د قران کریم د ختم ثواب درکړي نو سورت یاسین لوله. که غواړې چې اویا زره پرښتې تا سو ته د مغفرت دعا وکړي نو د مریض پوښتنه کوه.
هر څوک چې لاندې ایت لولي نو اویا زره ملایکې (پرښتې) به ورته د مغفرت دعا کوي، هر څوک چې درې ځله (اَعُوذُ بِاللهِ سمیع العلیم مِنَ الشَّیطانِ الرَّجیم) ووایي او بیا په اخره کې حشر سورت اخر ایت سهار او ماښام یو ځلې ولولي نو اویا زره ملایکې به ورته د سهار څخه تر ماښام او د ماښام څخه تر سهاره پورې د مغفرت او بخښنې دعا کوي او که په دغه ورځ مړ شي نو د شهادت مرتبه ورته خاصلیږي (ترمذي)
(هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَ الشَّهَادَةِ ۚ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ۝ هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ السَّلٰمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ۝ هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ؕ يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ۚ وَ هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ۝)
ژباړه: پر ته د الله (ج) څخه بل معبود نشته هغه په پټو او ښکارو باندې پوه دی او هغه ډېر مهربانه او بښونکې دی، پرته د هغه څخه بل معبود نشته هغه پادشاه او مالک ډېر پاک او بې له عیبه دی، او پناه ورکونکی او ساتونکی دی، هغه غالب (برلاسی) قوي او خرابیو سمونکی دی، هغه ډېر لوی او د شرک څخه پاک دی. هغه الله (ج) پیدا کوونکی او جوړونکی د صورت ورکونکی دی، هغه لپاره ښکلي نومونه دي، هر هغه څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي د هغه ستاینه کوي او هغه غالب (برلاسی) دی او د حکمت والا دی.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## هغه څوک چې لمونځ له کوي

سهار به یې مخ بې نوره وي ،ماسپښین به یې په رزق کار وبار کې برکت نه وي،ماذدیگر به یې ذهني او فزیکي قوت کمیږي ،مابنام به دخپل اولاد څخه خیر نه گوري او ماخوستن به په خوب کې ناراحته وي

هغه گټې چې لمونځ کونکي ته ورکول کیږي

لمونځ کونکي لپاره دالله (ج) له طرفه پنځه شیان ورکول کیږي پریمانه رزق ، دقبر عذاب ور څخه لرې کیږي، عملنامه به ورته دقیامت په ورځ په ښي لاس کې ورکول کیږي ،دپل صراط څخه به دبرق په شان تیریږي او بغیر دحساب او کتاب څخه به جنت ته داخلیږي

دُنیوي سزا هغه چاته چې په لمونځ کې سستي کوي

دژوند څخه یې برکت پورته کیږي، بې نوره به وي، دنیکو عملونو اجر نه ورکول کیږي ،دعا یې نه قبلیږي او دصالحانو بندگانو په دعا کې برخه نه لري

دمرگ په وخت کې درې عذابه

په زلت او سختۍ سره مړ کیږي،وږې به مري، په سخته تنده کې به مرې ، قبر به وربانديې دومره راتنگ شي چې د سینې هډوکي به یې یو په بل کې دننه شي ،په قبر کې به یې اور وي،په قبر کې به یې داسې یو وحشتناک مار وي چې دهر لمونځ دقضاء کېدلو په سبب به ورته دهر لمانځه په وخت کې نېش او ټک ورکوي

درې عذابه دقبر څخه دراپورته کېدلو څخه وروسته

حساب او کتاب به ورسره سخت کیږي،دالله (ج) دقهر او عصې سبب کیږي او په جهنم کې به غورځول کیږي

عَجّلوبِالصّلوةِ قبلَ المَوتِ عَجلوبِالتّوبَةِ قبلَ الفَوتِ

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## دغسل طريقه او نبوي حديثونه

عايشه (رض) وايي: رسول الله (ص) به چې کله غسل کولو نو لومړی به يې دواړه لاسونه وينځل بيا به يې په چپ لاس استنجا کوله، بيا يې اودس کولو لکه لمونځ ته به يې چې کولو، بيا به يې اوبه دخپل سره په وينښتانو باندې اچولې او په خپلو ګوتو باندې به يې هغه ښه مښل ترڅو چې ښه مطمئن شو چې اوبه يې دويښتانو لاندې رسېدلې دي، بيا به يې په دواړو لاسونو باندې اوبه راواخيستي او درې ځلې به يې په خپل سر باندې اچولې بيا به يې په ټول بدن باندې اوبه اچولې او په اخره کې به يې خپلې پښې وينځلې. (مسلم)

دجنابت په غسل کې درې شيان فرض دي، دخولې وينځل، دپوزې وينځل او دټول بدن وينځل که زمونږ په بدن باندې دويښته په اندازه هم يو ځای وچ پاتې شي نو زمونږ غسل نه کيږي نو بايد توجه وکړو او نورو ته يې هم ورزده کړو.

په غسل کې پنځه شيان سنت دي: د دواړو لاسونو وينځل مخکې دغسل دشروع کولو څخه، دنجاست لرې کول، استنجا کول، اودس کول دغسل دشروع کېدو څخه مخکې، په ټول بدن باندې داوبو درې ځله اچول.

دغسل ترتيب: ووايئ نيت کوم چې اودس (غسل) وکړم لپاره ددې چې بدن مې پاک شي اولمونځ راته روا شي، اودس وکړئ مګر دخولې او پوزې په وينځلو کې پوره توجه وکړئ او درې ځلې په خپل سره، بيا درې ځلې په ښي اوږه او درې ځلې په چپه اوږه اوبه واچوئ او په اخره کې خپلې پښې ووينځئ.

توجه: دجنابت دغسل دشروع کېدو څخه مخکې بايد بولې وشي، دغسل په وخت کې بايد ګوتمه او يا هغه شيان چې دغوږ پورې يې نښتي دي بايد وويستل شي او يا بې ځايه شي تر هغې لاندې ځای بايد لوند شي که وچ پاتې شي نو زمونږ غسل نه مکمليږي دښځو لپاره په تړلو کمو څيو سره غسل کول جواز لري په هغه صورت کې چې اوبه يې په ښه ډول سره دويښتانو بېخ ته لاړې شي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

که چیرته دبدن په یوه برخه مو نجاست تګ کړی وي نو هماغه ځای باید د غسل څخه مخکې ووینځئ او د نو (ناف) منځې برخه هم باید ووینځل شي.
یو اعرابي درسول اللهﷺ څخه پوښتنه وکړه غواړم چې رزق مې زیات شي؟ رسول اللهﷺ ورته وویل: همېشه په اودس کې اوسه ،بیا یې پوښتنه وکړه غواړم چې دقیامت په ورځ دالله(ج) سره دا رنګه ملاقات وکړم چې زما څخه راضي وي؟رسول اللهﷺ ورته وویل چې وروسته دجنابت څخه فوراً غسل کوه.
مسواک وهل او غاښونو پاکول دغسل او اودس څخه مخکې زیات ثواب لري،دجنابت څخه مخکې ژرترژره غسل کوئ زیات مسلمانان په زلزله،دغلو پواسطه او دنورو مصیبتونو په واسطه دجنابت په حالت کې مړه شوي دي.
هر وخت چې یو مسلمان په جنابت کې وي ژرتر ژره باید غسل وکړي ښه خبره ده بغیر دهغې څخه دیو لمانځه دوخت څخه تر بل لمانځه تر وخته پورې باید پاتې نشي.دروژه داره شخص لپاره غسل او لامبا کول جواز لري؟دضرورت په وخت کې غسل کول جواز لري. که په اوبو کې داسې شی چې وینه ونه لري مړ شي لکه ماشی ،مچی،مچ او یا داوبو څخه دباندې مړه شي او په اوبو کې وغورځېږي نو اوبه پرې نه چټلېږي او غسل او اودس په دې اوبو باندې جواز لري.
دانسانانو پاتې شونې اوبه پاکې دي که مسلمان وي یا کافر ،دحیض په حالت کې وي او که دجنابت په حالت مګر هغه چې خوله یا لاس یې په نجاست ککړ وي.
صحابي روایت کړی: ام حبیبه ته مې وویل آیا پیغمبرﷺ په هغه لباس کې چې دخپلې بیبي سره یې پکې جماع کوله په هغې کې لمونځ کولو ؟ویې ویل:هو په هغه صورت کې چې پلیتي ورباندې نه وه.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

رسول اللهﷺ ویلي دي: الله (ج) په حیا او پرده کې دی ،حیا او پرده پوشي خوښوي او هر وخت چې یو له تاسو څخه غسل کوي باید ځان له خلکو څخه پټ کړي(ابوداوود)

سري باید ځان پاک کړي بني اسرائیلو داسې ونه کړه
نو ښځې یې په زنا کې اخته شوې

رسول اللهﷺ فرمایلي دي چې: خپل لباسونه واغوندئ ،ویښتان مو لنډ کړئ، مسواک ووهئ او نظافت مراعت کړئ او خپل ځانونه ښایسته کړئ بني اسرائیلو داسې ونه کړه.دنظافت دنه مراعت کولو په سبب یې ښځې په زنا کې اخته شوې(ابن عساکر علي(رضي الله عنه)

## دجمعې په ورځ غسل کول صحت ته ګټه رسوي

رسول اللهﷺ فرمایلي دي: په هر مسلمان باندې لازم دي چې په هفته کې یو ځل غسل وکړي، دسر ویښتان او ټول بدن پاک کړي(بخاري او مسلم ابوهریره)
عایشه (رض) وايي:هر کله به چې محمدﷺ څه خوړل اویا غوښتل به یې چې څه وخوري نو اودس به یې کاوه لکه دلمونځ داودس په شان(بخاري)
درسول اللهﷺ څخه روایت دی:پاک کړئ خپل ځانونه ،چې پاک کړي الله(ج) تاسو ،څکه هیڅ داسې بنده نشته چې پاک ویده شي مګر دا چې پرښته (ملایکه) دهغه په بستره کې ویده شي،نه تیریږي یو ساعت دشپې مګر داچې وایي:یا الله(ج) ببښنه وکړه خپل هغه بنده ته چې پاک ویده دی.

## مسواک اودهغه ګټې

حضرت محمدﷺ فرمایلي دي:که ددې ویره نه وی چې امت مې دمشکل سره مخ نشي نو مابه امر کړی وی چې دهر لمانځه په وخت کې حتماً مسواک ووهئ.(مسلم)

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

حضرت محمدﷺ فرمایلي دي: هغه لمونځ چې په هغه کې مسواک استعمال شوی وي د هغه لمونځ څخه چې په هغه کې مسواک نه وي استعمال شوی اویا برابره غوره او بهتره دی.(بیهقي عایشه (رض))
عایشه (رض) وایي: درسول الله ﷺ عادت دا وو هر وخت به چې د خوب څخه راپاسېده نو داودس څخه مخکې به یې حتماً مسواک وهلو.(ابوداوود)
دعامر بن ربیعه(رض) څخه روایت دی چې وایي: رسول اکرمﷺ به دومره زیات مسواک وهلو چې په روژه کې مې ولیدو نو هغه مې ونشو شمارلی.(ترمذي)
عایشه (رض) وایي: حضرت محمدﷺ د خپل ژوند په اخري شېبو کې مسواک ووهلو چې د خپل ورور عبدالرحمن څخه مې مسواک واخیست ، مسواک وچ وو هغه مې د خپلې خولې په لاړو سره لوند کړ زما د خولې لاړې د هغه مبارک د خولې د لاړو سره ګډې شوې

## څلورشیان دټولو پیغمبرانو سنت دي

اول شرم او حیا ، دوهم دعطرو استعمال ، درېیم مسواک وهل او څلورم نکاح او واده کول.(ترمذي ابوایوب انصاري)
رسول اکرمﷺ فرمایلي: مسواک خوله پاکوي ، دالله درضا سبب ګرځي ، سترګې روښانه کوي او دسترګو دید زیاتوي.(ابوهریره)
رسول اللهﷺ به چې کله د خوب څخه راپاسېده ، مخکې دویده کېدو څخه ، مخکې داوس څخه، دخوړو څخه مخکې ، دخوړو څخه وروسته او هر وخت به چې دکور څخه دباندې وتلو نو مسواک به یې وهلو.

## دمسواک حکمت او په جنګ کې دکفارو تېښته

یو ورځ دکفارو او مسلمانانو جنګ وو ، دکفارو تعداد زیات وو او د مسلمانانو تعداد کم وو ، هیڅ شی پاتې نه و مګر دا چې مسلمانان شهیدان اویا داچې اسیران شي ، دمسلمانانو څخه یو کس وویل: راځئ چې د مرګ څخه مخکې د محمدﷺ یو سنت راژوندی کړو ، محمدﷺ د مرګ څخه مخکې مسواک

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وهلي وو.مسلمانانو مسواکونه دخپلو جیبنو نو څخه راواخیستل او په مسواک وهلو سره یې شروع وکړه،څه وخت چې دکفارو لښکر نژدې شو نو یو بل ته یې وویل هغوي سړي خواره دي،خپل غاښونه زمونږ دخوراک لپاره تېره کوي،هماغه وو چې دمسواک وهلو په حکمت سره دکفارو لښکر ماتې وخوړه او وتښتېدل.

په عربستان کې په یو کنفرانس کې ډاکټرانو اعلان وکړ چې مسواک دکریم پرځای څو برابره زیاتې فایدې لري.

## اودس او دهغې مسائل

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: څوک چې اودس وکړي او بسم الله ووایي اودس یې ټول بدن پاکوي، او هرهغه څوک چې اودس وکړي او د الله (ج) نوم یادنه کړي نو اودس یوازې دهغه غړي پاکوي.(ابو هریره)

رسول الله ﷺ فرمایلي دي اودس کول دخوراک څخه مخکې او وروسته دخوراک څخه فقر او غریبي له منځه وړي دغه عمل دپیغمبرانو سنت دی.(طبراني ابن عباس(رض))

داوداسه دشروع کېدو دعا بسم الله الرحمن الرحیم داوداسه منځ دعا اللهُمّ اجعَلنِی مِنَ التوّابِینَ واجعَلنِی مِنَ المُتَطهِرینَ. یا الله مادتوبه کونکو او پاکانو څخه وګرځوه.

د اوداسه څخه وروسته دعا اَشهَدُ اَن لااِلـهَ اِلا الله وحدَهُ لاشَریکَ لـهُ واشهَدُاَنَ مُحَمَداً عَبدُهُ وَرَسُولهُ.(مسلم)

ابوهریره (رض) وویل رسول اکرم ﷺ راته وویل ای ابوهریره څه وخت چې اودس کوې نو بسم الله او الحمد لله وایه ترڅو چې په اوداسه کې وې نو ساتونکې ملایکې به دې اعمال لیکي.

څوک چې دشپې په اودسه کې ویده شي او مړ شي نو شهید دی.

داوداسه څخه وروسته د دانا انزلنا..... لوستل د ډېر ثواب لري
رسول الله ﷺ خپلو يارانو ته وويل فرض کړئ چې ستاسو د کور مخکې د اوبو يوه وياله ده او هر ورځ تاسو په هغې کې لامبې نو ايا ستاسو په بدن به خيره پاتې شي؟ صحابه و وويل نه يا رسول الله ﷺ نو رسول الله ﷺ وويل چې اودس او پنځه لمونځونه هم په همدې ډول تاثير لري
اودس څو فرضونه لري؟ اودس څلور فرضونه لري: د مخ وينځل د يو غوږ د نرمۍ څخه تر دبل غوږ نرمۍ پورې او دزنې دلاندنۍ برخې څخه ترد تندي اخري برخې پورې، دلاسونو وينځل ترڅنگلو پورې، د سر دڅلورمې برخې مسحه کول او د پښو وينځل ترښنگرو پورې که ددې څلورو فرضونو څخه يو ته سمه توجه ونشي نو لمونځ نه کيږي
داوداسه سنتونه: دبسم الله ويل ،دواړه لاسونه تر مړوندونو پورې وينځل ،مضمضه کول يا خوله وينځل ، مسواک وهل ، استنشاق کول يا پوزه وينځل ،دټول سر مسحه کول ،د هرغړي درې ځلې وينځل ،دغوږونو مسحه کول ، دلاس او پښې دگوتو او دگيرې اخلال کول، په مسلسل ډول سره د هر غړي وينځل دو چپډو څخه مخکې
داوداسه مکروهات: په ناپاکه ځای کې داوس کول، په ښي لاس سره د پوزې پاکول او داودس په وخت کې دُنيوي خبرې کول
داوداسه مستحبات: دښي اندام څخه شروع کول ، دغاړې مسح ، قبلې ته کېناستل او په لوړ ځای کې کېناستل
داوداسه ماتونکي کوم دي؟: په ډکه خوله قی کول ، په لمانځه کې په قهقه خندا کول ،تکيه کول په داسې شي باندې چې که لرې شي نو غورځيږي،د دوه لاروڅخه دڅه شي وتل،لېونتوب، بېهوشي ،دبدن وينې کېدل او دخپل ځای څخه تګ کول ،او وينو او زوو راوتل دبدن څخه.
که دچا دياده وتي وي چې اودس لري او که نه نو څه بايد وکړي؟ يقين شرط دی.

آیا دهغو حیواناتو په پاتې شونو اوبو باندې چې غوښه یې حلاله وي اودس او غسل کیږي او که نه؟
هو، دهغو حیواناتو پاتې شونې اوبه چې غوښه یې حلاله وي لکه غوا، پسه، او داسې نور اودس او غسل کیږي په هغه صورت کې چې چټلي دحیوان په خوله یا په اوبو کې ونه لیدل شي.
آیا درنګ ناخون سره اودس او غسل کیږي او که نه؟ نه، نه کیږي، رنګ ناخون یا دنوکانو رنګ باید په اسیتون یا په نورو لرې کونکو مواد باندې پاک شي.
آیا داسپ، خر او قچر پاتې شونې پاک دي؟ هو په هغه صورت کې چې اوبه نه وي پاک دي.
آیا په نیمه لوټه اوبو اودس کیږي؟ هو په دې شرط چې دټول بدن اندامونه یې لانده شي دضرورت په وخت کې.
آیا دپیشو پاتې شونې پاکه ده؟ دپیشو پاتې شونې مکروه ده یعنې که نورې اوبه وي نو بهتره ده چې هغه استعمال شي، کورني چرګان چې هر طرف ته ځي نو دهغو پاتې شونې مکروه ده.
که چېرته زمونږ اودس دېر تنګ وي نو زمونږ لمونځ کیږي؟ نه، باید اودس وکړو.
هغه څوک چې اودس نشي وچولی څه باید وکړي؟ باید پنځه وخته لمونځ لپاره تازه اودس وکړي.
په کومو اوبو سره اودس نه کیږي؟ هغه اوبه چې سپي پکې خوله وهلې وي یا هغه حیوان چې غوښه یې حلاله نه وي او یا دا چې په اوبو کې چټلي ولیدل شي نو اودس او غسل ورباندې نه کیږي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## دزیاتواوبو مصرفول په اوداسه کې اصراف دی

یوه ورځ سعد بن وقاص (رض) په اودس کې زیاتې اوبه مصرفولې حضرت محمدﷺ دهغه ځای څخه تېرېده نو ورته یې وویل چې ای سعده دا څه اصراف دی، سعد (رض) ورته وویل: ای دالله رسولﷺ آیا داودس په اوبو کې هم اصراف شته، حضرت محمدﷺ ورته وویل: حتیٰ که د دریاب په غاړه هم ناست وی نو ډېرې اوبه مه مصرفوه ځکه چې اصراف دی.(ابن ماجه عبدالله بن عمرو)

هر څوک چې صحیح اودس وکړي او اَشهَدُ اَن لَا اِلٰـهَ اِلّا اللهُ وَاَشهَدُ اَنَ مُحَمَّدًا عَبدُهُ وَرَسُولُهُ ووايي نو د جنت اته واړه دروازې ورته خلاصیږي ،نو دهرې کومې دروازې څخه چې وغواړي داخل دې شي.(مسلم)

## د او داسه څخه وروسته دوه رکعته تحیة الوضوء لمونځ کوی:

حضرت محمدﷺ حضرت بلال (رض) ته وویل چې په څه شي زما څخه مخکې ته جنت ته لاړ یې، زه تېره شپه جنت ته لاړم نو ستا دخپو دحرکت اواز مې زما څخه مخکې واورېده ،بلال (رض) ورته وویل: ای دالله رسولﷺ هر کله چې گناه وکړم نو دوه رکعته دتوبې لمونځ اداء کوم او هرکله چې اودس وکړم نو دوه رکعته تحیة الوضوء لمونځ اداء کوم

## کفار حیران شول چې ولې دمسلمانانو عسکر نه مریضان کیږي

په جنگ کې کفارو ولیدل چې دهغوي عسکر هر وخت مریضان وي نو هغوي تحقیق وکړ چې ولې دمسلمانانو عسکر نه مریضانیږي ،وروسته په دې پوه شول چې هغوي هر وخت اودس کوي ،چې صحتمند دي ،مونږ نشو کولی چې پنځه وخته مسواک ووهو ،مگر کله چې اودس کوو باید خپل غابښونه مسواک کړو اویا یې په گوته سره پاک کړو ،نوزمونږ غابښونه روغ او سالم پاتې کیږي،زمونږ سترگې او زمونږ صورت پاکیږي، الله(ج) چې په کوم شي امر کړی دی په هغه کې خیر دی.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## دتیمم مسائل

دتیمم فرضونه دوه دي ، نیت کول او دوه ځلې لاسونه ځنډل په کوم وخت کې تیمم داودس او غسل پرځای کیږي؟په هغه صورت کې چې اوبه نه وي اویا اوبه دیو میل (۱۲۰۹ متره) په اندازه لرې وي ،یا دمرګ خطر نه وي اویا سخته مریضي نه وي اویا جنازه تیاره وي

تیمم څه ډول وهل کیږي

لو مړی به نیت کوې‌نیت کوم لپاره ددې چې اداکړم دوه ضرب (دلاسونو وهل په ځمکه) دتیمم ترڅو بدن مې پاک شي او لمونځ راته روا شي.بیا به بسم الله ووایې بیابه دواړه لاسونه په پاکه ځمکه یا هغه شی چې دخاورې څخه جوړ شوی وي په لاسونو به خپل مخ مسح کړې په دوهمه ضربه کې به لاسونه دنوکانو څخه تر څنګلو پورې مسح کړې هغه شیان چې دځمکې له ډلې څخه دي لکه خښته،خاوره، شګه ، تیږه،چونه اوداسې نور په دوي باندې تیمم جواز لري

دغسل او اودس تیمم یو شانته کیږي

یو کیلومتر څو متره کیږي؟ یو کیلو متر (۱۰۰۰) متره کیږي

یو جریب څو بیسوې کیږي؟ یو جریب (۲۰) بیسوې کیږي

یوه بیسوه څو متره مربع کیږي؟یوه بیسوه (۱۰۰) متره مربع کیږي

یو میل څو متره کیږي؟ یو میل (۱۲۰۹) متره کیږي

دعاېشې (رض) په برکت دتیمم آیت نازل شو

په یو سفر کې دعاېشې (رض) دغاړې دسمال ورک شو ،نو حضرت محمدﷺ په هغې پسې ګرځېده ناوخته شو حضرت محمدﷺ خپل سر دعاېشې (رض) په زنګون باندې کېښودلې وو ،خوب یوړو صحابه وو دغه حالت دعاېشې (رض) پلار ابوبکر صدیق(رض) ته بیان کړ ،نو اوبکر صدیق(رض) دخپلې لور په خوا

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کې کېناست او دهغې څخه يې پوښتنه وکړه چې ولې دې داالله رسولﷺ وځنډاوه اوبه نه لرې دلمونځ وخت دی، عايشې (رض) ورته وويل په دې خاطر چې حضرت محمدﷺ دخوب څخه بېدار نشو او حرکت مې ونه کړنو هماغه وو چې الله(ج) مهرباني وکړه او دتيمم آيت يې نازل کړو . هغوي تيمم وکړ او لمونځ يې اداء کړ.

## بيت الخلا (تشناب) دتلو طريقه

رسول اکرمﷺ فرمايلي دي هرڅوک چې تشناب ته داخليږي نو اول بايد دا دعا ووايي (اللهم اني اعوذ بك من الخبث والخبائث) يا الله(ج) تاته پناه وړم دنارينه او ښځينه پېريانو څخه

بي بي عايشه (رض) وايي څه وخت به چې رسول اللهﷺ دبيت الخلا څخه راوته نو غفرانک (بخښنه غواړم له تا څخه يا الله) به يې وويل ،تاسو هم په چپه پښه داخل شئ او په ښي پښه راووځئ او قبلې ته مخ او شا مکرځوئ حضرت محمدﷺ به نيک کارونه په ښي لاس کول او د اودس ماتي، استنجاء او نورو په شان کارونه به يې په چپ لاس سره کول.

دقيامت په ورځ به د ګنهګارو انسانانو عملنامه په چپ لاس او دنيک او صالح انسانانو عملنامه به په ښي لاس ورکول کيږي.

## دمسجد اداب او دهغې په اړه حديثونه

هرکله چې مسجد ته داخليږئ نو دا دعا لولئ اللهم افتح لي ابواب رحمتك يا الله(ج) ما ته ستا درحمت دروازې پرانيزه.

څه وخت چې دمسجد څخه راوځئ نو دا دعا لولئ اللهم اني اسئلك من فضلك يا الله(ج) ستا څخه د فضليت سوال کوم.(مسلم)

حضرت محمدﷺ فرمايلي دي څه وخت چې مسجد ته ننوځئ نو مخکې له دې چې کېنئ نو دوه رکعته تحية المسجد وکړئ.(بخاري او مسلم ابو قتاده)

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دتحية المسجد لمونځ مخکې د سهار دلمانځه ،ماښام دلمانځه اويا دا چې جمعه ولاړه وي نه اداء کيږي

## صف جوړول

مسلمانان بايد په صف کې نيغ او سيده ودريږي اوږې بايد يو دبل سره ونښلوي ترڅو چې د دوه کسانو په منځ کې تش ځاى پاتې نشي هرکله چې اقامت وويل شي نو فوراً دې نيت وتړل شي ځکه چې تکبير اولى دهغه څه څخه چې په دنيا کې دي بهتره دى،دلمونځ صفونه بايد د پښنو په پوندو او داوږو په سيده والي سره برابر شي نه دپښو په ګوتو سره ،صحابه به يو دبل سره داردنګه نژدې ودريدل چې قميسونه به يې داوږو څخه څيرې کيدل،تردې چې درسول اللهﷺ موءذن به په صفونو کې ګرځيده دچا به چې پوندې دصف څخه دباندې وې نو صف به يې سيده کوو.

دعمر (رض) په وخت کې دصفونو دجوړولو لپاره يو کس مقرر شو څه وخت به چې صفونه تيار شول نو تکبير به ويل کيده،نور صفونه بايد دمنځ څخه يا دامام څخه ورسته ودريدل ،مثلاً لومړى صف به چې تيار شو نو دوهم ،دريم ،څلورم اونور صفونه به ودريدل.

که په لومړي صف کې ځاى خالي وي نو په دوهم صف کې ودريدل مکروه دي دلمانځه صفونه موسيده او مساوي کړئ اوکه داسې مو ونه کړ نو الله(ج) به ستاسو په زړه کې کينه او دوښمني پيدا کړي(متفق عليه)

رسول اکرمﷺ فرمايلي دي:الله(ج) په اول صف باندې رحمت کړى دى او ملايکې هم اول صف ته درحمت دعا کوي (احمد)

دامام پسې بايد عالم ودريږي ځکه که ضرورت شي نو امام به هغه په خپل ځاى کې دامامت لپاره ودروي په قيام کې بايد نظر دسجدې ځاى ته وي،په حديث شريف کې راغلي دي چې که څوک پوهيدلى چې دلمونځ کونکي دمخې څخه

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

تېرېدل څومره ګناه لري نو تر۲۰ کالو پورې به په خپل ځای ولاړ وي او دلمونځ کونکي دمخې څخه به نه وي تېر شوی.

حضرت محمدﷺ فرمايلي دي:که څوک مو وليدل چې په جومات کې يې عبادت کاوه نو شاهدي ورکړئ چې نو موړی سړی دايمان خاوند دی(ترمذي)

دقيامت دعلامو څخه يوه داده چې يوکس دمسجد له څنګ څخه تېر شي اودوه رکعته لمونځ پکې اداء نه کړي او يواځې په هغو کسانو سلام اچوي چې دی يې پېژني او څوانانو او ځامنو ته امر کوي او خپل خط رسونکي يې وګرځوي

**مسجد ته تګ جهاد دی**

مسجد ته دسهار او شپې لخوا څخه تګ ،دالله(ج) په لاره کې دجهاد له ډلې څخه دی.

حضرت محمدﷺ فرمايلي دي:داسې يو وخت په خلکو باندې راتلونکی دی هغوي به په جوماتونو کې دُنيوي خبرې کوي تاسو له هغوي سره مه کېنئ څکه چې الله(ج) هغوي ته هيڅ حاجت نه لري(مشکوة)

حضرت عمر (رض) دمسجد څخه دباندې يو ووړوکی دوکان جوړ کړی وو او اعلان يې وکړ چې هرڅوک چې خبرې او شعرونه وايي او يا خپل آواز اوچتوي نو دغه دوکانګي ته دې ننوځي.

حضرت محمدﷺ فرمايلي: جمعه وکړئ څکه هغه پسه چې له رمې څخه جدا شي نو ليوه يې خوري(احمد)

بهترين ځايونه دالله(ج) په نزد مسجدونه دي او بدترينه ځايونه د الله(ج) په نزد بنارونه دي(مسلم ابوهريره)

رسول اکرمﷺ فرمايلي دي؛ هيڅ يو لمونځ دمنافق لپاره دسهار او ماخوستن دلمانځه څخه سخت نه دی،که چيرته پوهېدلی چې څومره اجر او ثواب لري نو که په کنبېدو هم وای نو لمونځ ته به حاضر شوی وی،زړه مې غواړي چې موءذن ته ووايم چې اقامت ووايي او يو څوک منې دخپل ځان پرځای د لمونځ ورکول

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لپاره ودرولی وی او اور مې راخیستی وی هغه کسان چې لمونځ ته نه راځي دهغوي کور ته مې اور اچولی وی.(بخاري او مسلم ابو هریره)

## اودس او لمونځ دګناهونوکفاره ده

حضرت علی (رض) وویل یوه ورځ درسول الله ﷺ سره په جومات کې ناست ووم او دلمانځه لپاره مو انتظار کاوه نو پدې وخت کې یو سړی وویل ما ګناه کړې ده، پیغمبر ﷺ ورڅخه مخ واړوو څه وخت لمونځ خلاص شو دوباره هغه کس تکرار کړه رسول اکرم ﷺ ورته وویل آیا ماسره دې لمونځ اداء کړاو اودس دې سم نه وو، هغه وویل هو، رسول الله ﷺ وویل: هماغه لمونځ او اودس ستا دګناهونو کفاره ده.

## څوک امامت کولی شي؟

رسول اکرم ﷺ فرمایلي دي: ستاسو دقوم امام ستا په منځ کې هغه څوک دی چې زیات قران کریم یې ویلی وي یعنې اول به هغه کس امامت کوي چې دنورو څخه ښه قران کریم یاد ولري، که په قرائت کې سره مساوي وه نو هغه څوک چې په سنتو زیات پوهیږي او که په سنتو کې هم برابر وه نو هغه چا چې اول سفر کړی وي یا یې هجرت کړی وي او که په هجرت کې هم برابر وه نو هغه څوک چې زیات عمر ولري هغه دې امامت وکړي (مسلم)

همدارنګه ویل شوي دي هغه څوک چې تقوا او دخلکو سره نیک اخلاق ولري او خلک دهغه سره مینه لري اویا هغه څوک چې خدمتونه او دیني درجې لري امامت دې وکړي

حضرت محمد ﷺ فرمایلي دي: دالله (ج) په نزد ترټولو بد ترینه کس هغه دی چې زیات جنګ او جدل کوونکی وي (بي بي عایشه (رض))

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## داذان په خوب کښې باید څه ووایو؟

حضرت محمدﷺفرمایلي دي:هر کله چې د اذان اواز واورئ،تاسې هم په خپل زړه کې داذان کوونکي په شان کلمات وایي ،فقط کله چې اذان کوونکی وایي حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ او حَيَّ عَلَى الفَلَاحِ راشئ لمانځه ته راشئ د کامیابۍ لوري ته ،تاسې ووایئ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ العَلِيِّ العَظِيمِ (مسلم حضرت عمر (رض))

حضرت محمدﷺ فرمایلي دي :هر کله مو چې د چرګ اذان واورېده نو دالله نه فضل اورحمت وغواړئ ځکه چې هغوي ملائکې ګوري،او کله مو چې دخره اواز واورېده دالله نه پنا وغواړئ ځکه چې خر شېطانویني(بخاري او مسلم)

کله چې حضرت بلال (رض)په اقامت کې قدقامت الصلاة ته ورسېده نو رسول اللهﷺورته په خواب کې وویل:اقامها الله وادامها الله(ج) دې لمونځ قایم او دایم ولري.

## په قعده کې دګوتې پورته کول د رسول الله ﷺ سنت دي.

حضرت وائل بن حجر وایي: رسول اللهﷺ دوه ګوتو په واسطه کړی جوړه کړه او دشهادت دګوتې په واسطه یې اشاره وکړه.

## دیهودي انجلۍ کیسه چې په اذان عاشقه شوې وه

په یو مسجد کې ښایسته اواز لرونکی او تقوا داره مؤذن وو ،د مسجد ترڅنګ د یو یهودي کور وو کله چې مؤذن آذان کوو ځوانه یهودي انجلۍ په اذان او اسلام مینه شوې وه نږدې وه چې مسلمانه شي په همدې وخت کې مؤذن بدل او بل مؤذن راغی او څو ورځې یې آذان وکړ، د یهودي انجلۍ پلار نوي مؤذن ته تحفه راوړه، مؤذن پوښتنه وکړه داتحفه د څه لپاره ماته راکوې، یهودي سړي ورته وویل: تا لوی خدمت ماته کړی، زما لور د مخکیني مؤذن د

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

اذان په واسطه نژدې وه چې مسلمانه شوې وی، له کومې وخت څخه چې ته په خپله اذان کوې زما لور دې د اسلام څخه بېزاره او زړه توري کړې ده.

## څو ډوله لمونځ پېژنئ؟

فرض لمونځ ، واجب ، سنت ،وتر واجب ، اشراق ، تهجد ،نفل ،شکرانه ،حاجت ،څاښت ، تسبيح ،توبه ،استخاره او اووابين

د لمانځـه نيـت د هغـه کسـانو د پام وړ چـې وايـي څـه ډول د لمانځـه نيـت وکړو ،اصلاً نيت په زړه کې کيږي که څوک په ژبه باندې نيت ونه وايي نو په لمونځ کې يې فرق نه راځي.

## داشرق لمونځ دعمرې ثواب لري

کله چې لمر راوختلو تقريباً ۳۰ دقيقي وروسته دوه يا څلور رکعته لمونځ وکړئ نو درسول الله ﷺ د حديث شريف په اساس د نفلي عمري ثواب لري.

## دڅاښت لمونځ

دڅاښت لمونځ چې د ۲ او يا ۳ ساعته دلمر راختلو څخه وروسته شروع کيږي او چې کله نيم ساعت غرمې يا ماسپښين ته پاتې شي نو ترهغه وخته پورې کيږي.

دغـه لمـونځ د الله (ج) پـه نـزد سـل ثوابونـه لـري چـې ۷۵ ثوابونـه پـه دنيـا او ۲۵ ثوابونه په اخرت کې الله (ج) خپل بنده ته ورکوي هرڅوک چې د دې لمونځ پابند وي نو هيڅ ډول سختي به په دنيا کې ونه ويني ،دغـه لمـونځ ۴ يا ۸ رکعتـه اداء کيږي.

رسول اکرم ﷺ فرمايلي دي هرڅوک چې پـه څلور رکعتـه مخکې د غرمې او څلور رکعته وروسته د غرمې څخه لمونځ باندې پابند وي نو په هغه باندې د جهنم اور حرام دی.(ام حبيبه)

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698
https://t.me/Afghansalarlibrary

## دڅاښت لمونځ وکړئ ترڅو چې رزق مو زیات شي

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: دجنت ددروازو څخه دضحی(څاښت) په نامه یوه دروازه ده چې دقیامت په ورځ به اواز کوي چیرته دي هغه چې دماسپښین په لمونځ پابند وو د غه دضحی دروازه ستاسې لپاره دالله(ج) په رحمت سره خلاصه شوې ده ، پدې دروازه ننوځئ. دڅاښت لمونځ د رزق دپراخوالي سبب ګرځي.(طبراني هابوهریره)

حضرت عایشه (رض) وایي :که مور او پلار مې ژوندي هم شي نو دڅاښت لمونځ نه پریږدم.

حضرت عایشه(رض) وایي:رسول الله ﷺ به زیاتره وخت دڅاښت لمونځ څلور رکعته کوو ،ځنې وخت به یې زیات هم کوو ولې بي بي عایشې (رض) به دڅاښت لمونځ اته رکعته کوو او هغه به یې دومره خوښوو چې ویل به یې: که مور او پلار مې ژوندي هم شي اوزما لیدو ته راشي نوڅاښت لمونځ نه پریږدم.

حضرت عبدالرحمن بن عبدالله (رض) وایي:دحضرت عمر فاروق (رض) تر څنګ وم دغرمې څخه مخکې (څاښت) څلور رکعته لمونځ یې اداکړ ،پوښتنه مې ورڅخه وکړه څې ای امیر المؤمنینه ! دا کوم لمونځ دی؟ راته یې وویل دغه لمونځ په اجر کې دتهجدو دلمانځه سره مساوي دی.

## اووابین لمونځ

په دې لمونځ کې سل اجره دي ،الله(ج) دهغې پنځه اویا(۷۵) اجره په اخرت کې اوپنځه ویشت (۲۵ )اجره په دنیا کې ورکوي،څوک چې ددي لمونځ پابند وي دقیامت په ورځ به سختي نه ګوري.

دغه لمونځ دماښام څخه وروسته دوه ،شپږ اویا ترشلو رکعتو پورې اداء کیږي،داووابین لمونځ د دولسو کالو دعبادت ثواب لري.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هرڅوک چې د ماښام دلمانځه څخه وروسته شپږ رکعته د اووابین لمونځ دارنګه اداء کړي چې ترمنځ یې دنیوي خبرې ونه کړي نو الله (ج) ورته د دولسو کالو عبادت او عمل صالحه ثواب ورکوي (ترمذي ابو هریره)

دتهجد لمونځ څه وخت اداء کیږي؟

دتهجد لمونځ دنیمې شپې څخه وروسته اداء کیږي ،دغه لمونځ دالله په وړاندې خاص ځای لري،هره دُنیوي او اخروي آرزو چې ولرو او دالله (ج) څخه یې په نیمه شپه کې وغواړو نو انشاءالله چې قبلیږي دغه لمونځ دوه، څلور، اته او تر دولسو رکعتونو پورې اداء کیږي

عایشه (رض) وایي:څه وخت به چې دتهجد لمونځ درسول الله ﷺ څخه د مریضی یا کوم بل عذر په اساس قضاء شو نو هغه به یې دورځې دولس رکعته کوو.(مسلم)

حضرت محمد ﷺ فرمایلي:هرڅوک چې دماخوستن لمونځ په جمعې سره وکړي نو نیمې شپې دعبادت ثواب ورته ورکول کیږي او څوک چې دماخوستن او سهار لمونځ په جمعې سره وکړي نو دټولې شپې دعبادت ثواب ورته وکول کیږي(ترمذي)

## الله(ج) په نیمه شپه کې د دنیا اسمان ته راښکته کیږي

رسول اکرم ﷺ فرمایلي:الله (ج) دشپې په درېیمه برخه کې د دنیا آسمان ته راښکته کیږي او وایي چې څوک دی چې دعا وکړي او زه یې دعا قبوله کړم،څوک دی چې څه زما څخه وغواړي او زه یې ورته ورکړم،څوک دی چې دبخښنې غوښتنه وکړي او زه ورته بخښنه وکړم(بخاري او مسلم)

رسول اکرم ﷺ فرمایلي: چا چې دمازدیګر لمونځ له لاسه ورکړ نو داسې ده لکه چې ټول مال اهل او عیال یې له لاسه ورکړي وي(بخاري او مسلم عمر (رض))

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: څوک چې د ماز دیګر لمونځ ادا ، کړي وروسته تر هغې تر غروب (ماښام) پورې ذکر وکړي نو د هغه کس څخه بهتره دي چې د اسماعیل (ع) اته اولادونه د چا څخه خلاص کړي

حضرت محمد ﷺ فرمایلي دي: د سهار دوه کعته سنت لمونځ د ټولې دنیا او هغه څه چې په دنیا کې دي د هغه څخه بهتره دي. (مسلم عایشه (رض))

هرڅوک چې لمونځ پرېږدي نو د الله (ج) سره به په داسې حال کې مخامخ کیږي چې الله (ج) به ورته په غوصه او قهر وي.

## بدترینه غل دلمونځ غل دی

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: بدترینه غل دلمونځ غل دی، صحابه وو پوښتنه وکړه هغه څنګه یا رسول الله ﷺ. حضرت محمد ﷺ وویل: هغه څوک چې سمه رکوع او سجده نه کوي (احمد)

## دتسبیح لمونځ (صلاة تسبیح)

رسول الله ﷺ خپل تره حضرت عباس (رض) ته د تسبیح لمونځ توصیه وکړه او ورته یې وویل هرڅوک چې دغه لمونځ وکړي نو ټول غټ (کبیره) او واړه (صغیره) ګناهونه ښکاره او پټ ګناهونه ورته بخښل کیږي.

که د تسبیح لمونځ په ورځ کې یو ځل اداء شي نو بهتره ده که داسې مو ونشو کړی نو په هفته، میاشت، کال او یا په ټول عمر کې دې یو ځل اداء شي.

دغه لمونځ څلور رکعته دی، لومړی د تسبیح دلمونځ نیت کیږي بیا سبحانک اللهم، اعوذ بالله او بسم الله ویل کیږي، بیا پنځلس (۱۵) ځلې سُبحَانَ الله وَالحَمدُلله وَلَا اِلٰهَ الاالله وَالله اکبر لوستل کیږي، بیا سوت فاتحه (الحمد الله) او بیا قل هو الله احد یا کوم بل سورت لوستل کیږي او بیا لس (۱۰) ځلې سُبحَانَ الله وَالحَمدُلله وَلَا اِلٰهَ الاالله وَالله اکبر لوستل کیږي، بیا په رکوع کې (۱۰) او بیا وروسته د سمع الله .... څخه وروسته لس (۱۰) ځلې بیا په سجده کې لس ځلې بیا چې د دوه سجدو ترمنځ کېنې (په قاعده) کې لس ځلې بیا په دوهمه

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سجده کې لس ځلې پورته کلمات لوستل کیږي، په دې ترتیب په لومړي رکعت کې پنځه اویا (۷۵) ځلې سُبحَانَ الله وَالحَمدُلله وَلَا اِلٰهَ اِلّاالله وَ الله اکبر لوستل کیږي په همدې ډول سره په پاتې درې رکعتونو کې هم همداشان سُبحَانَ الله وَالحَمدُلله وَلَا اِلٰهَ اِلّاالله وَالله اکبر لوستل کیږي، چې ټول درې سوه (۳۰۰) ځلې سُبحَانَ الله وَالحَمدُلله.... لوستل کیږي باید په یاد ولرو چې دغه لمونځ هم لکه د فرض لمونځونو غوندې ډک اداء کیږي او که سُبحَانَ الله وَالحَمدُلله وَلَا اِلٰهَ اِلّاالله وَالله اکبر وَلَا حَولَ وَلَا قُوَّةَ اِلّا بِالله العَلِی العَظِیم ووایئ نو ډېره بهتره خبره ده.

بله طریقه داده چې د قل هو الله احد یا د کوم بل څخه وروسته پنځلس ځلې سُبحَانَ الله وَالحَمدُلله وَلَا اِلٰهَ اِلّاالله وَالله اکبر ووایئ او بیا وروسته له دوهمې سجدې څخه مخکې له دې چې پورته شئ او یا مخکې د التحیات څخه لس ځله سُبحَانَ الله وَالحَمدُلله وَلَا اِلٰهَ اِلّاالله وَالله اکبر ووایئ نوره طریقه مخکینۍ طریقه ده، یعنې په څلورو رکعتونو کې درې سوه (۳۰۰) ځله سُبحَانَ الله وَالحَمدُلله وَلَا اِلٰهَ اِلّاالله وَالله اکبر لوستل کیږي د تسبیح لمونځ د مکروه وخت څخه پرته په ټولو وختونو کې کیږي

د حاجت لمونځ په کوم وخت کې اداء کیږي؟هر کله چې د الله (ج) څخه څه غواړو او یا څه حاجت ولرو نو د دوه رکعته حاجت لمونځ اداء کوو او د الله (ج) څخه دعا کوو.

د شکرانه لمونځ څه وخت اداء کیږي؟هر کله چې الله (ج) زمونږ دعاء یا حاجت پوره کړي نو د نعمتونو، صحت او داسې نورو په خاطر دوه رکعته د شکرانه لمونځ اداء کوو.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## د استخارې لمونځ

داستخارې لمونځ په کوم وخت کې اداء کیږي؟هر کله چې سفر ولرو یا داسې یو مشکل کار ولرو چې زمونږ ذهن په هغه باندې ونه رسیږي نو اول دوه رکعته لمونځ وکړئ اوبیا یوځل سورت فاتحه (الحمد الله) او درې ځلې قل هو الله احد ووایئ بیا په توشکه او الماخې کالیو کې ویده شئ نو څه وخت چې سهار دخوبه راپاڅېدې او هغه څه چې مو په زړه کې راغله نو هماغه کار وکړئ او که څه مو په زړه کې تېر نه شول نو تر اووه ځلې دغه کار ترسره کړئ الله مهربان دی

## دتوبې لمونځ

که ډېر گناهونه درنه شوي وي ،نو دوه رکعته لمونځ وکړئ او په سجده پرېوځئ دالله(ج) څخه بخښنه وغواړئ او دالله(ج) سره وعده وکړئ چې نور به دغه بد عمل نه ترسره کوم نو الله مهربان دی چې توبه دې قبوله شي او که روژه ونیسئ نو ډېره بهتره ده.

یوه ورځ حضرت محمدﷺ ، حضرت بلال(رض) ته وویلې:په څه شي له ماڅخه مخکې جنت ته لاړ یې،زه تېره شپه جنت لاړم ووم نو ستا دپښو آواز مې په مخکې واورېده،حضرت بلال (رض) وویل: ای دالله رسولﷺ هر کله مې چې گناه وکړه نو دوه رکعته دتوبې لمونځ به مې اداء کړ او هر وخت به مې چې اودس وکړ نو دوه رکعته تحیة الوضؤ لمونځ به مې اداء کوو.

## ابوبکر صدیق (رض) به په کراره سره لمونځ کولو

یوه شپه حضرت محمدﷺتیرېده ،ابوبکر صدیق (رض) یې ولیده چې په کراره یې لمونځ کولو او عمر (رض) یې ولیده چې په لوړ آواز سره یې لمونځ کولو دابوبکر صدیق (رض) څخه یې پوښتنه وکړه ،چې ولې په کراره لمونځ کوې؟ ابوبکر صدیق (رض) ورته وویل دهغه چا په صفت چې مشغول وم نو هغه زما آواز اورېده،او عمر (رض) وویل زما نیت دویده کسانو ویښول وو،حضرت

محمدﷺ ابوبکر صدیق(رض) ته وویل چې آواز دې لږ لوړ کړه او عمر (رض) ته یې وویل چې لږ آواز دې کم کړه.
حضرت علي(رض) وايي: هرڅوک چې د سهار د لمانځه څخه وروسته لس(۱۰) ځله قل هو الله احد ووايي نو په همدې ورځ به د ګناه څخه په امان کې وي که شیطان هر څو مره خپل زور وکړي.

## دسجدې او رکوع کتې

رسول اللهﷺ په رکوع او سجده کې څه ویل؟
عایشه (رض) وايي: رسول اکرمﷺ به په سجده کې دغه کلمات ډېر زیات ویل سُبحَانَکَ اللّٰـهُمَّ
وَبِحَمدِکَ الـلّٰـهُمَّ اغفِرلِی ای زما ربه ستا حمد او ثنا وایم ای زما ربه زما ګناهونه معاف کړې (بخاري او مسلم)
او همدارنګه سُبُّحٌ قُدُّسٌ رَبُّ المَلٰئکَةِ وَالرُّوح ډېر پاک او منزه دی رب د عالمیانو، ملایکې او جبرائل دغه وايي. (مسلم)
یوه ورځ رسول اللهﷺ لمونځ کولو څه وخت چې یې خپل سر له رکوع څخه پورته کړ نو سَمِعَ اللهُ لِمَن حَمِدَه یې وویل، دشا یو نفر وویلې ربنا و لک الحمد حمداً کثیراً طیباً مُبارکاً فیه ای ربه تول ثنا او صفتونه ډېر زیات او مبارک دي ستا لپاره. (بخاري)
کله چې رسول اللهﷺ لمونځ خلاص کړ نو وویې وویل: چا داکلمې وویلې، نو یو سړي وویل چې دا ما وویلې یا رسول اللهﷺ، حضرت محمدﷺ ورته وویل چې څو دېرش ملائکې مې ولیدلې چې ددغو کلمو د اجر او ثواب په لیکلو کې یې یو له بل څخه مخکې والی کوو، چې څوک هغه لومړی ولیکي. (بخاري)
ابن عباس (رض) فرمايي: حضرت محمدﷺ به په دواړو سجدو کې اَلـلّٰهُمَّ اغفِرلِی وَارحَمنِی وَاهدِنِی وَعَافِنِی وَارزُقنِی ویلې یعنې ای ربه ما وبخښه، په ما رحم

وکړه او ما نېغې لارې ته هدايت کړه او بخښنه راته وکړه او حلال رزق راته راکړه.(ترمذي ابوهريره)

حضرت محمدﷺ فرمايلي:هرکله چې فرض لمونځ ودرېدو نو سنت لمونځ بايد ونشي.(مسلم)

حارث بن مسلم وويل:رسول الله ماته وويل چې هر کله چې دې دسهار او ماښام لمونځ وکړنو دخبرو کولو څخه مخکې اووه ځلې اللهم اجرني من النار ووايه يعني ياالله(ج) ما د دوزخ داور څخه وژغوره،که په همدې ورځ وفات شوې نو الله(ج) به درته د دوزخ څخه نجات وليکي.

رسول اکرمﷺ فرمايلي دي:څوک چې د ماخوستن لمونځ په جمعې سره وکړي نو دهغه مثال داسې دی لکه څوک چې نيمه شپه لمونځ وکړي او څوک چې د سهار لمونځ په جمعه وکړي نو دهغه مثال داسې دی لکه ټوله شپه چې يې عبادت کړی وي.(مسلم عثمان بن عفان(رض))

حضرت محمدﷺ فرمايلي دي:لمونځ د ټولو خوښيو کلي ده.(ابن عباس(رض))

حضرت محمدﷺ فرمايلي دي: لمونځ د دين ستن ده.(بيهقي عمر (رض))

اووه ځلې تسبيح ويل لوړه درجه لري

دبندګۍ ترټولو لويه نښه په رکوع او سجده کې ده ،سرښکته کول دالله(ج) په وړاندې او سر په ځمکه لګول دالله (ج) په وړاندې دعاجزئ او غاړې ايښودلو نښه ده.

درې ځله تسبيح ويل په رکوع او سجده کې دکمال ترټولو ټيټه درجه ده او پنځه ځله ويل دکمال منځنۍ درجه ده او اووه ځله ويل اعلی يا لوړه درجه ده او که نورزيات تسبيحات ووايئ نو بهتره خبره ده.

رسول اکرمﷺ فرمايلي دي: ماته امر شوی دی چې په اووه غړوباندې سجده وکړم:تندی،د دواړو لاسونو ورغوي،دواړه زنګنونه، اود پښو په ګوتو ،دغه غړي بايد په ځمکه باندې ولګيږي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ورونو او خویندو په سجده او رکوع کې تادي مه کوئ، ځنې ملائکې همېشه لپاره په رکوع او سجده کې دي ،الله (ج) سجده او رکوع زیاته خوښوي.

## دلمانځه فرضونه

په لمانځه کې څو شیان فرض دي؟پنځلس (۱۵) شیان، چې اووه یې په داخل کې او اته یې په خارج کې دي چې خارجي فرائض یې عبارت دي له نیت کول، اودس کول، دجامو پاکوالی، دلمانځه دځای پاکوالی، دلمانځه دوخت پېژندل، دعورت پټول او د قبلې طرف ته مخ کول.

داخلي فرائض یې عبارت دي له تکبیر تحریمه، قیام (ولاړه)، قرائت، رکوع، سجده، اخري قاعده اودلمانځه څخه وتل که مونږ دغه فرائض په سم ډول سره اداء نکړو نو زمونږ لمونځ نه کیږي.

## دلمانځه واجبات

دلمانځه واجبات په دې ډول سره دي:په لومړیو دوه رکعتونو کې دقرائت تعینول، دلمانځه په هر رکعت کې دسورت فاتحې لوستل واجب دي، دفرضو په دوه لومړیو رکعتونو کې او دواجبو ،سنتو او نفلو په هر رکعت کې دسورت فاتحې (الحمد الله...) څخه وروسته دیو سورت لوستل یا دیو لوی آیت لوستل یا د درې کوچنیو آیت لوستل واجب دي، دسورت فاتحې لوستل دسورت څخه، په قرائت کې ترتیب، رکوع ،سجده، قومه یا درکوع څخه وروسته نېغ ودېدل، جلسه یا د دوه سجدو په منځ کې و کېناستل، رکوع او سجده او نور په سم ډول او په ترتیب سره اداء کول ،لومړی قعده یعنې په درې رکعتې او څلور رکعتي لمونځونو کې د دوه رکعتونو څخه وروسته کېناستل او دالتحیات لوستل تر عبده ورسولهپورې ،دلمانځه څخه په السلام علیکم ورحمة الله ویلو وتل او د دعاء قنوت لوستل.

## دلمانځه سنتونه

دلمانځه سنتونه په لاندې ډول دي:دنارينه وو لپاره دتکبير تحريمه نه مخکې د دواړو لاسونو پورته کول تر غوږونو پورې اود ښځو لپاره تر اوږو پورې،دلاسونو دګوتو برابرول په داسې ډول سره چې خوکې يې دقبلې طرف ته وي ،دتکبير تحريمه په وخت کې يعنې کله چې نيت کوو سر بايد ټيټ نشي،د سړيو لپاره دښي لاس کېښودل په چپ لاس باندې دنوم نه لاندې ، دسبحانک اللهم او اعوذ با الله، او دبسم الله ويل ،په سنت طريقه سره قرئت کول،د اعوذ باالله،بسم الله،او آمين ويل په پټه،

او لږ تر لږ په رکوع او سجده کې درې ځلې تسبيحات ويل،په رکوع او سجده کې سر او ملا برابرول، په ګوتو سره زنګنونه نيول، سَمِعَ اللهُ لِمَن حَمِدَه ربَّناوَ لکَ الحَمد ويل، د سجدې په وخت کې اول زنګونونه او وروسته لاسونه او بيا پوزه او په اخر کې تندی لګول په ځمکه باندې،په جلسه اوقعده يعنې په التحيات کې په چپه خپه کېناستل اوښي خپه ودرول چې دخپې ګوتې قبلې ته شي او دواړه لاسونه په ورنونو باندې کېږدئ مګر ښځې بايد په خپلو دواړو پښو باندې کېني ،اول ښي طرف ته او بيا چپ طرف ته سلام ګرځول.

په اخره قاعده کې درود يعنې اللهم صل او اللهم مبارک وو ايي.کله چې په التحيات کې اشهدُ ان لا اله الا لله ته ورسيږئ نو غټه ګوته او منځنۍ ګوته حلقه يا کړۍ کړئ ،کله چې لا اله ته ورسېدې نو دشهادت ګوته پورته کړئ او دالاالله په ويلو سره ګوته ښکته کړئ،مګر دګوتې حلقه دسلام ګرځولو پورې وساتئ چې دا سنت طريقه ده.

حضرت محمدﷺ فرمايلي دي:دغه دشهادت دګوتې اشاره په شيطان باندې دتورې،چاقو اودنورو اوسپني وسايلو څخه سخته تماميږي(عبدالله بن عمر (رض))

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## دلمانځه مستحبات

په تکبیر تحریمه کې دلاسونو د ورغوو ښکاره کول، په ځانته لمونځونو کې د درې ځلو څخه زیات د سبحان ربی العظیم او سبحان ربی الاعلی لوستل، په قیام(ولاړه )کې د سجدې ځای ته کتل، په رکوع کې پښو ته کتل، په سجده کې خپلې پوزې ته کتل ،په جلسه(التحیات ) کې سینې ته کتل، د سلام گرځولو په وخت کې خپلو اوږو ته کتل ، د اسویلي په وخت کې په خپلو لاسونو باندې خوله بندول.

## دلمانځه فاسدونکي

په لمونځ کې په قصد او یا سهوې سره خبرې کول، دلمونځ غلط لوستل، په لمونځ کې ددوه صفونو په اندازه حرکت کول، د عورت د څلورمې حصې ښکاره کېدل، د قهقه خندا ،خوراک او څښاک، په پلیت او مردار ځای کې سجده کول بیدون دغذر څخه په قصدي ډول سره گانگې کول.

## دلمانځه مکروهات

داودس په تنگوالي کې لمونځ کول، دگوتو څخه د ټقونو ویستل، په هغه جامو کې لمونځ کول چې په عامو مجلسونو کې پرې شرمیږي، د چاپه مخکې لمونځ کول، په هغه جامو کې لمونځ کول چې د ساکښ تصویر وریاندې وي، سورتونو د ترتیب نه مراعت کول، ناراستي ویستل او که په لومړي صف کې ځای وي نو په بل صف کې ودرېدل.

آیا هغه کسان چې رکوع او سجده سمه نه اداء کوي نو لمونځ یې کیږي؟ د قومې او جلسې په پرېښودلو سره لمونځ نه صحیح کیږي، یو کس سم لمونځ نه کولو پیغمبرﷺ ورته وویل چې خپل لمونځ دې بیا اداء کړه.د فرض لمونځ قضاء څه شی دی؟د فرض لمونځ قضاء راگرځول واجب دي.

په وتر واجب لمونځ کې که د چا دعاء قنوت یاده نه وي نو څه باید وکړي؟یو ځل دې (اللهم ربنا ) یا درې ځله دې (قل هو الله احد ) ووایي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

آيا سنت او نفل لمونځونه خالي لري؟نه ،سنت او نفـل لمونځونـه ټول ډک اداء کيږي.
آيا سنت لمونځونه قضايي لري او که نه؟نه يې لري(که د سهار د سنتو قضـايي دزوال څخـه مخکې اداءشي نو بهتره خبره ده). دلمونځونو قضايي دلمانځـه دوخت څخه مخکې اداء کيږي او که وروسته ؟مخکې دلمانځه دوخت څخـه او که دلمانځه څخه وروسته هم وخت وي نو سمه ده،مګر د لمانځه دوخت څخـه مخکې بهتره خبره ده.
دنارينه عورت دنامه څخه لاندې تر زنګنونو پورې دی يعنـي خپلـه نوم(نـاف) عورت ندی او دواړه زنګنونه عورت دی.
په کومو وختونو کې لمونځ قطعاً جواز نه لري؟پـه درې وختونـو کـې جـواز نـه لري:دلمر دزوال په وخت کې،دلمر راختلو په وخت کې او دلمر پرېوتلو پـه وخت کې.
په کومو وختونو کې دنفل لمونځ نه کيږي؟د سهار دلمانځه دآذان څخه وروسته تر لمر ختلو پورې او دمازديګر دلمانځه څخه وروسته تر مابنام لمانځه پورې.
آيا دشپې په تيـاره کې چې دسجدې ځـای ونه وينو ، نولمونځ جواز لري؟هو جواز لري.
که يو کس دوه رکعتي لمونځ سهواً درې رکعته وکړي نو څه بايد وکړي؟بايد يو رکعت بل هم وکړي چې دوه رکعته يې په نفلو کې حساب شي.
دسهار دلمانځـه دآذان يعنـې صبح صـادق څخـه وروستـه دسهـار د دوه رکعتـه سنتو څخه پرته نور نفل لمونځ جواز نـه لـري، مګر دقضايي لمونځ کولی شي ،دمازديګر دلمانځه څخه وروسته هم داحکم لري.
ښځې په لمانځه کې بايد خپل لاسونه ترکوم ځايه پورتـه کـړي؟داوږو ترسرونو پورې.
ښځې بايد په لمانځه کې خپل لاسونه چېرته کېږدي؟ په خپلو سينو باندې.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د لمونځ درجه په اسلام کې داسې ده لکه سر په بدن کې
حضرت محمد ﷺ فرمایلي دي: د مسلمان او کافر ترمنځ فرق یواځې د لمونځ په
پرېښودلو کې دی. (مسلم جابر (رض))

**دلمانځه ترتیب دنیت ښخه تر سلام کرځولو پورې او دلمانځه مکمله ترجمه**

اول به وایې چې نیت مې وکړ ترڅو دوه یا څلور رکعته سنت یا فرض لمونځ د سهار یا ماسپښین یا ماخوستن اداء کړم مخ مې د کعبې شریفې په لور خاص الله (ج) تا لره، الله اکبر (الله ډېر لوی دی) به ووایې لاسونه به د غوږونو په طرف پورته کړې بیا به لاسونه د نامه ښخه لاندې وتړي او (سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ) دې ووایي.

ژباړه: یا ربه ستا پاکوالی او ستا ثنا وایم او ستا نوم پاک دی، ستالوی والی او عظمت ډېر لوړ دی، بغیر له ستا ښخه بل کوم معبود نشته بیا، اعوذ بالله من الشیطن الرجیم، پناه غواړم په الله (ج) درټل شوي شیطان ښخه بیا، بسم الله الرحمٰن الرحیم، شروع کوم په نامه دالله چې په دنیا کې پرټولو موجوداتو مهربان دی او په اخرت کې په مسلمانانو مهربان دی بیا سورت فاتحه،

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ۝ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۝ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ۝ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَ اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ۝ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ۝ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَ لَا الضَّآلِّيْنَ (امین)

ژباړه: ټولې ستاینې (صفتونه) خاص الله لره دي، چې پالونکی دعالمیانو دی (دخپل لوی حکمت له مخې)، ډېر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی، مالک د (ټولو او مورو) د ورځې دجزا (اخرت) دی، خاص ستا عبادت کوو او خاص له تاڅخه مرسته او کومک غواړو، وښیه مونږ ته سمه لاره، دهغو کسانو لاره چې تا پرې انعام کړی دی، نه لاره دهغو کسانو چې غضب پر کړی شوی دی او نه لاره دهغو کسانو چې گمراهان دي آمین، یعنې ربه قبوله کړې زما دعا. د اخلاص سورت

(قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۝ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۝ لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ يُوْلَدْ ۝ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۝)

ژباړه: ورته ووايه چې الله(ج) يو دی ،الله (ج) بې نيازه دی ،نه يې څوک زېږولی او نه هغه(ج) چاز ېږولی او نه هغه (ج) لره څوک سيال شته

يا دې يو سورت يا يولوی آيت او يا درې واړه آيتونه ولولئ بيا الله اکبر ،يعنې الله(ج) ډېر لوی دی ،ولولئ او رکوع ته لاړ شئ او درې ځله ، سبحان ربی العظيم ،يعنې پاکي ده زما لوی رب لره،بيا سمع الله لمن حمده ربنا لک الحمد ،يعنې: الله (ج) دهغه چا اوري څوک چې دهغه ستاينه کوي ،زمونږ ربه تالره ستاينه ده.بيا الله اکبر ،الله ډېر لوی دی، بيا به سجدې ته ځې درې ځلې سبحان ربی الاعلی ،پاکي ده زما لوړ ربه تالره ،بيا به دوهم رکعت دبسم الله او الحمد الله څخه شروع کوې،بيا قل هو الله احد ووايې ،رکوع او سجده به وکړې بيا به کېنې او که څلور رکعتي لمونځ وو ،نوڅنګه چې اشهدو ان محمدا عبده ورسوله ته ورسېدې نو پورته به شې او که دوه رکعتي لمونځ وو نو بيا به لاندې الفاظ ووايې.

تحيات

التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ، اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِيْنَ، اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ

ژباړه: قولي عبادت ،بدني عبادت او مالي عبادت يو اځې الله (ج) تالره دي، سلام دې وي پرتا ای نبیﷺ او رحمت دالله تعالی او برکتونه دالله تعالی دې وي پرتا ، سلام دې وي پرمونږ او دالله تعالی پرنېکو بندګانو باندې،زه شاهد يم چې دالله تعالی څخه پرته بل معبود نشته او زه شاهد يم چې محمدﷺ دهغه (ج) بنده او استازی دی.

(اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ)

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ژباړه: یاالله (ج) رحمت وکړي پرپیغمبرﷺ او پراولاد د حضرت محمدﷺ، لکه څنګه چې تا رحمت کړی دی په ابراهیم(ع) او پر اولاد دابراهیم (ع)، په رښتیا چې ته ستایل شوی یې په ښو صفاتو او لویې سره.

(اللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلَىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلَىٰ آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَعَلَىٰ آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ)

ژباړه: یا الله(ج) برکت وکړې په محمدﷺ او پر اولاد د محمدﷺ، لکه څنګه چې تا برکت کړی په ابراهیم (ع) او په اولاد دابراهیم (ع)، رښتیا چې ته ستایل شوی یې په ښو صفاتو او لویې سره.

(اللهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ)

ژباړه: یا الله ،ای ربه زمونږ راکړې مونږ ته په دنیا کې ښه حال او په اخرت کې ښه حال او وساتې مونږه د دوزخ له اوره.

وروسته به لومړی ښي او بیا چپ طرف ووایې: السلام علیکم ورحمة الله

ژباړه: سلامتي او رحمت د الله تعالی دې وي پرتاسې.

پاملرنه: که دماخوستن لمونځ وو، نو په دریم رکعت کې د قل هو الله احد څخه وروسته دعای قنوت باید ولولې:

(اللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِينُكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ وَنُؤْمِنُ بِكَ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ وَنُثْنِي عَلَيْكَ الْخَيْرَ وَنَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَفْجُرُكَ، اللّٰهُمَّ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّي وَنَسْجُدُ وَإِلَيْكَ نَسْعَىٰ وَنَحْفِدُ، وَنَرْجُو رَحْمَتَكَ وَنَخْشَىٰ عَذَابَكَ إِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ.)

ژباړه: ای ربه له تا څخه مرسته غواړو، له تا څخه د ګناهونو بخښنه غواړو او په تا باندې ایمان لرو او په تا باندې توکل کوو او ستا ښه ثنا وایو او ستا شکر اداء کوو او ستاد نعمتونو څخه انکار نه کوو او ځان ګوښه کوو او پریږدو هغه څوک چې ستا امر نه مني، ای ربه زمونږه یواځې ستا عبادت کوو او ستا لپاره لمونځ کوو او ستا لپاره تندی په ځمکه ږدو او ستا خدمت ته منډې وهو او ستا

طرف ته هغه کوو او ستا د رحمت هیله لرو او ستا له عذابه وېرېږو ،رښتیا چې ستا عذاب په کفارو پورې تړلی دی

## دلمانځه څخه وروسته دعاګانې

اول باید دالله(ج) حمد او ستاینه وشي ،بیا په حضرتﷺ باندې درود وویل شي ،بیا خپلې غوښتنې د زړه له تله دالله(ج) څخه وغواړئ

په حدیث شریف کې راغلي:چې یو صحابي په زاریو او ژړا سره دعا کوله ،حضرت محمدﷺ وویل که هغه خپله دعا په آمین سره پای ته ورسوي نو حتماً قبلیږي

علماء وایي که د دعا په اول او آخر کې درود شریف ولوستل شي نو د دعا دقبلېدو امید زیاتیږي

ابن عمر(رض) وایي:حضرت محمدﷺ دهرلمانځه څخه وروسته اللهُمَّ اَنتَ السّلام وَمِنکَ السّلام تَبَارکتَ رَبَنَا یا ذَاالجَلالِ وَالاِکرَام لوستل.

حضرت محمدﷺ وفرمایل:دهرلمانځه څخه وروسته درې د برش(۳۳) ځلې سُبحَانَ الله ،یعنې پاک دی الله(ج) دهر عیب څخه ،هیڅ شی دهغه لایق نه دی،درې دېرش (۳۳) ځلې الحَمدُ لله ،یعنې ټولې ستاینې خاص الله(ج) لره دي ،او څلوردېرش(۳۴) ځلې به ېې الله اکبر یعنې الله لوی دی ، ووایئ.

(مسلم ابوهریره)

همدارنګه د قل هو الله احد ،الفلق او الناس سورتونه لولئ.

همدارنګه حضرت عبد الله ابن عباس (رض) روایت کړی:پیغمبرﷺ به مونږ ته دغه دعا داسې ښودله ،ګویا چې دقران کریم یو سورت مونږ ته راښایي.

اللّهُمَ اِنِیّ اَعُوذبِکَ مِن عَذابِ جَهَنَّم وَاَعُوذ بِکَ مِن عَذابِ القَبرِ وَاَعُوذ بِکَ مِن فِتنَةِ مَسیحِ الدَّجَالِ وَاَعُوذ بِکَ مِن فِتنَةِ المَحیَا وَ المَمَاتِ .

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ژباړه: ای ربه! د جهنم د عذاب، د قبر د عذاب، د دجال د فتنې، د ژوند او مرګ د فتنې څخه مو وساتې.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: هر څوک چې د لمانځه څخه وروسته آیت الکرسي ووایي او مړ شي نو د جنت نعمتونو ته داخلیږي، او همدارنګه دیو لمونځ څخه تر بل لمونځ پورې د الله (ج) په حفاظت کې وي. (طبراني)

استغفر الله الذي لا اله الا هو الحی القیوم

ربنا تقبل منا هذه الصلوة الظهر مع السایر الصلواتنا مع جمیع النقصاناتنا وتقصیراتنا وزیاداتنا وتُب علینا انک انت التواب الرحیم.

اللّٰهُمَّ انا نسئلک ایماناً مستقیماً وفضلاً دایماً ونظراً رحمة ـ و عقلا ـ کاملا ـ وعلمه نافعه وقلبٌ منوراً وتوفیقه احساناً وصبراً جمیلا ـ واجراء عظیماء ولساناً ذاکراء وبدناء صابراء و رزقاء واسعاء وسعیه مشکوراً و ذنباء مغفوراء وعملا ـ مقبولاء و دعاءً مستجابه و لقاء الله نصیبه وجنة فردوسه و نعیمه مُستقیماه.

هر څوک چې د ماښام د لمانځه څخه وروسته مخکې له دې چې خبرې وکړي، اووه ځله اللهم اجرنی من النار ووایي او په همدې شپه کې وفات شي نو د همیشه لپاره به د جهنم څخه په امان کې پاتې کیږي.

او هر څوک چې دغه دعا اووه ځله د سهار د لمانځه څخه وروسته ولولي او په همدې ورځ مړ شي نو د دوزخ څخه خلاصون مومي. (مشکوة ابو داوود)

انس (رض) وایي چې: د معراج په شپه حضرت محمد ﷺ ته پنځوس (۵۰) لمونځونه ویل شوي وو، وروسته چې پنځه لمونځونه فرض شول، نو د الله (ج) لخوا څخه آواز وشو چې ای محمد ﷺ زه خپله خبره نه بدلوم، بېشکه چې تاسو ته د پنځه لمونځونو په وخت کې د پنځوسو لمونځونو ثواب درکوم. (بخاري او مسلم)

رب اجعلنی مقیم الصلوة ومن ذریتی ربنا وتقبل دعاء ربنا اغفرلی ولوالدیّ و للموءمنین یومَ یقُومُ الحساب.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ژباړه:ای ربه ! ما او زما اولاد په لمانځه باندې قایم لره ،زما دعا، قبوله کړه،ای ربه !ما او زما مور او پلار او ټول مؤمنان دقیامت په ورځ وبخښه
اللهم انی اسئلک العفو والعافیه فی الدنیا و الاخره.
ژباړه:ای ربه ! په دنیا او اخرت کې آساني او عافیت غواړم
هغه څوک چې تاسو سره یې نیکي کړې دا دعا ورته وو ایه جزاک الله خیر .(ترمذي)
کله چې حضرت عمر(رض) زخمي شوی وو ،دزیات درد او دزخم څخه دوینې دجریان له امله به دخوب چپه پرې راتله یو چا ورته وویل چې دلمونځ وخت دی حضرت عمر (رض) فوراً دالله(ج) د وېرې ودرېده ،په داسې حال کې چې دبدن څخه یې وینه څڅېده لمونځ یې وکړ او ویې ویل:هرچا چې لمونځ پرېښود نو دهغه لپاره ددین څخه کومه ګټه نه رسیږي.

## سجده سهوه نورو ته هم وښيئ

سجده سهوه په کومو وختونو کې په مونږ باندې لازمیږي؟کله چې لمونځ غلط شي یا دواجبو په پرېښودلو سره یا دفرضو په تاءخیر او ورستوالي سره سجده سهوه په مونږ باندې لازمیږي
آیا په سنت لمونځ کې سجده سهوه کیږي؟په ټولو لمونځونو کې چې درکوع او سجدې لرونکي وي سجده سهوه پکې لازمه ده.
څوک چې د التحیات څخه وروسته دورد یا اللهم صلی ووایي اویا په هغه رکعت کې چې باید سلام واړوي ، اوچت شي اویا داچې ددې لپاره چې د التحیات لپاره کېني ،اوچت شي ،یا د الحمد لله رب العالمین په هېرولو سره ،په فرائضو کې تکرار ،مثلاً که یوڅوک دوه رکوع او درې سجدې وکړي ،یا دواجبو تبدیل مثلاً قل هو الله احد د الحمد لله رب العالمین څخه مخکې ویل ،اویا که درکعتونو په تعداد کې شک درته پېدا شي نو خپل لمونځ مکمل کړئ اوپه آخره کې سجده سهوه وکړئ او که څوک په اخره قعده کې تشهد تر

عبده ورسوله پورې ووايي او پنځم ركعت ته پورته شي ،كه د پنځم ركعت ركوع څخه مخكې يې په ياد شي او كښېني نو سجده سهوه لازميږي

## دپنځه وخته لمونځونود وختونو پېژندنه

دلمانځه لپاره وخت پېژندل فرض دي

دسهار دلمانځه وخت دصبح صادق ( كله چې د تيږي او لوتې ترمنځ فرق وشي) څخه شروع كيږي او هغه وخت ختميږي چې دلمر رڼا راښكاره شي. دماسپښين دلمانځه وخت دلمر دزوال (يعني كله چې لمر دعمودي حالت څخه دقبلې په طرف ميلان وكړي) څخه شروع او هغه وخت ختميږي چې دهر شي سوري دهغه شي درې برابره شي ،دمازديگر دلمانځه وخت هغه وخت شروع كيږي چې دهر شي سوري دهغه شي درې برابر شي او هغه وخت ختميږي چې لمر پټ شي (غروب وكړي). دماښام دلمانځه وخت دلمر دغروب څخه شروع كيږي او هغه وخت ختميږي كله چې په اسمان كې سرخي او سپين والی ختم شي او تياره منځته راشي، دماخوستن دلمانځه وخت هغه وخت شروع كيږي چې داسمان په كنارو كې تياره منځته راشي او ترصبح صادق پورې دوام كوي حضرت محمدﷺ فرمايلي دي:دجماعت لمونځ دهغه لمونځ څخه چې ځانته كيږي اويشت(۲۷ )درجې ثواب لري.

حضرت محمدﷺ فرمايلي دي: لمونځ درزق د پراخې دروازه ده.

## د جُمعې د لمانځه د اداكولو طريقه

دجمعې دلمانځه دوه ركعته فرض دي،او لس(۱۰ ) ركعته سنت دي ،دجمعې اول څلور(۴ ) ركعته ځانته ادا كيږي،اوبيا دوه ركعته فرض په جماعت يعنې دامام پسې ادا كيږي، اوبيا څلور(۴ ) ركعته ځانته ادا كيږي،او بيا دوه(۲ ) ركعته سنت ځانته اداء كيږي تول دولس (۱۲ )ركعته، چې پدې كې (۲ ) ركعته فرض او لس(۱۰ ) ركعته نور سنت دي ادا كيږي

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

توجه اکه یو کس د جمعې دلمانځه دوهم رکعت ونیسي څه باید وکړي؟ باید د امام د سلام ګرځولو څخه وروسته پورته شي او یو رکعت دې خاتته وکړي، داخترلمونځ هم همدا حکم لري
حضرت محمدﷺ فرمايلي دي:دټولو ورځو څخه دجمعې ورځ بهتره ده، په همدې ورځ آدم(ع) سلام پیدا شوی دی، په همدې ورځ جنت ته داخل شوی دی او په همدې ورځ دجنت څخه وتلی دی او په همدې ورځ به قیامت واقع کیږي
که څوک دجمعې په ورځ غسل وکړي او مسجد ته لاړ شي دارنګه دی لکه چې یو اوښ صدقه کړي
دجمعې په ورځ یو خاص وخت دی چې په هغه کې دعا قبلیږي، کوښښ وکړئ چې دجمعې ورځ دالله(ج) په عبادت کې تېره کړئ

## دجمعې د ورځې کتې او فضائل

رسول اللهﷺ فرمايلي دي:هرڅوک چې دجمعې دلمانځه څخه وروسته دقل هو الله احد، سورت الفلق او سورت الناس اووه ځلې ولولي نو الله(ج) هغه تر راتلونکې جمعې ورځې پورې دګناهونو څخه ساتي
رسول اکرمﷺ فرمايلي دي: دجمعې په ورځ دماسپښین څخه ورسته تر غروب (ماښام) پورې دالله(ج) څخه دعا وغواړئ نو امید شته چې دعا مو قبوله شي.(ترمذي)
یوه ورځ حضرت محمدﷺ مسلمانانو ته وویل:الله(ج) دجمعې ورځ ستاسو لپاره اختر ګرځولی ده، په دې ورځ غسل وکړئ، عطر او مسواک ووهئ.(ابن ماجه)
حضرت محمدﷺ فرمايلي دي: هرڅوک چې درې جمعې پرته دکوم شرعي عذر څخه، دتنبلۍ او ناراستۍ له وجهې لمونځ پرېږدي نو الله(ج) دهغه په زړه باندې مهر لګوي.(احمد)

حضرت محمدﷺ فرمایلي دي: په ما باندې درود ویل ،په پل صراط باندې رڼا ده ،څوک چې د جمعې په ورځ اوویا ځلې په ما باندې درود ووایي نو اتیا کلن ګناهونه به یې معاف او وبخښل شي.
رسول اکرمﷺ فرمایلي دي: څوک چې د جمعې په ورځ غسل وکړي نو تر بلې جمعې ورځې پورې به په پاکۍ او طهارت کې وي
څوک چې د جمعې په ورځ په لومړي وخت کې مسجد ته لاړ شي نو داسې ده لکه چې یو اوښ صدقه کړي
حضرت محمدﷺ فرمایلي دي: څوک چې د کوم شرعي عذر څخه پرته د جمعې لمونځ پرېږدي نو د الله(ج) د کتابچو څخه په یوه کتابچه کې چې د مخکې څخه ځای په ځای ده منافق لیکل کیږي
حضرت محمدﷺ فرمایلي دي: تر ټولو زیات فضیلت لرونکی لمونځ د فرض لمانځه څخه وروسته هغه د تهجد و لمونځ دی چې په نیمه شپه کې کیږي
د حضرت محمدﷺ څخه پوښتنه وشوه کوم یو عمل مونږ دوزخ ته وړي ،هغه ورته وویل چې ژبه او د انسان شرمګاه ،بیا یې وویل څوک چې د خپل شرمګاه حفاظت وکړي نو زه یې ذمه کوم چې هغه شخص به جنت ته ځي.
حضرت محمدﷺ فرمایلي دي: د نورو عزت وساته چې ستا عزت هم وساتل شي ،د نورو احترام وکړه چې ستا احترام هم وشي.
حضرت محمدﷺ فرمایلي دي: کامل مسلمان هغه دی چې خلک د هغه د ژبې او لاس څخه په امان کې وي
حضرت محمدﷺ فرمایلي دي: الله (ج) ځمکه د شنبې په ورځ ،غرونه یې د یکشنبې په ورځ ،ونې یې د دوشنبې په ورځ ،مکروهات او ناخوښي یې د سه شنبې په ورځ ، رڼاګانې یې د چهارشنبې په ورځ ، حیوانات او ژوندي موجودات یې د پنجشنبې په ورځ په ځمکه کې خواره کړي دي د جمعې د ورځې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دمازدیگر څخه وروسته یې دمازدیگر او شپې ترمنځ یې دهرڅه دپیدا ینښت څخه وروسته آدام(ع) پیدا کړی.(مسلم ابو هریره)

حضرت محمدﷺ فرمایلي دي:هرڅوک چې دجمعې په ورځ او یا شپه کې مړ شي نوالله(ج) به هغه دقبر دعذاب څخه وساتي.(ترمذي او احمد عبدالله ابن عمر)

رسول اکرمﷺفرمایلي دي:هرڅوک چې دجمعې په ورځ اودس وکړي ښه کار یې وکړ او هغه څوک چې غسل وکړي نو بهتره کار یې وکړ.(ابوداوود)

درسول اللهﷺ او اسماني کتابونو دتعلیماتو په لړ کې دایمان څخه وروسته اولین حکم دلمانځه شوی دی او دقیامت په ورځ به هم اول دلمانځه پوښتنه کیږي.

حضرت محمدﷺ فرمایلي دي: دسهار دلمانځه دوه رکعته سنت مه پرېږدئ، که څه هم ستاسو لښکر دماتې سره مخامخ کیږي.(ابوداوود)

## دجنازې دلمانځه ترتیب

اول نیت: نیت کوم چې اداء کرم دجنازې دلمانځه څلور تکبیرونه ،ثنولې ستاینې الله(ج) لره دي،درود دې وي پر رسول اللهﷺ دعا کوم مړي ته اقتداء مې وکړه په دې حاضر امام پسې الله اکبر به ووایي، په اول تکبیر کې دواړه لاسونه دغوږونو ترنرمیو پورې پورته کیږي او په نورو درې تکبیرونو کې لاسونو ترلې پاتې کیږي اونه اوچتیږي،چې په لومړي تکبیر کې ثناء لوستل کیږي

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَجَلَّ ثَنَاءُكَ وَلَآاِلٰهَ غَيْرُكَ.

په دوهم تکبیر کې درود لوستل کیږي:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ وَسَلَّمْتَ وَ بَارِكْت وَ رَحِمْتَ وَ تَرَحَّمْتَ عَلٰى اِبْرٰهِيمَ وَ عَلٰى اٰلِ اِبْرَا هِيمَ اِنَّكَ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ

په دریم تکبیر کې دادعا لوستل کیږي:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

(اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا، وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا، وَصَغِيرِنَا وَكَبِيرِنَا، وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا، اللّٰهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الإِسْلَامِ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الإِيمَانِ،)

ژباړه: ای ربه! بخښنه وکړې زمونږ ژوندیو اوزمونږ مړو ته اوزمونږ حاضرواو زمونږ غائبوته اوزمونږ وړو او زمونږ مشرانوته او زمونږ نارینه او زمونږ ښځینه ووته. ای ربه! څوک چې زمونږ څخه ژوندي پاتې کوې نو په اسلام کې یې ژوندي پاتې کړه او څوک چې زمونږ څخه مړه کوې په ایمان کې یې مړه کړه او په څلورم تکبیر کې سلام ګرځول کیږي، که مړی ماشوم نارینه وي، دا دعاء ویل کیږي:

(اللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا، وَاجْعَلْهُ لَنَا أَجْرًا وَذُخْرًا، وَاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا مُشَفَّعًا)

او که مړی نابالغه انجلۍ وي نو دا دعاء لوستله کیږي:

(اللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا، وَاجْعَلْهَا لَنَا أَجْرًا وَذُخْرًا، وَاجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً مُشَفَّعَةً)

څوک چې دجنازې لمونځ یاد نه لري نو کولی شي چې دعاء قنوت یا سورت فاتحه ووایي.

## بې ګوره سړی او عیسی (ع)

حضرت عیسٰی (ع) یو زوړ سړی ولید چې کور نه لري او په سخته یخنۍ او سخته ګرمۍ کې کار او عبادت کوي نو حضرت عیسٰی (ع) ورڅخه پوښتنه وکړه چې ولې دځان لپاره کور نه جوړوې؟ زوړ سړي ورته وویل: ای روح الله (دالله روحه) اهغه پیغمبر چې ستا څخه مخکې وو هغه راته وویل چې ته د اووه سوو (۷۰۰) کالو څخه زیات عمر نه لرې، نو ځکه مې عقل ونه منل چې دالله (ج) عبادت پرېږدم او د کور په جوړولو کې مصروف شم، حضرت عیسٰی ورته وویل چې په اخر وخت کې به داسې خلک راشي چې هغوي به دسلو (۱۰۰) کالو څخه زیات عمر نه لري خو بیا به هم خپلو ځانونو ته کورونه جوړوي

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## تر ټولو لويه صدقه

يو ورځ غريب مهاجرين د رسول اللهﷺ حضور ته راغلل او ورته يې وويل: شتمن خلک د الله په لار کې د مال په خرچ کولو هميشه نعمتونه او لوړې درجې وړي، څرنګه چې مونږ لمونځ کوو هغوي هم لمونځ کوي، او څنګه چې مونږ روژې نيسو هغوي هم روژې نيسي او همدارنګه هغوي صدقې او خيراتونه کوي او غلامان آزادوي، مګر مونږ يې نشو کولای. رسول اللهﷺ ورته وويلې: آيا تاسې ته داسې شی ونښايم، چې هغه کسان چې ستاسې څخه مخکې دي او هغه کسان چې ستاسې څخه وروسته دي، هيڅوک به له تاسې څخه مخکې نشي مګر هغه کسان چې ستاسې په شان عمل اجرا کوي، بيوزلو ورته وويلې: ولې نه يا رسول اللهﷺ! حضرت محمدﷺ ورته وويل: د هر لمانځه څخه وروسته درې د پرش(۳۳) ځلې سبحان الله او درې د پرش(۳۳) ځلې الحمد الله او څلور د پرش(۳۴) ځلې الله اکبر وايئ.(مسلم ابو هريره)

حضرت انس(رض) وويل: که رسول اللهﷺ به سل(۱۰۰) دعاګانې هم کولې نو په اول او آخر کې به يې دا دعا لوستله:

(رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّ فِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ)

## په کومو وختونو کې دعا قبليږي

د فرض لمونځونو څخه وروسته، د سجدې په حالت کې، د مرګ په وخت کې، د چرګ د آذان په وخت کې، د اجتماع(د خلکو دراغونډېدو) په وخت کې، د باران اوريدو په وخت، د لمانځه د اقامت په وخت کې او د ذکر د مجلس په وخت کې دعا ښه قبليږي

د حضرت محمدﷺ څخه پوښتنه وشوه چې څه وخت دعا قبليږي؟ حضرت محمدﷺ ورته وويل: د شپې په اخره کې دعا او د فرض د لمانځه څخه وروسته دعا.

دعا او صبر د مؤمن لپاره بهرينه وسله ده.(ترمذي)

هرڅوک چې غواړي چې په مشکلاتو او بد حالت کې یې دعا قبوله شي نو باید دخوښۍ او خوشحالۍ په وخت کې دعا وغواړي او دالله(ج) څخه دحاجت غوښتنه وکړي

دعا په نازل شوو بلاوو او هغه بلاوې چې نه دي نازل شوي تاثیر اچوي.اې دالله(ج) بنده په تاسو لازم دي چې دعا وکړي او خپلې غوښتنې دالله (ج) څخه وکړې

څوک چې تولو مؤمنانو نارینه او ښځو ته دبخښنې غوښتنه وکړي نو دهر مسلمان کس په مقابل کې به الله(ج) ورته نیکي ولیکي.(طبراني)

## دچا دعاګانې قبلیږي

کله چې انسان ته تکلیف ورسیږي دعا وکړي او الله (ج) ته رجوع وکړي . نو دالله(ج) په وړاندې د دعا څخه پرته بل ښه شی نشته.

## ترټولو غوره شپې چې په هغو کې دعا قبلیږي

هغه غوره شپې چې په هغو کې دعا قبلیږي هغه دادي:درجب میاشت، دشعبان دشپې نیمایي، دجمعې شپه، دکوچني اختر شپه او دلوی اختر شپه

رسول اکرمﷺ فرمایلي دي: که په اسم اعظم دعا وکړئ او دالله(ج) څخه څه وغواړئ نو تاسو ته یې درکوي ،دغه دیونس(ع) دعا ده چې هغه یې دماهي په ګېډه کې لوستلې وه .هغه دادعاء ده:

لا اله الا انت سبحانک انی کنت من الظالمین. رسول اللهﷺ فرمایلي دي:دمظلوم د دعاوو څخه ځان وساته ځکه چې د دعا او الله(ج) ترمنځ پرده نشته(بخاري ابن عباس)

الله(ج) خوښوي چې بنده ګان یې ځه دهغه څخه وغواړي

دحضرت ابو هریره (رض) څخه روایت چې رسول اللهﷺ وفرمایل:څوک چې دالله (ج) څخه سوال او غوښتنه ونه کړي نو الله(ج) دهغه څخه ناراضه کیږي(ترمذي)

https://m.facebook.com/groups/182281287129769 https://t.me/Afghansalarlibrary

دعبدالله ابن مسعود (رض) څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ وویل: الله (ج) څخه دهغه فضل او کرم وغواړئ (یعنې دعا وکړئ چې فضل او کرم دربانې وکړي) ځکه چې الله (ج) دا خوښوي چې دهغه بنده دهغه څخه څه وغواړي. (ترمذي)
دابوهریره (رض) څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ فرمایلي دي: ستاسو دعاګانې به هغه وخت قبولې شي چې تاسو عجله ونه کړئ، عجله داده چې تاسو ووایئ چې ما دعاء وکړه او دعاء مې قبوله نشوه. (ترمذي)
دحضرت جابر (رض) څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ وفرمایل: هیڅکله خپل ځان ته، خپلو اولادونو ته اویا خپلو مالونو ته خبرا مه کوئ، ځکه کېدای شي چې دغه وخت د دعاء دقبلېدو وي او ستا سو دغه خبرا قبوله شي (نو په نتیجه کې به په تاسو، ستاسو په اولادونو او یا ستاسو په مالونو باندې بلاګانې او آفت نازل شي بیا به پښېماني کوئ). (مسلم)
دابوالدرداء څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ وفرمایل: دمسلمان دعا دهغه دمسلمان ورو په حق کې دهغه په نشتون کې قبلیږي، دهغه په وړاندې یوه ملائکه مقرره ده چې هر وخت دخپل ورو به غیاب کې هغه ته دعاء وکړي، هغه ملائکه وایي: الله (ج) دې ستا دا دعاء قبوله کړي او ستا لپاره هم دغه خیر غواړي (مسلم)
دعبدالله بن عباس (رض) څخه روایت دی، چې رسول اللهﷺ فرمایلي: دپنځو (۵) کسانو دعاګانې په خاص ډول قبلیږي ۱. دمظلوم دعا تر هغه وخته چې انتقام وانخلي ۲. دهغه حاجي دعا چې بېرته راستون شي ۳. دهغه مجاهد دعا چې دالله (ج) په لار کې وي، او ترهغه وخته چې شهید نه وي، (۴) دهغه مریض دعاتر هغه وخته چې صحتمند شوی، (۵) په غیاب کې دیو ورو دعا بل ورور ته (بیهقي)
دانس (رض) څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ وفرمایل: چې د آذان او اقامت (تکبیر) ترمنځ دعا قبلیږي او ردیږي نه (ترمذي)

د انس(رض) څخه روايت دی کله به چې رسول الله ﷺ ته خفگان او پرېشاني پېدا شوه، نو دا دعا به يې ويله ياحَیُّ القيوم او يا به يې ويل ياذو الجلال والاکرام(ترمذي)

کله چې تاسې پرېشان يئ نو دا دعا ووايئ رسول الله ﷺ فرمايلي: څوک چې دالله(ج) نه ددې دعا په واسطه توبه او استغفار او غواړي ، يعني(استغفر الله واتوب اليه) ووايې ،نو الله(ج) به ورته ببښنه او مغفرت وکړي، که څه هم گنهکار او دجهاد د ميدان څخه تېښتيدلی هم وي(ابو داود )

دعمر(رض) څخه روايت دی:دعا دآسمان او ځمکې ترمنځ پاتې کېږي، پورته کېږي نه يعني قبليږي نه، تر هغه وخته چې په رسول الله ﷺ باندې درود ونه ويل شي(ترمذي)

دابو هريره(رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي:زما دی په الله(ج) قسم وي چې زه هره ورځ دالله(ج)نه(٧٠)ځلې استغفار او ببښنه غواړم(بخاري)

د انس(رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي:هر انسان گناهگار دی،خو تر ټولو غوره گناهگار هغه کس دی،چې وروسته د گناه څخه په رښتينې ډول توبه وباسي، او د الله(ج) لوري ته رجوع وکړي(ابن ماجه)

## دشيطان قسم خوړل

شيطان وويل چې ای ربه ستا په عزت مې دې قسم وي چې ستا دبنده گانو دبې لارې کولو څخه به تر هغه وخته لاس وانخلم ترڅو چې هغوي ژوندي وي،الله (ج) شيطان ته وويل چې په خپل عزت او جلال مې دې قسم وي تر هغه وخته چې زما بنده زما څخه بخښنه وغواړي نو زه به ورته بخښنه وکړم(احمد ابو سعيد الخدري)

https://m.facebook.com/groups/182281287129769 https://t.me/Afghansalarlibrary

## دشېطان نصيحت

ويل کيږي چې مخکينيو خلکو به شېطان ليدو .نو يو کس د شېطان څخه پوښتنه وکړه ، کوم کار وکړم چې ستا په شان شم؟شيطان ورته وويل تر او سه مې ستا په شان څوک ندی ليدلی چې ستا غوندې پوښتنه يې را څخه کړې وي ،نو که غواړې چې زما غوندې شې نو په لمانځه کې سستي کوه يعنې رکوع او سجده يې په سم ډول مه اداء کوه او په دروغه قسم په خپل ژوند کې رواج کړه،هغه سړي ورته وويل چې په الله(ج) مې دې قسم وي زه دا وعده کوم چې په لمانځه کې به سستي نه کوم او په دروغه به قسم نه کوم

## د زکات مسائل

په څومره سرو زرو باندې زکات کيږي؟

په شل(٢٠) مثقاله يا نوي(٩٠) گرامو سرو زرو باندې چې يو کال ورباندې تېر شوی وي،زکات ورباندې کيږي

په څومره روپيو باندې زکات کيږي؟په دوه سوه شرعي درهمو باندې چې يو کال ورباندې تېر شي زکات ورباندې کيږي يعنې په سلو روپيو کې دوه نيمې (2.5)روپۍ اويا په څلويښتو روپيو کې يوه روپۍ زکات کيږي

په يو لک افغانيو کې څومره زکات کيږي؟دوه نيم زره افغانۍ (٢٥٠٠) .

زکات په کومو لارو کې مصرفولی شو ؟

د کمزورو سره په کومک کې ،دجهاد په لاره کې،مسافرو سره،زنداني سره،يتيم سره او د مدرسې د طالبانو سره.

حضرت محمدﷺ وفرمايل:که دزکات مال دنور مال سره يو ځای شي نو حتماً له منځه ځي.(بخاري)

دگرام او مثقال ترمنځ څه توپير دی؟ يو مثقال ۴/۵ گرامه کيږي

يو ټن څو کيلو او څو منه کيږي؟يو ټن زر (١٠٠٠) کيلو او يو سلو درې څلويښت (١۴٣) منه کيږي

يو من څو کيلو دی؟يو من اووه کيلو دی
يو چهارک څو پاوه دی؟يو چهارک څلور پاوه دی
يوه کيلو څو پاوه ده؟يو کيلو دوه پاوه او يو خرد کيږي
يوه کيلو څو ګرامه ده؟يوه کيلو زر (۱۰۰۰) ګرامه ده.
يو خروار څومنه کيږي؟يو خروار اتيا منه کيږي
يومن څو چهارکه کيږي؟يو من څلور چهارکه کيږي
يو پاوو څو خرده کيږي؟يو پاو څلور خرده کيږي
يو کيلو څو خرده کيږي؟يوه کيلو ۹ يا ۱۰ خرده کيږي
يومن څو پاوه دی؟يومن (۱۲) پاوه کيږي

## دعمر بن عبدالعزيز (عمر ثاني) خلافت

دعمر ابن عبد العزيز (عمر ثاني) پـه وخـت کې حکومـت دومـره قـوي وو چې حتیٰ يـو نفـر هـم نـه پېدا کېدو چې دزکـات مسـتحق وي.ټـول خلـک دزکـات دورکولـو پـه اساس مالـداره شـوي وه،او دخلکـو توکـل پـه الله(ج) وو، ټـولې پرېکړې به دحضرت محمدﷺ دسنتو مطابق کېدلې

رسول اکرمﷺ فرمايلي:صدقه ورکول داوويا بلاګانو مخه نيسي(اوويا ډوله بده مړينه لرې کوي).(انس(رض))

## حضرت بي بي فاطمې (رض) د حضرت علي (رض) ښخه انار وغوښتل

يوه ورځ حضرت فاطمې (رض) خپل خاوند حضرت علي (رض) تـه وويـل چې انـارو تـه مې زړه شـوی،يوانار راتـه راوړه،حضـرت علي (رض) يـو دانـه انـار واخيسـت ،پـه لاره کې انار يو بل کس ترې واخيسـت انار يې هغـه فقيـر تـه ورکـړ او له خانه سره يې ووېل چې دفاطمې (رض) ښځـه لـو مړی تـه مسـتحق يې ،کله چې کور ته راغی نو بي بي فـاطمې (رض) ورتـه وويـل چې انار دې ماتـه را نـه وړو ؟حضرت علي (رض) ورتـه وويـل هغـه انـار مې يـو فقيـر تـه ورکړ،مهربانې ښځې يې ورته وويل ښه دې وکړ، څه شېبه وروسته يو کس دروازه ټک، ټک

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کړه او ويې ويل چې دغه انار تاسو تـه دهغـه فلاني باغ ،باغوان راليږلي دي، کله چې حضرت علي (رض) هغه انار حساب کړه نو نهه(۹) دانې وه ،ويې ويـل چې دا آنار زمونږ نه دي ،ځکه چې الله(ج) وعده کړې چې لس چنده يې درکوم، هماغه وو چې، نوموړي سړي هغه آنار وې وړل او نور لس دانې آنار يې راوړل.

رسول الله ﷺ فرمايي:صدقه دالله (ج) غوصه اوقهر دارنګه کېنوي،لکه څنګه چې اوبه ،اور مړ کوي(طبراني)

حضرت محمدﷺ فرمايلي دي: خبرې کول پـه نرمـې اوښـه اخلاقـو سره نيکي او صدقه ده او بده ژبه ظلم او نفاق دی. رسول الله ﷺ فرمايلي دي:صبر نيمايي ايمـان دی.

پيغمبرﷺ فرمايلي دي: ترټولو بهترينه کارونه په هغوي کې اعتدال او ميانه روي ده.(بيهقي)

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:هيڅ يوه شتمني دصدقې ورکولو پواسطه نه کميږي

**دقران کريم مسائل**

رسول اکرمﷺ فرمايلي دي: قرآن کريم نور دی،دلارې رڼا ده.(بيهقي)

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې قرآن ولولي او حفظ يې کړي نو الله(ج) به يې جنت ته داخل کړي او دکورنۍ دهغـو لسـو غـړو دشفاعت اجازه ورکـول کيـږي چې دوزخيان وي

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:څوک چې قران دژبې په سختيو سره ووايي نو دوه اجره ورته ورکول کيږي، يو دويلو اجر او بل دزحمت اجر.

دسورت ياسين لوستل دقران کريم دلسو سپارو دويلو ثواب لري

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې سورت ياسين ووايي نو الله (ج) ورتـه دقـران کريم لسو سپارو دتلاوت اجر او ثواب ليکي.(ترمذي)

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: دقيامت په ورځ قرآن او هغه څوک چې په قرآن باندې عمل کوي راوړل کيږي، دبقرې او آلِ عمران سورتونه چې دقرآن کريم پهاو؛ سرکې دي،دقاري اوپه ده باندې د عمل کوونکي دفاع او ملاتړ کوي(مسلم)

رسول الله ﷺ فرمايي:په خپل ځان باندې په شهدو او قرآن کريم سره شفاءلازمه کړئ(ابن ماجه عبدالله ابن مسعود(رض))

رسول الله ﷺ فرمايي:څوک چې غواړي دالله(ج) سره خبرې وکړي نو لمونځ دې وکړي اوڅوک چې غواړي الله(ج) ورسره خبرې وکړي نو قرآن کريم دې لولي.

رسول الله ﷺ فرمايي: هر شی زړه لري، دقرآن کريم زړه سورة ياسين دی.

## دقران کريم صحيح لوستل

دوقف (د ودريدلو )علامې:دقرآن په لوستلو کې چې زمونږ اکثراً خلک دعربې په ژبه نه پوهيږي، که چيرته د قرآن په لوستلو کې په هغه ځای چې وقفونه وي ونه دريږو ، امکان لري چې معنیٰ کې تغير راشي،بايد دا نقطې په ياد ولرئ :په هغه ځای کې چې د م،ط ،ج،ص،وغيره حروف راغلي وي،نو حتماً توجه وکړئ،مثال: م وقفې لازم دی،اود وصل(تېريدلو ) په صورت کې د معنیٰ دتغير احتمال زيات دی.

دط حرف مطلق دی، بايدوقف پرې وکړئ، دج حرف جايز دی کولای شو دلته هم وقف وکړو او هم ترې تير شو ،ز دجايز وقف په شان ده، مګر تېريدل ترې غوره دي،ص دجملې داوږدولو دخاطره دی،اوساه د لنډوالي په صورت کې پرې وقف کيږي،وقف په هر آيات باندې درسول الله ﷺ سنت دي،لادوقف نه کول دی يعنې بايد پرې ونه دريږو ،که مجبوراً دې وقف وکړ نو حتماً دوباره راوګرځه او د وصل تکرار وکړه.

https://m.facebook.com/groups/182281287129769 https://t.me/Afghansalarlibrary

## دقران کريم دختم ترتيب

تاسو کولی شئ چې دقران کريم لومړی سپاره يا اخره سپاره او يا هم ټول قرآن کريم ولولئ ،وروسته بيا دختماني لپاره درې ځلې قل هو الله احد ،يو ځل دقل اعوذبرب الفلق او يو ځل سورت الناس ووايئ بيا الحمد الله او بيا دالم څخه شروع وکړي اوتر هم المفلحون آيت پورې ووايئ او بيا د والهکم اله واحد لااله الاهوالرحمٰن الرحيم د(۱۲۲) م آيت څخه تر (۱۲۳) م آيت پورې ولولئ،وروسته بيا د امن الرسول د(۲۸۴) م ايت څخه تر (۲۸۲) م أيت پورې ولولئ،وروسته بيا ذادعاء ووايئ اللهم نور قلوبنا بالقرآن وزين اخلاقنا بالقرآن ونجنا بالقرآن وادخلنا فی الجنة بالقرآن... اويا کومه بله دعاء ولولې ،وروسته بيا خپلې آرزوګانې او حاجتونو يواځې دالله(ج) څخه وغواړئ، بعضې خلک داسې فکر کوي چې ختم کول دا معنې لري چې په سلګونه خلک به هوټلونو ته بوځې او هلته به ورباندې پيپسي، کوفته (کبمه) او نور خورې، مګر ختم دقرآن دلوستلو په معنی دی، هرڅوک کولی شي چې يوه آندازه اوبه ، مالګه، خرما او نور څه چې دهغه په وس کې وي ختم وکړي ،خوبايد رياکاري ونه کړي اونه بايد محفلونه جوړ کړي

خپلو اولادونو ته قرآن ياد کړې ترڅو هره ورځ،هره هفته ،هره مياشت اويا لږ تر لږه په کال کې قرآن کريم ختم کړي

رسول اللهﷺ فرمايلي دي: هرڅوک چې سورت ياسين تلاوت کړي نو الله(ج) به ورته دقرآن کريم دلسو سپارو دلوستلو اجر او ثواب ورکوي.(ترمذي)

رسول اللهﷺ فرمايلي دي:ترټولو بدترينه خواړه د هغه ودونو او جشنونو خواړه دي،چې مالداره خلک هلته دعوت کيږي او غريبان او مسکين خلک ورته نه دعوت کيږي

هرڅا چې دعوت ونه منلو نو دالله(ج) د امر څخه يې سرغړونه وکړه.(بخاري او مسلم ابوهريره)

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## دقران کریم دسورتونو کتې

ابوهریره (رض) روایت کړی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: دهر شي لپاره غرونه وي(چې دهغه تولو شیانو څخه اوچت وي) ، او دقرآن کریم غرونه سورة بقره ده، او په هغه کې یو آیت(آیة الکرسي) ده چې دقرآن کریم دټولو سورتونو سردار دی.(ترمذي)

په هغو کورونو کې چې سورة بقره لوستل کیږي نو هغه ته شیطان نه داخلیږي

دابوهریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: دخپلو کورونو څخه هدیرې مه جوړوئ یعنې په هغه شکل سره چې دهدیرې ساحه دټولو انوارو او دذکر او تلاوت دآثارو څخه خالي ده تاسو خپل کورونه په هغه ډول مه جوړوئ بلکې هغه په ذکرونو او تلاوتونو سره آباد وساتئ اوپه هغه کورونو کې چې سورة بقره پکې لوستل کیږي نو هغه کور ته شیطان نه داخلیږي.(ترمذي)

دعطاء ابن رباح تابعي څخه روایت دی، چې هغه وایي: دغه حدیث ماته رسېدلی دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: هرڅوک چې دسهار په لومړیو کې سورت یاسین ولولي الله(ج) دهغه ضرورتونه او حاجتونه پوره کوي

د الهٰکم التکاثر سورت د قرآن کریم د زرو آیاتونو سره برابر دی

دعبدالله بن عمر (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: آیا ستاسې څخه څوک کولی شي چې هره ورځ دقرآن کریم (۱۰۰۰) آیاته تلاوت کړي(یعنې داکار زمونږ له وس څخه وتلی دی)، نو هغه مبارک ﷺ ورته وویل: آیا نشئ کولی چې الهٰکم التکاثر سورت ولولی.(بیهقي)

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

**د زلزال سورت لوستل دقران کریم دنیمې برخې برابر دی**

دعبد الله ابن عباس (رض) او انس ابن مالک(رض) څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د زلزال سورت دنیم قرآن کریم برابر دی، او داخلاص (قل هو الله احد ) سورت دقرآن کریم د دریمې برخې برابر دی، او د قل یآ ایها الکافرون سورت دقرآن کریم د څلورمې برخې برابر دی.(ترمذي)

صحابه کرامو رضی الله عنهم د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه: چې مونږ ته څه وښایه چې د خوب په وخت کې یې وایو، رسول الله ﷺ ورته وویل: قل یآ ایها الکافرون سورت لولئ چې د شرک څخه پکې خلاصون شوی دی.(ترمذي)

دابو الدردا (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: آیا ستاسو څخه څوک د دې څخه عاجز دی چې په یوه شپه کې د قرآن کریم دریمه برخه تلاوت کړي؟ صحابه وو عرض وکړ چې په یوه شپه کې د قرآن کریم دریمه برخه څنګه تلاوت کیږي؟

رسو ل الله ﷺ ورته وفرمایل: د قل هو الله احد سورت دقرآن کریم د دریمې برخې سره برابر دی(څوک چې د شپې دا سورت ولولي داسې دی لکه چې د قرآن کریم دریمه برخه یې لوستلې وي).(بخاري)

د انس(رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: هرڅوک مخکې له دې چې ویده شي، سل(۱۰۰) ځلې دې قل هو الله احد سورت ولولي، د قیامت په ورځ به الله(ج) ده ته وایي: ای زما بنده ! د خپل ښي طرف څخه جنت ته داخل شه.(ترمذي)

د عقبه بن عامر (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: آیا تاسې خبر یئ چې کوم آیاتونه نن شپه په ما باندې نازل شوي دي (داسې بې ساري دي چې دهغو مثل نه لیدل شوی او نه اوریدل شوي دي)، هغه د الفلق او الناس سورتونه دي.(مسلم)

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## رسول الله ﷺ په کوم سورتونه ډېر زيات خوښول؟

يو کس د رسول الله ﷺ څخه عرض وکړ: اې رسول الله ﷺ! د قرآن کريم کوم يو سورت لوړه مرتبه لري؟ هغه مبارکﷺ ورته وويل :د قل هو الله احد سورت، بيا يې عرض وکړ، د آيتونو څخه کوم يو آيت لوړه مرتبه لري ،هغه مبارکﷺ ورته وويل: آية الکرسي ، بيا يې ورڅخه پوښتنه وکړه ،د قرآن کريم کوم آيتونه ته ډېر خوښوې چې ستا اُمت د هغه د برکت او ګټو څخه برخمن شي؟ رسول اللهﷺ ورته وفرمايل:د سورت بقرې وروستي آيتونه (۲۸۴- ۲۸۲) پورې ،بيا يې وويل چې دا يتونه د الله (ج) د هغه ځانګړو خزانو څخه دي ، چې تر عرش عظيم لاندې واقع دي،الله (ج) دا آيتونه په خپلو بنده ګانو باندې رحمت ګرځولي دي،چې په دې کې د دُنيا او آخرت خير او برکت موجود دی،(رواه الدارمي).

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:الله (ج) بقرې سورت په داسې دوه آيتونو باندې پای ته رسولی دی،چې هغه د خپلو هغو خاصو خزانو څخه ماته راکړي چې د الله(ج) د عرش عظيم لاندې واقع دي.

تاسې هغه ياد کړې او خپلو ښځينه وو ته يې هم ورزده کړئ.ځکه چې دا آيتونه سراسر رحمت دی او د الله (ج) تـه د نژدېوالي ځانګړې وسيله ده او پـه هغـه کې ډېره جامع او پراخه دعاء پرته ده.(الدارمي)

د حضرت عثمان بن عفان (رض) څخه روايت دی:هرڅوک چې د شپې د آل عمران سورت وروستي آيتونه ولولي ،د هغه لپاره د پوره شپې د لمانځه ثواب ليکل کيږي.(الدارمي)

د انس (رض) څخه روايت چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي:دعاء د عبادت خلاصه او لنډيز دی.(ترمذي)

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## دالمک (تبارک الذی) سورت فضیلت

رسول الله ﷺ فرمايي:زړه مې غواړي چې دغه مبارک سورت دهر مؤمن په زړه کې وي.

په يو روايت کې راغلي دي: څوک چې دماسخوتن په لمانځه کې سورت الملک ولولي ،داسې ده لکه چې هغه دليلة القدر شپه په ولاړه (قيام) سره تېره کړې وي.

کوښښ وکړئ دغه مبارک سورت هر شپه تلاوت کړئ ،چې ستاسو ساتونکی او شفاعت کوونکی دی.

رسول الله فرمايلي دي:ما دالله(ج) په مبارک کتاب کې يو سورت پيدا کړ چې هغه سورت د ېرش(۳۰) آيته دی،څوک چې دغه سورت دويده کېدلو په وخت کې ولولي ،نو دېرش درجې ثواب ورته ليکل او دېرش ګناهونه ورته بخښل کيږي او دهغه دحفاظت لپاره يوه ملائکه رالېږل کيږي چې دهغه کس ساتنه دمضره شيانو څخه ترهغه وخته پورې کوي ترڅو چې دخوب څخه بيداره شي.

دغه سورت دمجادلې يا د لرې کولو سورت او په قبر کې د ده دخاوند څخه دفاع کوي.

## دتلاوت سجده څه ډول اداء کيږي

کله چې پر تاسو باندې دتلاوت سجده لازميږي ،نو لومړی نيت وکړئ ،بيا پرته درکوع څخه يوه سجده وکړئ او دسلام کرځولو څخه پرته دعاء وکړئ.

## دقران کريم او پيغمبرانو مسائل

څو پيغمبران پېژنئ؛ نومونه يې واخلئ؟

رسول الله ﷺ ،آدم عليه السلام ، موسٰی عليه السلام، لوط عليه السلام ،عيسٰی عليه السلام ، داود عليه السلام ،ابرهيم عليه السلام ،اسمٰعيل عليه السلام ،ايوب عليه السلام ،يوسف عليه السلام ،يعقوب عليه السلام ، سليمان عليه السلام ،عمران عليه السلام ،شعيب عليه السلام اوداسې نور.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د مجلس په شروع او آخر کې څه باید ووایو؟ بسم الله او په رسول الله باندې درود شریف باید ووایو.

په قرآن کریم کې د څو پېغمبرانو نومونه په قرآن کې ذکر شوي دي؟ د اته ویشتو (۲۸) پېغبرانو نومونه په قرآن کریم کې ذکر شوي دی.

قرآن کریم څو سپارې دی؟ قرآن کریم د ېرش (۳۰) سپارې دی.

په قرآن کریم کې څو آیتونه راغلي دي؟ په قرآن کریم کې شپږ زره، شپږ سوه او شپږ شپېته (۶۶۶۶) آیتونه ذکر شوي دي په دې ارقامو کې اختلاف شته.

په قرآن کریم کې څو سجدې راغلي دي؟ په قرآن کریم کې څوارلس (۱۴) سجدې راغلي دي.

قرآن کریم کې یو سل او څوارلس (۱۱۴) سورتونه، پنځسوه څلویښت (۵۴۰) رکوعګانې، اووه اویازره څلور سوه نه دیرش (۷۷۴۳۹) کلمې، درې لکه څلویښت زره اووه سوه څلویښت (۳۴۰۷۴۰) توري او یو لک پنځه زره شپږسوه اوڅلور اتیا (۱۰۵۶۸۴) نقطې شته، او تر ټولو کوچنې آیات په سورت یاسین، او لوی آیات په سورت بقره کې دی، او تر ټولو کوچنې سورت د کوثر سورت دی.

رسول الله فرمایي: په قرآن کریم کې د عظمت او برکت څخه ډک آیات آیة الکرسي دی، څوک چې دا آیات لولي الله(ج) هغه ته یوه ملائکه استوي، چې د هغه نېکیانې ولیکي، او بدیانې یې پاکې کړي، او څوک چې د فرض لمونځ څخه وروسته آیة الکرسي ولولي، دده او د جنت تر منځ د مرګ څخه بغېر بل هیڅ شی جنت ته د تلو مانع نه ګرځي او څوک چې د خوب په وخت کې آیة الکرسي ولولي، د څلور خواو نه، دده او دده د ګاونډیانو ساتنه کوي.

قرآن کریم چا راغونډ کړی دی؟ حضرت عثمان(رض) قرآن کریم راجمع کړی دی.

قرآن کریم په څو کالو کې راجمع شوی دی؟ په درې ویشتو (۲۳) کالو کې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

رسول الله ﷺ په څو کلنۍ کې په پیغمبرۍ مبعوث شو؟په څلوېښت کلنۍ کې په پیغمبرۍ مبعوث شو.

د پیغمبرانو شمېر څومره دی؟ تقریباً یو لک او څلورویشت زره کم او زیات پیغمبران دي.

د ملائکو شمېر څومره دی؟ دالله (ج) څخه پرته نور چاته معلوم ندي.

څو کتابونه حق دي؟ څلور کتابونه حق دي،تورات ،زبور،انجیل او قرآن کریم،چې تورات په موسیٰ ع زبور په داوود ،انجیل په موسیٰ ع او قرآن کریم په رسول الله ﷺ نازل شوی دی.

رسول الله ﷺ په کوم کال کې دنیا ته راغلی دی؟په (۵۷۱) میلادي کال کې دنیا ته راغلی دی.

دهجري او میلادي کال ترمنځ څه فرق دی؟هجري قمري د رسول الله ﷺ د هجرت څخه اخیستل شوی دی او میلادي د عیسٰی (ع) د تولد (پیدا ایښت) څخه اخیستل شوی دی.

درود ویل څه وخت او په چا باندې ویل کیږي؟په رسول الله ﷺ باندې کله چې د هغه مبارک نوم واخیستل شي،درود ویل پر مونږ واجبیږي.

د قرآن کریم یادول کومې دُنیوي او اخروي ګټې لري؟قرآن کریم د روح غذا ده ،د دې په وسیله مونږ ته په دنیا او آخرت کې خوشحالي او لوړې مرتبې په نصیب کیږي.

## دقران کریم په سمه توګه ویل واجب دی.

ذکر کول او دهغې ګټې

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:آیا ستاسو څخه څوک کولی شي چې د اُحد دغره په آندازه عمل سرته ورسوي؟صحابه وو عرض وکړ چې څوک کولی شي چې هره ورځ د اُحد د غره په اندازه عمل سرته ورسوي ! ! !،رسول الله ﷺ وفرمایل :هریوه له تاسو څخه کولی شي چې هغه وکړي،صحابه وو ،وویل چې هغه څنګه

یارسول الله ﷺ ،ویې ویل:سبحان الله داحد څخه لوی ده،او سبحان الله والحمد الله ولا اله الا لله والله اکبر داحد دغره څخه لوی ده.
درسول الله ﷺ څخه پوښتنه وشوه،چې آیا لا اله الا الله دجنت کلي نده؟رسول الله ﷺ وفرمایل:هو ده ،مګر هره کلي غاښونه لري،که غاښونه ونه لري نو دروازه به خلاصه نه کړي.(بخاري)
رسول الله ﷺ وفرمایل:څوک چې هره ورځ سل(۱۰۰) ځلې سبحان الله ووایي نو زر(۱۰۰۰) نېکۍ ورته لیکل کیږي او زر (۱۰۰۰) ګناهونه یې معاف کیږي،او څوک چې هره ورځ سل(۱۰۰) ځلې سبحان الله وبحمده ولولي نو دقیامت په ورځ به دهغه څخه څوک زیات ثواب نه راوړي مګر هغه چې دده په شان وي یا دده څخه زیات وي.

**په کومو ځایونو کې چې ذکر کیږي ملائکې هغه ځای کې راغونډیږي**

دابو هریره رضي الله عنه او ابو سعید الخدري (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:په کوم ځای کې چې دالله (ج) بنده ګان سره راټول شي او الله (ج) یاد کړي ،نو حتماً ملائکې دهغو څخه ګردچاپېره راجمع کیږي او هغو ترخپلو اک لاندې راولي،اود الله(ج) تر رحمت لاندې راځي،سکون او دزړه آرامتیا هغو ته رسیږي،او الله(ج) ،هغوي دخپلو مقربو ملائکو په ډله کې یادوي.
د ابوسعید الخدري(رض) څخه روایت چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:دټولې دنیا دشیانو څخه، چې دلمر وړانګې پرهغو باندې لګیږي،ماته دهغو څخه داغوره دي یو ځل سبحان الله والحمد الله ولا اله الا الله والله اکبر ووایم.(مسلم)
د ابوذر غفاري(رض) څخه روایت دی چې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې: ترټولو غوره کلام کوم یو دی؟رسول الله ﷺ ورته وویل:هغه کلام چې الله(ج) خپلو ملائکو ته انتخاب کړی دی،یعنې: سبحان الله و الحمد الله. (مسلم)
الله(ج) موسی علیه السلام ته وویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دابو سعید الخدري(رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایل: دالله تعالی پیغمبر حضرت موسٰی علیه السلام دالله تعالی دربار ته وراندیز وکړ: ای زما پروردګاره! ماته داسې کلیمه راوښایه چې د هغې په وسیله تا یاد کړم، الله تعالی ورته وویل: ای موسٰی ع الا اله الا الله ووایه ، موسٰی ع ورته بیا وراندیز وکړ چې ای ربه ادا کلیمه خو ستا ټولنده ګان وایي، زه داسې کلیمه غوارم چې په خاص ډول یې، یواځې ما ته را زده کړې ،الله(ج) ورته وویل:ای موسٰی که چېرته اووه(۷) آسمانونه اوپرته له ما څخه هغه چې پدې کې دي،او اووه(۷) ځمکې په یوه پله کې کېښودل شي، او لااله الا الله په بله پله کې کېښودل شي ،نو دا به ترې درنده وي

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:که څوک په ورځ کې سل(۱۰۰) ځلې سبحان الله وبحمده ووایي نو ټول ګناهونه یې ،که د سمندر دځګ په آندازه هم وي ورته بخښل کیږي

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:هرڅوک چې غواړي سکون او آرامتیا پیدا کړي، نو باید دالله تعالی ذکر وکړي،په سبحان الله ، الله اکبر ،الحمد الله او داسې نورو سره.

څوک چې یو ځل درود شریف په رسول الله ﷺ ووایي ،نو الله(ج) دمیلیاردونو ملائکو پواسطه لس ځلې په دغه شخص درود ووایي.

**بسم الله الرحمن الرحیم او د مار ، ماته خوړل**

حضرت عیسٰی علیه السلام دمارانو یو ډېر ښه او ماهر نیونکی ولید چې ماران به یې نیول،لوی مار عیسٰی علیه السلام ته وویل: دغه مارنیونکي ته ووایه چې زه ډېر خطر ناک او زهر لرونکی یم،زماڅخه لرې شه،عیسٰی علیه السلام دغه خبره هغه سړي ته وکړه ،خوبیا هم هغه سړي دا مار ونیوه، کله چې عیسٰی (ع) د مار دا حالت ولید ،نو مار خپل سر د شرم له امله ټیټ کړ،اوعیسٰی (ع) ته یې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وویل:دغه مار نیونکي زما زور نلرو ،خو کله چې ده بسم الله الرحمن الرحیم وویلې ،نوزما زهر یې له منځه یوړل.ماته یې ماته راکړه او زه یې ونیولم

## د اية الكرسي ويل دتيرو كلا جوړوي

یو کس به هره شپه دخپلې رمې د ساتلو لپاره اية الکرسي ویله .نو یوه شپه ډېر ستړی و ،آیة الکرسي یې لانه وه خلاصه کړې چې ویده شو ،کله چې نیمه شپه شوه،او ویښ شو نو پاتې آیة الکرسي یې وویله،کله چې سهار شو نو په رمه کې یې یو کس ولید ،دهغه څخه یې پوښتنه وکړه چې دلته څه کوې،هغه چې ډار شوی و ، ویې ویل: زه هره شپه ستا د اوزو دپټولو لپاره راتلم ،خو هر وخت به مې دلته لوړ دیوالونه لیدل، خو کله چې نن شپه راغلم ومې لید ل چې په دیوال کې یو سوری پاتې شوی دی،نو ننوتلم ،کله مې چې اوزې واخیستې .غوښتل مې چې واووځم ،نو ومې لیدل چې سوری بند شوی وو ،شپون پوه شو .کله چې ما آیة الکرسي وویله نو سوری هم بند شو.

## د لا حوله ولاقوة الا باالله .... په ويلو سره دزندان څخه ازاد شو

سالم بن عوف(رض) د دښمن لخوا څخه ونیول شو ،پلار یې رسول الله ﷺ ته شکایت وکړ .رسول الله ﷺ ورته وویل:تقوا ولره،او ولا حوله ولاقوة.... ډیره وایه،لدې څخه وروسته د سالم پلار ولا حوله ولاقوة.... ډیره ویله ،یوه ورځ په خپل کور کې ناست وو ،ناڅاپه یې ځوی دبند څخه خلاص شو او سل اوښان یې هم دځانه سره راوستلي وو ،کورته ننوتو ،نو د ولا حوله ولاقوة.... په ویلو سره یې پلار دښمن په غفلت کې واچو ،سالم اوښان هم دهغوي دقرارګاه څخه دځانه سره راوستلي وو.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

**حضرت ابراهیم علیه السلام دالله(ج) په نوم خپله ټوله شتمني وبخښله**

کله چې الله (ج) ابراهیم (ع) ته خلیل وویلې، نو ملائکو وویل: ابراهیم خو اولادونه او ښځې لري، څنګه دې هغه خپل خلیل وګرځولو، الله (ج) ملائکو ته وویل: زما خلیل زما څخه پرته دبل هیڅ چا سره مینه نه لري او جبرایل(ع) او میکایل (ع) ته یې وویل چې تاسو لاړ شئ هغه وازمایئ.

حضرت ابراهیم (ع) ډېر زیات پسونه او څلور سوه سپي یې درلودل او د سپیو په غاړو کې یې ګنګروګان اچولي وو، جبرائیل او میکائیل (ع) خپل ځانونه د انسان په شکل جوړ کړي وو، د حضرت ابراهیم (ع) څخه یې پوښتنه وکړه ولې دې د سپیو په غاړو کې ګنګروګان اچولي دي؟ ابراهیم (ع) ورته وویل: دنیا نجسه ده او د هغې غوښتونکي سپي دي بیا ابراهیم (ع) هغوي ته وویل: راځئ ډوډۍ وخورئ، هغوي ورته وویل: مونږ د خوراک د بدلې دورکولو پرته ډوډۍ نخورو، ابراهیم (ع) ورته وویل: سمه ده، کله چې په ډوډۍ خوړلو سره شروع کوئ نو بسم الله الرحمن الرحیم ووایئ او کله مو چې ډوډئ خوړل بس کړه نو الحمد الله ووایئ، کله چې هغوي دواړو بسم الله وویله نو داسې ښکلی غږ او تلفظ یې وکړ چې دابراهیم (ع) ډېر خوښ شو، هغوي ته یې وویل: یو ځلي یې بیا ووایئ خپل ټول پسونه تاسو ته درکوم، هغوي بیا وویلې، بیا ابراهیم(ع) هغوي ته وویل: یو ځلې یې بیا ووایئ، هغوي ورته وویل: مونږ پرته دبدلې ورکولو څخه څه نه وایو، ابراهیم (ع) ورته وویل: زه چې څه لرم هغه ستاسو، هغوي بیا بسم الله وویلې، یو ځلې بیا ابراهیم (ع) ور څخه غوښتنه وکړه، هغوي ورته وویل چې مونږ د بدلې ورکولو څخه پرته څه نه وایو، حضرت ابراهیم (ع) ورته وویل: داځل خپل نفس تاسو ته درکوم او ستاسو شپونکی کېږم، لدې څخه وروسته جبرائیل او میکائیل (ع) وویل: په رښتیا چې ته دالله (ج) خلیل او دوست یې، مال او شتمني دې ستا وي، الله (ج) دې په هغې کې برکت واچوي، دا جبرائیل دی او زه میکائیل یم، حضرت ابراهیم (ع)

ورته وویل چې زه هم ابرهیم یم،څه شی مې چې د الله(ج) په لاره کې چاته ورکړه هغه بېرته نه اخلم،الله(ج) ابراهیم(ع) ته امر وکړچې دغه مالونه خرڅ کړه، په هغې باندې ځمکه واخله او هغه د الله(ج) په نامه باندې وقف کړه.

## دروژې مسائل

رسول اللهﷺ فرمايلي دي: هرڅوک چې درمضان دمیاشتې روژه ونیسي او دکوچني اختر څخه وروسته دشوال دمیاشتې شپږ روژې هم ونیسي.نو داسې ده لکه چې تول کال یې روژه نیولې وي(مسلم ابو ایوب انصاري)

۳۶۰=۱۰*۳۶ ،یعنې درمضان میاشتې روژې او دشوال دمیاشتې شپږ روژې . لس ثوابه لري، هرڅوک چې چې شپږ د پرش(۳۶) روژې ونیسي نو درې سوه شپېته(۳۶۰) ورځې ورته حسابیږي

رسول اللهﷺ فرمايلي دي: هرڅوک چې روژه تي ته روژه ماتې ورکړي نو د روژه تي په اندازه اجر او ثواب ورته ورکول کیږي ،بېدون له دې څخه چې دروژه تي په اجر او ثواب کې کوم کمی راشي.

رسول اللهﷺ فرمايلي دي: کوم روژه لرونکی چې بېهوده خبرې او بېهوده کارونو پرې نږدي نو الله(ج) دهغه تندې ته کوم ضرورت نه لري(بخاري ابو هریره (رض))

رسول اللهﷺ فرمايلي دي:هرڅوک چې ستاسو څخه روژه نیسي نو په خرما سره دې روژه ماته کړي، که خرما نه وي نو په اوبو سره روژه ماته کړئ،ځکه چې الله (ج) اوبه دپاکوالي وسیله ګرځولې ده.(ترمذي ابوداوود)

د حضرت حفصه(رض) څخه روايت دي چې رسول اللهﷺ به څلورشیان هیڅ کله دیاده نه ویستل،دعاشورا دورځې روژه،د ذی الحجې دمیاشتې اولې نهه(۹) روژې،دهرمیاشتې درې روژې او دوه رکعته دسهار څخه مخکې لمونځ.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

رسول الله ﷺ وفرمایل: د دوشنبې او پنجشنبې په ورځو کې دانسانانو اعمال دالله (ج) مخې ته وړاندې کیږي، نوزه داسې خوښوم چې زه روژه یم او زما اعمال دالله (ج) مخې ته وړاندې شي. (ترمذي ابوهریره (رض))

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: زمونږ او د اهل کتابو (یهودو او مسیحیانو) دروژو ترمنځ فرق په پښمني کې دی.

رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅ یو عبادت دالله (ج) په وړاندې د ذی الحجې د میاشتې دلومړۍ لسیزې (دلوی اختر څخه لس ورځې مخکې) دعبادت څخه غوره ندی. د ذی الحجې دمیاشتې هره روژه دیو کال روژو په آندازه ثواب لري. دهغې دهرې شپې عبادت دلیلة القدر دشپې په آندازه ثواب لري (ترمذي ابوهریره)

رسول الله ﷺ مسلمانان د دوه ورځو دروژې (دکوچني اختر او لوی اختر) دورځو د روژې څخه منع کړي دي (بخاري او مسلم ابوهریره (رض))

رسول الله ﷺ دعاشورا د ورځې روژه نیولې وه او ویې ویل: که ترېل کاله پورې ژوندی ووم نو حتماً د تاسوعا (دمحرم) روژه هم نیسم (مسلم ابن عباس)

## ایا روژتي خپله ښځه ښکلولی شي؟

یو سړی رسول الله ﷺ ته راغی نو د رسول الله ﷺ څخه یې په روژه کې د ښکلولو او لمس کولو پوښتنه وکړه، نو هغه ته یې اجازه ورکړه، یو بل سړی راغی، پوښتنه یې وکړه، هغه یې په روژه کې دمباشرت (نژدیوالي) څخه منع کړ. وروسته مې ولیده، هغه سړي ته چې اجازه ورکړل شوې وه هغه سړی سپین ږیری وو او هغه سړي ته چې اجازه نه وه ورکړل شوې هغه سړی ځوان و. (ابوداوود ابوهریره (رض))

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د روژه تي خوب عبات دی، خاموشي یې تسبیحات دي، عمل یې دوه برابره دی او دعاء یې قبوله ده او گناهونه یې دبخښنې او عفوې وړ دي (بیهقي)

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

یو سړي روژه وخوړله نو رسول الله ﷺ ته یې وویل چې هلاک شوم
یوه ورځ یو سړی رسول الله ﷺ ته راغی ،ورته یې وویل:هلاک شوم یا رسول الله ،هغه مبارک ﷺ ورته وویل څه شي ته هلاک کړې؟سړي وویل:په روژه کې په خپله ښځه باندې واقع شوم،رسول الله ﷺ ورڅخه پوښتنه وکړه ،کولی شې چې یو غلام آزاد کړې؟سړی وویل نه،کولی شې چې دوه میاشتې روژه ونیسې؟سړي ورته وویل نه،کولی شې چې شپېتو (٦٠) مسکینانو ته ډوډۍ ورکړې؟سړي ورته وویل:نه ،وروسته رسول الله ﷺ ورته خرما ورکړې،چې هغه په مسکینانو باندې صدقه کړه،هغه سړي ورته وویل:ای رسول الله ﷺ زما څخه بل مسکین شته،رسول الله ﷺ داسې وخندل چې مخکیني مبارک غاښونه یې ښکاره شول،او ورته یې وویل:څه لاړ شه اودخپلو اولادونو سره دې وخوره.
جبرائیل(ع) درې کسانو باندې هلاکت وویلو اورسول الله ﷺ وربانديې آمین ویلی دی،صحابه وو روایت کړي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ مونږ ته وویل:چې راشئ، مونږ حاضر شو، کله چې رسول الله ﷺ دممبر په لومړي پله قدم کېښود نو ویې وویل آمین، په دوهمه پله یې هم آمین ووایو، په دریمه پله یې هم آمین وویلو، دخبرو دخلاصون څخه وروسته مونږ ورته وویل: ای رسول الله ﷺ نن موله تاڅخه داسې خبرې واورېدې چې مخکې مو نه وې اورېدلی، رسول الله ﷺ وفرمایل:کله چې دممبر په اوله پله پورته شوم ،نو جبرائیل وویلې: هلاک دې شي هغه کسان چې میاشت درمضان پیدا کړي ،خو داپکې ونه بخښل شي ما وویل آمین، کله مې چې په دوهمه پله پښه کېښوده نوجبرائیل وویل: هلاک دې شي هغه کسان چې ،ستا نوم واخیستل شي او هغوي په تاسو درود ونه وایي ماوویل آمین، کله چې مې چې په دریمه پله قدم کېښود ، نوجبرائیل وویل:هلاک دې شي هغه کسان چې مور او پلار یې زاړه وي اودوی دخدمت له امله جنت ته داخل نشي،نو ما هم وویل آمین

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

رسول الله ﷺ وفرمایل:روژه دگناهونو لپاره سپر ده او گناهونه داسې ختموي لکه اوبه چې اور ختموي(ترمذي معاذ (رض) )

په هلک او انجلۍ باندې کله روژه فرض کیږي؟

کله چې بالغان کیږي،نو په هغوی باندې روژه فرض کیږي

د روژې په میاشت کې د ورځې لخوا څخه مسواک وهل او یا د غاښونو برس کول جواز لري؟احتیاط پکې شرط دی،مسواک وهل جواز لري

## د روژه خور سزا

څوک چې دکوم شرعي عذر څخه پرته روژه خوري نو حکم یې څه دی؟شپېته (۲۰) پرله پسې روژې دې ونیسي،اویا دې غلام آزاد کړي اویا دې شپېتو (۲۰) مسکینانو ته یو وخت ډوډۍ ورکړي

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:څوک چې دکوم شرعي عذر څخه پرته د روژې دمیاشتې یوه روژه وخوري نو که ټول عمر هم روژه ونیسي، نو هغه څه چې یې له لاسه ورکړي وي په لاس به یې رانه وړي(بخاري ابوهریره (رض) )

## دتراویح دلمانځه دعاء

سُبحَانَ ذِی المُلكِ وَالمَلَكُوتِ سُبحَانَ ذِی العِزَّةِ وَالعَظمَةِ وَالهَيبَةِ وَالقُدرَةِ وَالكِبرِيَاءِ وَالجَبَرُوتِ سُبحَانَ المُلكِ الحَيِّ الَّذِی لَا يَنَامُ وَلَا يَمُوتُ سُبُوحٌ قُدُّوس رَبُّنَا وَرَبُّ المَلٰئِكَةِ وَالرُّوحِ اَللّٰهُمَّ أَجِرنَا مِنَ النَّارِ يَا مُجِيرُ يَا مُجِيرُ يَا مُجِيرُ

دتراویح دلمانځه دهروڅلورو رکعتونو څخه وروسته دغه دعاء یا دقرآن کریم څو آیتونه لوستل کیږي

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## لوی (کبیره) ګناهونه

کبیره ګناهونه دولس (۱۲) دي:د الله (ج) سره شرک، دبې ګناه نفس وژل، په پاک لمنو پسې تهمت لګول، زنا کول، دجهاد څخه تېښته، سحر او جادو کول، دیتیم مال خوړل، دمور او پلار شرعي حق نه منل، په حرم شریف کې ګناه کول. غلا کول، سود او رباء کول او شراب خوړل.

قسم خوړل په ناحقه، رشوت، پرته له عذر څخه روژه خوړل، لمونځ نه کول، دښځې نافرماني دمېړه څخه اوداسې نور ګناهونه هم شته چې ددې په شان وي، نو کبیره ګناه ورته وایي، لکه لواطت، غیبت اوداسې نور...

## دکبیره ګناهونو سزا

دشراب خور شزا څه شی ده؟شراب خور په دنیا کې اتیا(۸۰) شرعي دُرې وهل کیږي.

آیا شراب خورلمونځ کول شي؟نه، دمستۍ او نشې په حالت کې نشې کولی چې لمونځ وکړي، باید دوباره اودس وکړي او که چېرته دمنې دوتلو داحتمال شک وکړي نو غسل دې وکړي شراب دجنابت مور ده.

حضرت علي (رض) قسم خوري چې درسول الله ﷺ څخه مې واورېده چې ویل یې: شراب خور دبت پرست په شان دی.

دشراب خور سره مه کېنئ، جنازې ته یې مه ځئ، خپله لور مه ورکوئ او مه دهغه لور کوئ.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:زنا کار انسان د زنا په وخت کې مسلمان ندی او شراب خور انسان دشراب څښلو په وخت کې مسلمان ندی.

## هر نشه کونکی شی شراب دي

دعبدالله بن عمر (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:هرنشه کونکی شی (یعنې هرڅښونکی شی چې دهغې په څښلو سره انسان مست او نشه کیږي) دشرابو حکم ورباندې کیږي او

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هرڅوک چې په دُنیا کې شراب وڅښي او په داسې حال کې مړ شي چې هر وخت شراب څښي نو په آخرت کې د جنت د پاکو شرابو د څښلو څخه محروم دی (مسلم)

د انس (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د شرابو په باره کې په لسو کسانو لعنت ویل شوی دی، څوک چې د انګورو اوبه او داسې نور په دې مصقد برابروي (که څه هم د نورو لپاره یې تیاوري)، څوک چې د ځان لپاره د انګورو اوبه یا نور څه برابروي، څوک چې هغه څښي، د هغې ساقي، د هغې انتقالونکی، د هغې بارونکی، د هغې خرڅونکی، د هغې اخیستونکي، څوک چې هغه نورو ته ډالۍ کوي او څوک چې د هغه پیسې خوري (مسلم)

## شراب خور د زنا کار څخه بدتر دی

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د شراب خور ګناه د زنا کار څخه لویه ده، ځکه چې زنا کار په هغه وخت کې الله (ج) پیژني خو شراب خور په هغه وخت کې د الله (ج) څخه بې خبره او بې هوشه وي

## د شراب خور کورته د حضرت عمر (رض) کتل

یوه ورځ حضرت عمر (رض) دیو کور د سوري څخه هغه کور ته وکتل، ګوري چې یو ور زوړ سړی شراب خوري، عمر (رض) د کور په دیوال باندې پورته شو او ورته یې وویل چې ولې شراب څښې؟ هغه سړي ورته وویل: ما یو جرم وکړ او تا درې جرمونه وکړ، الله (ج) فرمایي: وَلاَ تَجَسَّسُوا ولې زما دعیب پلټنه وکړه، الله (ج) فرمایي: وَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا ته ولې د دروازې پر ځای په دیوال راواوښتې، په بل ځای کې الله (ج) فرمایي: د خپلو کورونو څخه پرته نورو کورونو ته تر هغه وخته پورې مه داخلېږئ ترڅو مو چې د اُنس او محبت خبرې ونه کړئ او سلام مو نه وي اچولی، ولې تا داسې ونه کړه ای امیر المؤمنینه؟!، حضرت عمر (رض) د دې خبرو په اورېدو سره د کور څخه ووتو او

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ویې ویل:هلاکت دی زما لپاره که چېرته الله(ج) ما معاف نه کړي، سړي دخپل
گاونډي ښځه خپل جرم پېتولو ،خو اوس به وایي چې عمر زه ولیدلم
رسول الله ﷺ فرمایلي دي:څوک چې له تاسو ښځه مخکې وو ،ویل به یې چې زنا مه
کوئ،خوزه تاسو ته وایم هرڅوک چې نامحرمو ته په وگوري زنا یې وکړه
رسول الله ﷺ فرمایلي دي:الله(ج) به دقیامت په ورځ د دریو کسانو سره خبرې
نکوي،هغوی ته به نه گوري او دهغوي لپاره دردناکه عذاب دی. یو زوړ
زناکار، بل دروغجن حاکم اوبل غریب او فقیر کبرجن. مسلم ابوهریره (رض))

## د واده لرونکي زنا کار سزا څه ده؟

دواړو دواده لرونکو زناکارانو،یعنې د ښځه لرونکي زنا کار سړي اود مېړه
لرونکې زناکارې ښځې سزا سنگسار ده،دڅلورو نفرو مسلمانو،عاقل،بالغ
او عادل په شاهدۍ سره.

## دمجرد زنا کار سزا څه شی ده؟

دواړه زنا کار چې دواړه ځوانان او مجرد وی ،عاقل اوبالغ وي،هریو به سل
شرعي دُرې وهل کیږي
رسول الله ﷺ فرمایلي دي:زنا مه کوئ ځکه چې په هغې کې شپږ خصلتونه
دی،درې یې په دنیا کې او درې یې په آخرت کې دي درې دُنیوي خصلتونه یې
پتي، دعمر لنډوالی او تل به غریب وي،
درې اُخروي خصلتونه:دالله(ج) قهر او غصب ، سخت حساب به ورسره کیږي ،
د دوزخ سخت عذاب
اوترټولو بدترینه زنا خپلو محرماتو سره ده،لکه عمه ،مور ،خاله ،خور او
داسې نور...

## د زنا ضرر

ډېر روحي مشکلات ،تناسلي امراض،میکروبي امراض لکه ایډز ،سوزاک او همدارنګه بې اولادي یاشنډوالی،خارښ اوداسې نور د زنا څخه منځته راځي

## د زنا کار درې نصیحتونه

یو سړي دعیسٰی (ع) په وخت کې زنا وکړه ، حضرت عیسٰی (ع) ته یې وویل:ما د زنا دګناه څخه پاک کړه،حضرت عیسٰی (ع) خلکو ته وویل چې فلاني ځای ته راشئ ترڅو هغه سړی سنګسار کړو ،ډېر خلک په هغه ځای کې راټول شول،زنا کاره سړی یې په یوه کنده کې ودرو ترڅو چې سنګسار یې کړي،زنا کاره سړي چغه کړه ای خلکو ! چا چې زنا کړي وي او سنګسار شوي نه وي نو مادې نه ولي اوله دې ځای څخه دې لاړ شي، کله چې خلکو سوچ وکړ نو ټول خپلو کورونو ته ولاړل،یواځې حضرت عیسٰی (ع) او حضرت یحیٰ (ع) پاتې شول،وروسته یحیٰ (ع) دهغه زناکاره سړي څخه پوښتنه وکړه: ای ګنهګاره ماته نصیحتونه وکړه، زناکاره سړي ورته وویل:خپل نفس دهغه له خواهشاتو سره مه پرېږده، یحیٰ (ع) ورته بیا وویل:بیاهم ووایه،هغه ورته وویل:هیڅ یو ګنهګار دهغه دګناه په سبب مه څوروه،یحیٰ (ع) ورته بیا وویل: بیا هم څه ووایه،هغه ورته وویل:هیڅکله په غصه کیږه مه حضرت یحیٰ (ع) وویل: همدا درې نصیحتونه زما لپاره کافي دي.

## دقمار باز سزا څه ده؟

قمار یو شیطاني اوبد عمل دی،باید لږ څه تهدید او بندي شي.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:جنت ته به نه داخلیږي،دمور اوپلار آزارونکي ، قمار باز او شرابي.(دارمي عبدالله بن عمر (رض) )

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:په هغه ځمکه باندې چې لمونځ کیږي اویا دالله (ج) ذکر ورباندې کیږي هغه ځمکه د اوومې ځمکې څخه خوشحالیږي او دنورو شاخوا ځمکو څخه په ځان باندې فخر کوي

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

همدارنګه په هغو ځمکو چې قمار، زنا او يا نور بد کارونه کيږي، نو په هماغه اندازه د خپلو شاوخوا ځمکو څخه شرميږي.

## دلواطت کار سزا څه ده؟

بايد ديوال ورباندې وغورځول شي، ووژل شي او يا وسوځول شي.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: تر ټولو ډېره وېره چې زه په يې په خپل اُمت باندې لرم هغه د لوط (ع) د قوم عمل (لواطت) دی. (ابن ماجه)

ويل کيږي کله چې يو څوک لواطت وکړي د الله (ج) عرش د ډېر قهر او غضب څخه په لړزه راځي، ملائکې د قل هو الله احد سورت وايي ترڅو چې د الله (ج) قهر او غضب سوړ شي.

## حضرت علي (رض) لواطت کوونکي سوځولي وو

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې دلوط (ع) د قوم عمل ترسره کړي هغه ملعون دی.

حضرت علي (رض) فاعل او مفعول وسوځول، او حضرت ابوبکر صديق (رض) ورباندې د ديوال راچپه کړی وو.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: هرڅوک چې درې ځلې لواطت وکړي، الله (ج) هغه کس ته د ښځينه جنس د شهوت رغبت او علاقه ورکوي.

هرڅوک چې په څه شي ځان ووژني، نو د قيامت په ورځ به په هماغه شي عذاب ورکوي.

## دلواطت زيانونه

دلواطت له امله ښځه د نارينه څخه خوند نشي اخيستلی، جنسي کمزوتيا ورته پيدا کيږي، عصاب يې کمزوري کيږي، د تناسلي آلې ميکروبې کېدو امکان، د شنډوالي يا بې اولادۍ امکان هم منځته راځي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې ديو چا يولوېشت (يو وجب) ځمکه په ظلم سره ونيسي ، دقيامت په ورځ به هماغه ځمکه ورته په غاړه کې د کړي په شکل اچول کيږي.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: هرڅوک چې خپل مال او شتمني د سود دکار وبار له لارې زياته کړي، هغه فقر او غريبي ده.

## دقاتل سزا څه شي ده؟

قاتل بايد دخپل عمل په سزا ورسيږي، يعنې قصاص شي او يا دمقتول د وارثانو لخوا وبخښل شي.

هغه څوک چې جادو کوي او د نورو ژوند دخپلې ګټې لپاره خرابوي سزا يې څه ده؟ که چيرته د قاضي په يو ځل يا دوه ځله نصيحت سره أصلاح نشو نو قاضي يې دعبرت لپاره دقتل حکم کولی شي.

## د غل سزا څه شي ده؟

څوک چې عاقل او بالغ وي لس(۱۰) درهمه يا دلسو(۱۰) درهمو څخه زيات اويا هغه شی چې قيمت يې لس(۱۰) درهمه وي د امن او محفوظ ځای څخه غلا کړي، په هغه صورت کې چې دوه عاقل او بالغ کسان پرې شاهدي ووايي، واجب دي چې ښي لاس يې دبند څخه غوڅ شي، که چيرته نوموړی غل دلاس دغوڅولو څخه وروسته د دوهم ځل لپاره بيا غلا وکړي، نو بايد چپه پښه يې پرې شي او که د دريم ځل لپاره غلا وکړي نو بايد ترلنډ وخته پورې زنداني شي، ترڅو چې توبه وباسي او توبې ته يې ورڅخه ښکاره شي.

رسول الله ﷺ وايي که چيرته زما لور (فاطمه(رض) ) هم غلا وکړي نو لاس يې غوڅوم

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د الله (ج) لعنت دې وي په هغه چا باندې چې د چرګې هګۍ غلا کوي، لاس به يې غوڅيږي او هغه څوک چې پړی غلا کوي لاس به يې پرې کيږي (مسلم او بخاري ابو هريره (رض)

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:په الله(ج) قسم که زما لور فاطمه (رض) غلا وکړي نو لاس به يې پرې کړم.

## دلاس دغوڅولو دسزا حکمت او نورې سزاګانې

نن ورځ زياتره غير مسلمان پوهان پدې عقيده دي چې د اسلامي احکامو تطبيق دشرابو او ايډز دويروس څخه دخلاصون يو اخيني لاره ده او بس دطب،زراعت اومالداري نظام پدې نظر دي چې دبدن سالم ساتلو لپاره بايد دبدن څخه فاسد غړي غوڅ شي اويا دبوټو درشد او نمو لپاره بايد مضره څانګې او بناخونه له منځه يو وړل شي.

دقاتل ، زنا کار او لواطت کار له منځه وړل هم پـه همدې ډول دي ، هغوي هم جامعـه ککړوي ،دسرطان پـه شان دي،زياتره د غـلا ،او دخپلو(مـور، خور او نورو ) سره د زنا جنايات هم دشراب خورۍ له امله منځته راځي.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:کل مسکر خمر وکل مسکر حرام:هرنشـه کونکي شی شراب دي او هر نشه کونکي شی حرام دی.

## دکوم شرعي عذر څخه پرته دلمونځ نه کونکي سزا

لمونځ نه کوونکی بايد زنداني شي.

امام ابوحنيفه (رح) وايي:دلمونځ پرېښودونکی بايد زنداني کړئ ، ترڅوچې د لمونځ کولو اهتمام وساتي

امام احمد بن حنبل (رح) وايي:په قصدي ډول سره دلمونځ پرېښـودونکی بايد ووژل شي، که چېرته مړ شو نو هغه مه لمبوئ او کفن مه ورکوئ او په هغه باندې جنازه مه کوئ او دمسلمانانو په هديره کې يې مه خښوئ.

امـام شـافعي(رح) وايي:دلمـونځ پرېښـودونکی ووژنئ،مګـر دکفـر تـر حـده نه،څکه هغه بايد پـه پاکـه توره سره ووژل شي،خو هغـه دمسـلمانانو لـه جملې څخه شمېرل کېږي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## دیولمونځ نه کوونکي کبسه چې د زنا کار څخه بدتره دی

یوه ورځ یوه ښځه د بني اسرائیلو څخه موسٰی(ع) ته راغله او ورته یې وویل: ګناه مې وکړه او وروسته مې توبه وو بستله، ماته دعاء وکړه چې الله(ج) ماته بخښنه وکړي، موسٰی (ع) ورته وویل چې هغه ګناه کومه ده، هغې ورته وویل چې زنا مې وکړه ،ماشوم مې پیدا شو او هغه مې وواژه، موسٰی (ع) د دې ګناه له وېرې څخه ښځې ته وویل چې و اُوزه ، چې د آسمان څخه اور رانازل نه شي، ستا دبدي څخه ما ونه سوځوي، ښځه دباندې لاړه ،جبرائیل(ع) دموسٰی (ع) څنګ ته راغی اوویې ویل: الله(ج) وایي ولې دې هغه توبه کوونکي ښځه وویستله؟ آیا دهغې څخه دې بدتره نه دې لیدلي ،موسٰی (ع) ورته وویل چې دهغه څخه بدتره څوک دي؟جبرائیل(ع) ورته ویل چې هغه څوک چې په قصدي ډول سره لمونځ نه کوي

که یوڅوک د دوه رکعته لمونځ لپاره په میلیونونه افغانۍ صدقه وکړي اویا یو څوک دهغه پرځای سل رکعته لمونځ وکړي، بیا هم هغه شخص د مسؤلیت څخه نه خلاصیږي

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: دقیامت په ورځ لومړی پوښتنه دلمونځ کیږي

لمونځ نه کوونکي ته دهیڅ عمل په بدل کې ثواب نه ورکول کیږي، حتی رسول الله ﷺ فرمایلي دي، چې دلمونځ نه کوونکي د وژلو امر باید صادر کړئ ،څوک چې دکوم شرعي عذر څخه پرته لمونځ نه کوي ، باید داسې وهل وخوري چې دبدن څخه یې وینې روانې شي

متاسفانه زمونږ زیاتره ناخبره مسلمانان ورونه وایي چې مسلماني خو یواځې په لمونځ کې نده ،زمونږ زړه پاک دی اوداسې نور...کله چې رسول الله ﷺ او الله (ج) دلمونځ نه کوونکي دُنیوي او اخروي سزا صادره کړې هم ده ،خو بیا هم مونږ غافله یو.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## رسول الله ﷺ گنهکار سړي ته وويل چې دروغ مه وايه

يو کس رسول اللهﷺ ته راغی او وويې ويل:غواړم چې مسلمان شم ،ولې شراب ،غلا ، زنا او دروغ مې د ېر خوښېږي او هغه نشم پرېښودلی،يو اځې يو له دې گناهونو څخه ماته په يوې باندې د پرېښودلو امر وکړه چې هغه پرېږدم،رسول اللهﷺ هغه ته وويل:دروغ پرېږده ، هغه سړي وعده وکړه چې دروغ به نه وايم ، هماغه وو ،چې يو شپه يې دزنا نيت وکړ نو دځانه سره يې وويل چې سبا درسول اللهﷺ سره مخامخ شم ،نو که دروغ ورته ووايم وعده خلافي کيږي او که رښتيا ووايم نو د زنا حد راباندې جاري کيږي،هماغه وو چې زنا يې ونه کړه يوځل بيا يې دشرابو څښلو نيت وکړ او دغلا لپاره يې نيت وکړ ،خو مخکينی سوچ يې وکړ ،سبا ورځ د رسول الله څنگ ته لاړ او ورته يې وويل چې تا په ما باندې درښتيا ويلو او د دروغو نه ويلو له امله ،دتمامو گناهونو دروازې بندې کړې.

رسول اللهﷺ فرمايلي دي:کله چې يو انسان دروغ ووايي،نو ملائکې د دروغو دبدبويۍ څخه ديو ميل په آندازه لرې ځي.(ترمذي عبدالله بن عمر (رض) )

د رسول اللهﷺ په وړاندې بدترينه اخلاق دروغ ويل دي

رسول اللهﷺ فرمايلي دي:تول دروغ دبني آدم لپاره ليکل کيږي ، خو درې دروغ ورته نه ليکل:

يو ،په جنگ کې دروغ ويل، بل دښځې سره د سړي دروغ ويل چې ترڅو هغه راضي کړي او بل هغه دروغ چې د دوه کسانو تر منځ دپخلا ينې او صلحې لپاره کيږي.(طبراني)

## توبه وکړئ الله (ج) مهربان دی

رسول اللهﷺ فرمايلي دي: الله(ج) ښي ملائکه په چپې ملائکې باندې آمره مقرره کړې ده.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کله چې يو څوک ښه کار وکړي، نو لس چنده نيکي ورته ليکل کيږي او که څوک گناه وکړي نو دښي اوږې ملائکه د چپې اوږې ملائکه ترشپږو ساعتونو پورې نه پرېږدي چې دهغه کس گناه وليکي ،څکه که چېرته توبه وباسي او پښېمانه شي، که توبه ونباسي نو يوه گناه ورته ليکل کيږي (طبراني او بيهقي)

**بدکاره ښځې سپي ته اوبه ورکړي نو الله (ج) ورته بخښنه وکړه**

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:يوه بدکاره ښځه د اوبود څاه دڅنگ څخه تېرېده ،ويې ليده چې د يو سپي ژبه راوتلې وه ،نژدې وه چې مړ شي ،دبدعمله ښځې په زړه کې رحم راغی ،دڅاه بوکه اوپړی نه ،نو خپل څادر يې په خپلې څرمنې موزې پورې وتړو او د څاه څخه يې اوبه راوويستلې اوسپي ته يې ورکړې،چې دهمدې عمل پواسطه يې ټول گناهونه وبخښل شول

يو صحابي وويل:ای رسول الله ﷺ آيا ژوندیو ژويو ته اوبه ورکول هم ثواب لري؟رسول الله ﷺ وفرمايل:هو ،اوبه ورکول هرڅاکښ ته چې تږی او وږی وی ،ثواب او اجر لري(بخاري او مسلم ابوهريره(رض))

**د يونس (ع) توبه ويستل دماهي په گېډه کې**

حضرت يونس (ع) درې دېرش (۳۳) کاله ،د دين وعظ او نصيحت وکړ ،خو يواځې دوه نفرو ايمان راوړ، د يونس (ع) حوصله آخري حد ته ورسېده او نصيحت کول يې بس کړ،که نصيحت ته يې ادامه ورکړی وی،نو کېدای شی چې نورو کسانو هم ايمان راوړی وی.خو يونس (ع) په قهر شو ،دسيند په لوري لاړو او په کشتۍ کې سپور شو،کله چې د سيند منځ ته ورسېدو ،نو يوغټ ماهي د کشتۍ مخه ونيوله،او خپله خوله يې خلاصه کړه،گويا چې څه

غواړي، دکشتۍ سوارلی په خپلو کې پچه واچوله ،نوپچه د یونس(ع) په نامه
باندې راووتله ،ماهي هغه تېر کړ.
حضرت یونس(ع) شپه او ورځ دماهي په ګېډه کې توبه ویستله ،اوویل به یې
لا الـه الا انتَ سبحانک انـي کنـت مـن الظـالمین وروسـته د ډېرې تـوبې
ویستلوڅخه یې توبه قبوله شوله او ماهي ،حضرت یونس(ع) د سیند په غاړه
ښه په امانت سره کېښودلو.
وروسته د الله(ج) په قدرت سره یو کدو راشین او غټ شو ، حضرت یونس(ع)
دهغه کدو څخه خوراک کولو اودهغه څخه به یې قوت لاسته راوړلو ،وروسته
دخپل قوم په لوري لاړو.
رسول الله ﷺ فرمایلي دي:الله(ج) د خپل مخلوق دپېدا ښت څخه مخکې یو
کتاب پېدا کړ او په هغه کتاب کې یې داسې ولیکل:زما رحمت هروخت کې
زما په غضب باندې مخکې شوی او غالبه شوی دی،دغه خبره دالله(ج) په
وړاندې دهغه په عرش باندې لیکل شوې ده.(بخاري او مسلم ابوهریره
(رض))
ټول واړه او صغیره ګناهونه په صدقه ، خیرات او نېکو کارونو سره بخښل
کیږي او ټول لوی او کبیره ګناهونه په توبه او لمونځ کولو سره په دې شرط چې
دوباره هغه کار ونه کړي بخښل کیږي.نوراځئ چې توبه اوباسو ،دسبا ضمانت
نه کیږي چې ژوندي به یو که مړه به یو.
څوک چې یوه دیني مسئله نورو مسلمانانو ته ورسوي اویا یې ورته یاده کړي،
نودزرو نفلو رکعتونو څخه زیات اجر او ثواب ورته ورکول کیږي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## دوهم فصل

## زړه راښکوونکې کيسې

درسول الله ﷺ دژوند په باره کې راجح معلومات، پندونه (نصيحتونه) او د رسول الله ﷺ دځلورو يارانو ابوبکر صديق(رض)، عمر(رض)، عثمان غني(رض)، او علي(رض) ژوند، اود دوي د ژوند نور مسايل پدې فصل کې ذکر شوي

### دمشکلاتو دعا او د دنيا او اخرت ارزوګانې(غوښتنې)

حَسبِيَ اللهُ لا اله الا هُو عَلَيهِ تو کَلتُ وَهُوَ رَبُّ العَرشِ العَظِيمِ

ترجمه: کافي دی يوازې زما لپاره الله (ج) بغير د هغه نه بل الله(ج) نشته، په هغه مې توکل کړی، چې

هغه دی دلوي عرش خاوند. هرڅوک چې دا دعا سهار او ماښام اووه، اووه ځله ولولي، دټولو دُنياوي او اخروي کارونو لپاره ورته کفايت(بسنه) کوي(ابو داوود)

کوښښ وکړي چې په ورځ کې څو ځلې دا دعا ولولئ، چې اجر او ثواب يې دوام لري لااله الله وَحدَهُ لاشَرِيکَ لَهُ احدا صَمدا لم يَلِد وَلَم يُولَد وَلَم يَکُن لَهُ کُفُوا احَد.

### دشيطان دشر څخه حفاظت

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې د سهار يو ځلې اعوذ بالله سميع العليم من الشيطن الرجيم ووايي، تر ماښامه پورې د شيطان دشر څخه په امان کې ساتل کيږي(کنزالعمال)

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: دوه کلمې دي چې په ژبه سپکې دي او په تله کې درنې دي او د الله (ج) په وړاندې ډېرې خوښې دي هغه دادي: سبحان الله وبحمده ،سبحان الله العظيم.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې په ورځ کې سل ځلې په مابانديې درود شريف ووايي، الله (ج) ورته سل حاجتونه پوره کوي، اويا حاجتونه يې په آخرت کې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

پوره کوي او د ېرش حاجتونه يې په دُنيا کې پوره کوي او څوک چې يو ځلې په ما باندې په اخلاص او له زړه څخه دورد ووايي، الله (ج) لس ځلې په هغه باندې دورد وايي، او لس درجې يې لوړوي او لس ګناهونه ورته بخښي

**دسرو زرو په تخته باندې دسرو زور پندونه (نصيحتونه)**

دحضرت عثمان (رض) څخه روايت دي:

تعجب کوم دهغه چاپه حال چې دآخرت په ورځ يقين او باور لري خو بيا هم دمال په راټولولو باندې بوخت دي

تعجب کوم دهغه چا په حال باندې چې الله (ج) پېژني خو بيا هم دالله (ج) څخه پرته دنورو ستاينه کوي

تعجب کوم دهغه چا په حال چې، پوهيږي چې هرڅه په تقدير کې ليکل شوي دي خو بيا هغه څه چې د لاسه يې ورکړي افسوس ورباندې کوي

تعجب کوم دهغه چا په حال چې، په دې پوهيږي چې دنيا يوه ورځ له منځه خي خو بيا يې هم زړه له دنيا سره تړلی دی

تعجب کوم دهغه چاپه حال چې شيطان خپل دوښمن ګڼي خو بيا هم دهغه اطاعت کوي

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د الله (ج) ټول بنده ګان ګناه کوي خو ترټولو بهتره ګناهګار هغه دی چې ګناه وکړي او وروسته بيا توبه وباسي.(ترمذي)

**جنتي انسان ته پنځه خصلتونه ورکول کيږي**

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: جنتي انسانانو ته د الله (ج) لخوا څخه پنځه خصلتونه ورکول کيږي:

د آدم (ع) قد ، د رسول الله ﷺ اخلاق ، د آيوب (ع) صبر ، د داوود (ع) آواز او ديوسف (ع) ښايست

دغه شيان په جنت کې نشته: مرګ ، خوب ، کينه ، پليتي او زوړوالی.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: کله چې انسان مړ کيږي، درې شيان دهغه څخه پاتې کيږي: صدقه جاريه، نيک اولاد او هغه علم چې دهغه څخه گټه واخيستل شي.

## مسلمان بايد رسول الله ﷺ وپيژني

په هر مسلمان باندې دا واجب دي چې د رسول الله ﷺ د اخلاقو او سنتو څخه دضرورت په اندازه خبر او آگاه شي، خو متاسفانه زمونږ زياتره ځوانان درسول الله ﷺ په باره کې هيڅ معلومات نه لري، خو دهندي او عربي هرمندانو په باره کې ډېر زيات معلومات لري.

حضر محمد ﷺ مشهور په امين ، لقب مبارک يې مصطفی دی، دپلار نوم يې عبدالله او د مور نوم يې بي بي آمنه او د نيکه نوم يې عبدالمطلب او دبي بي نوم يې خديجه ده. چې بي بي خديجې (رض) څلور لوڼې او دوه زامن درلودل، چې لوڼو نومونه يې بي بي زينب ، بي بي رقيه ، بي بي کلثوم او بي بي فاطمة الزهرا دي او دزامنو نومونه يې قاسم او طاهر دي، زوم يې حضرت علي (رض) ، درسول الله ﷺ د تره ځوی او دفاطمة الزهرا خاوند دی. درسول الله لمسيان حضر حسن او حضرت حسين (رض) دي او څلور ياران يې ، داسلام سردار بوبکر صديق (رض) ، عمر بن خطاب (رض)، عثمان (رض) او علي (رض) دی، چې رسول الله ﷺ د حضرت عمر (رض) زوم دی يعنې حضرت حفصه (رض) دعمر (رض) لور او درسول الله ﷺ بي بي ده.

رسول الله ﷺ په (۵۷۱) م کال کې پيدا شوی دی، دهغه مبارک دپيدا ېښت څخه شپږ مياشتې مخکې يې پلار وفات شوی دی او په شپږ کلنۍ کې يې مور وفات شوې ده، کله چې اته کلن شو نو نيکه يې هم وفات شو، رسول الله ﷺ د ماشومتوب دوره په يتيم والي کې تېره کړې ده، په ځوانۍ کې يې دبي بي خديجې (رض) سره چې يوه تجاره وه بلديت پېدا کړ چې وروسته يې دهغې سره واده وکړ، او په څلوېښت کلنۍ کې په پيغمبرۍ مبعوث شو، چې د اسلام

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لپاره يې د ډېر ښايسته خدمتونه وکړ او په درې شپېته (۶۳) کلنۍ کې يې جامه بدله شوه، يعنې ځان يې حق ته تسليم کړ او وفات شو.
رسول الله ﷺ په خپل اولنيو خبرو کې الله اکبر ووي، او آخري خبره يې صلوة يعنې لمونځ وو.
قرآن کريم چې د رسول الله ﷺ تر ټولو لويه معجزه ده، د رمضان مبارک په مياشت کې نازل شو او ټول کتابونه چې په نورو پېغمبران باندې نازل شوي وو او شمېر يې يو سلو څلورو (۱۰۴) ته رسيږي د هغه په واسطه منسوخ شوه.
رسول الله ﷺ پنځوس لمونځونه د الله (ج) څخه په غوښتنه باندې پنځه لمونځونو ته راکم کړ.
رسول الله ﷺ د ټولو پېغمبرانو او ټولو انسانانو څخه د الله (ج) په وړاندې خاص او ځانګړی ځای لري.
رسول الله ﷺ ډېر زړور، مهربان، عاجز، صابر او نور زرګونه ښه خويونه درلودل، که چېرته يې وليکو نو کېدای شي چې په ورقو کې ځای نشي، رسول الله ﷺ په خوړو کې شهد، خربوزه، خرما او داسې نور ډېر زيات خوښول او په جامو کې يې سپيني جامې ډېرې خوښولې.
رسو ل الله ﷺ د نورو پېغمبران څخه پنځه ځانګړي خاصيتونه لري
۱) د ټولو پېغمبرانو څخه غوره او بهتره دی ۲) د ټولو پېريانو او انسانانو لپاره راستول شوی دی ۳) خاتم النبيين دی، د هغه څخه وروسته بل پېغمبر نه راځي ۴) رحمت اللعالمين (د ټولو عالميانو لپاره رحمت دی) ۵) د هغه شريعت به د قيامت د تر ورځې پورې دوام لري
الله (ج) دې مونږ ته توفيق راکړي چې د عالم تر ټولو بهترينه لاره ونيسو تر څو چې په دين او دنيا کې سرلوړي او کامياب و اوسو.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

څوک چې په رسول الله ﷺ باندې يوځل درود شريف ووايي نو الله(ج) د ميلياردونو ملائکو پواسطه په هغه بنده باندې درود وايي کله چې د رسول الله نوم اخيستل کيږي نو په مونږ باندې واجب دي چې په هغه باندې درود شريف ووايو.

## دثوبان (رض) ملګرتيا درسول الله ﷺ سره

درسول الله ﷺ خدمتګار ،ثوبان (رض) ، رسول الله يې يو ورځ ونه ليده ، ژړل به يې، رسول الله ﷺ ورڅخه پوښتنه وکړه چې ولې ژاړې اې ثوبانه؟ هغه ورته وويل: کله مې چې په جنت کې زما او ستا ځای رایاد کړ،نو زړه مې تنګ شو او وژار شوم

رسول الله ﷺ ورته وويل:څوک چې په دنیا کې دچا سره مينه لري دهغه سره به راپورته کيږي

اې الله(ج) زمونږ په زړونو کې درسول الله ﷺ سره مينه زياته کړې او دهغه سره مو راپورته کړې

## په رسول الله ﷺ فخر وکړئ

رسول الله ﷺ به چې دکفارو سره په جګړه کې بوخت و ،نو دا رنګه امر يې وکړ، د الله(ج) په امر د رسول الله ﷺ په ملت سره حرکت وکړئ ،هيڅ زوړ سړی مه وژنئ، ښځې مه وژنئ، ماشومان مه وژنئ، ونې مه قطع کوئ، مېوې مه قطع کوئ،احسان او نيکي وکړئ

مسلمانان او کفار رهبران بايد رحم،انصاف او عدالت درسول الله ﷺ څخه ياد کړي

په لومړي او دوهم نړيوالو جنګونو کې په ميليونونه انسانان دکفارو په امر سره ووژل شول، په زرګونه کورونه وسوځول شول او په ميليونونه ماشومان بې پلاره او بې موره شول،ځينې بې عقلان وايي، داسلام دين د دښمنۍ او وژلو دين دی،الله(ج) فرمايي:څوک چې دفساد څخه پرته په ځمکه کې يو بې ګناه

کس ووژني ،نو داسې ده لکه چې ټول مخلوق یې وژلی وي او که چېرته دیو کس ژوند وژغوري نو داسې ده لکه چې ټول بشریت او مخلوق یې ژغورلی وي

## کبرجن انسانان وپېژنئ

رسول الله ﷺ کبر دا رنګه تعریفوي، کبر یعنې د حق څخه انکار. کبر یعنې خپل ځان په نورو باندې پورته حسابول، او خلکو ته توجه نه کول.
یو شخص رسول الله ﷺ ته راغې د ډار نه لړزېده، رسول الله ﷺ هغه ته وویل: آرام (په راحت کې اوسه) زه بادشاه نه یم، زه د یوې ښځې ځوی یم، چې لمده غوښه په مکه کې خوري، نن ورځ ځینې رهبران او مالداره خلک خپل پلاران د خپل ځان لپاره خدمتګاران او کارکوونکي معرفي کوي، غریبان نشي کولای چې هغوي سره مخامخ شي، آیا تاسې خپلو ملګرو ته ویلای شئ چې زه دیو دهقان ځوی یم؟ رسول الله ﷺ به د خندق په کېندلو کې د درې متر څخه ټیټې کندې څخه خاوره په خپله شا باندې راپورته کوله، او یا به یې په سفر کې د صحابه وو کرامو رضی الله تعالی عنهم سره خاشاک راغونډول.

## د رسول الله ﷺ کړنلاره

د ابو هریره (رض) څخه روایت دی چې یوه ورځ یو اعرابي (صحرائي) سړي په مسجد کې ادرار (ډ کې بولې) وکړې، صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم غوښتل چې په هغه حمله وکړي او جنګ ورسره وکړي، رسول الله ﷺ ورته وویل: هغه پرېږدئ، یو سطل اوبه د بولو پر ځای واچوئ، تاسو په غصه شوي یئ، تاسو باید نرم مزاجه اوسئ نه سخت دریزه. (بخاري)

## رسول الله ﷺ دوژلو څخه ډډه کړې ده

د اسامه (رض) په نامه یو صحابي، د کفارو سره په جنګ کې یو کس وواژه، چې د هغه سره په غېږه کې په جنګ وو، هغه شخص وویل اسلام قبولوم رسول الله ﷺ ډېر زیات په عصه شو، اسامه (رض) ته یې وویل: ولې دې هغه وواژه، اسامه (رض) ورته وویل: هغه د خپل ځان د ساتنې په خاطر دا وویل چې ما اسلام قبول

کړ، رسول الله ﷺ ورته وویل: آیا د هغه سینه دې څیرې کړه او د هغه زړه دې ولید چې هغه اسلام قبول کړی وو او که نه؟ اسامه (رض) وویل: ای کاش، چې همدا نن مسلمان شوی وی او دا خبرې مې نه وی اورېدلی.

**د الله (ج) څخه پرته نور څوک په غیبو باندې نه پوهیږي**

کله چې عثمان بن مظعون مړ شو، نو رسول الله ﷺ ژړل، پدې وخت کې یو کس وویل: مړی مرغی شوه او د جنت په لور والوته، رسول الله ﷺ په غصه شو، ویې وویل: زه چې د الله (ج) پیغمبر یم، نه پوهیږم چې الله (ج) به د هغه سره څه معامله کوي، نو ته د کوم ځای څخه پوهیږې چې هغه جنت ته لاړو.

هغه کس رسول الله ﷺ ته راغی او پوښتنه یې ورڅخه وکړه، چې د خپل نوکر څخه خطا ګانې او اشتباهګانې وبخښم، هغه ورته ځواب ورنکړ، بیا یې پوښتنه وکړه، رسول الله ﷺ ورته وویل: هره ورځ اویا (ځلې) ورته بخښنه وکړه.

**د رسول الله ﷺ مبارک غاښ**

د احد په جنګ کې د رسول الله ﷺ دوه مبارک ښاغونه شهیدان شول، او دوه کړۍ یې په سر مبارک ننوتې وې، سراسر زخمي و، الله (ج) فرښتې راولېږلې، او فرښتو د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه، یا رسول الله ﷺ د قوم سره دې څه عمل وکړم ؟، رسول الله ﷺ د زخم په حالت کې او د هغه مهربانۍ او ښه چلن له مخې چې دا یې عادت وو، ورته یې وویل: ای زما ربه! زما قوم وبښه ځکه هغوي نه پوهیږي

**د رسول الله ﷺ ورزش او منډه وهل**

حضرت بی بی عائشه (رض) وایي: یوه ورځ زه د رسول الله ﷺ سره په سفر کې وم، مونږ دواړو د منډې وهلو مسابقه وکړه، ما وګټله، یو بل وخت چې زه د اندام څخه قوي شوې هم وم، بیا مو مسابقه وکړه، رسول الله ﷺ زما څخه په مسابقه کې مخکې شو او وې ویل: دا د هغې مسابقې دفاع وه چې مخکې تا راڅخه ګټلې وه. (ابو داود)

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## د رسول الله ﷺ ټوکې

رسول الله ﷺ فرمايلي: هيڅ يوه زړه ښځه به جنت ته نه داخليږي، يوې زړې ښځې وويلې، په زړه ښځه کې څه ګناه ده، هغه زړه ښځه چې قرآن خوانه(قرآن لوستونکې وه)، رسول الله ﷺ ورته وويل: آيا تا په قرآن کريم کې دا آيت ندی ويلی، چې الله(ج) فرمايي: مونږه به ښځې(زړې ښځې) په جنت کې ځوانې او دوباره پيدا کوو.(انس ابن مالک(رض))

## د يوې اوښې بچی درکوم

يو سړي يوه ورځ د رسول الله ﷺ نه په اوښ باندې د سورلئ (چکر وهلو غوښتنه وکړه)، رسول الله ﷺ ورته وويل: يو د اوښ بچی درکوم؛ هغه سړي ورته وويل: د اوښې په بچي څه وکړم؟ رسول الله ﷺ ورته وويل: هر اوښ د اوښې بچی دی.(ترمذي او ابو داود انس ابن مالک(رض))

## ته ښايسته يې که ښځه دې؟

د حجاب د حکم د نازليدو نه مخکې يو بدرنګه سړی رسول الله ﷺ ته راغی او ورته وويل: زه دوه ښځې لرم که خوښه دې وي چې يوې ته طلاق ورکړم، چې تاسې ورسره نکاح وکړي، بې بې عايشې(رض) چې د هغه خبرې اوريدې ورته يې وويل: ته ښايسته يې که ښځه دې؟ هغه سړي ورته وويل: زه ښايسته يم، نو رسول الله ﷺ وخاندل.

يوه ورځ حضرت صهيب(رض) خرما(کجورې) خوړلې، رسول الله ﷺ ورته وويل: ته خو خرما خورې، ستا خو سترګې درد کوي، حضرت صهيب(رض) ورته وويل: د بل طرف په غاښونو يې خورم، نو رسول الله ﷺ وخاندل.

## په ورزش کې د رسول الله ﷺ پهلواني

يوه ورځ ځوانانو پهلواني کوله، او غټې تيږې يې پورته کولې، رسول الله ﷺ هلته تېرېده، ځوانانو ورته وويل: يا رسول الله ﷺ اتاسو وګورئ چې څوک زيات زور لري، کوم وخت چې پهلواني پای ته ورسېده، رسول الله ﷺ وويل: خوښه مو ده

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

چې زه induced وایم چې څوک ستاسې په منځ کې ډیر زیات پهلوان دی، هغوي وویل: هو ولې نه یا رسول الله ﷺ وو ایه؛ رسول الله ﷺ ورته وویل: په تاسې کې پهلوان هغه څوک دی، کله چې غصه شي او غصه پرې غلبه (برلاسې نشي) او دی پر غصه باندې برلاسې او حاکم وي یعنې خپله غصه کابو کړي

د رسول الله ﷺ څخه د دوشنبې د ورځې په باره کې پوښتنه وشوه، رسول الله ﷺ ورته ځواب ورکړو، زه د دوشنبې په ورځ پیدا یم او قرآن کریم هم د دوشنبې په ورځ نازل شوي دی. (مسلم ابو قتاده (رض))

رسول الله ﷺ ویلي دي: غشي ویشتل اود سورلۍ چلول (د آس ځغلول) یاد کړئ

## رسول الله ﷺ په خشاک (خس) راټول

رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو سره یوځای په سفر کې و، د خوراک د تیارولو په خاطر هر یو کس یو کار په خپله غاړه واخیست، او رسول الله ﷺ خشاک راټولولو دنده پر غاړه واخیسته

## د رسول الله ﷺ غېږه نیول

احمد او ابو داود روایت کوي، چې یو سړی د رُکانَ په نوم چې په پهلوانۍ کې یې شهرت درلوده، رسول الله ﷺ سره یې غېږ ونیوله رسول الله ﷺ څو ځلې نوموړی سړی راچپه کړ، یعنې رسول الله ﷺ ته الله (ج) ظاهري او باطني قوت ورکړی و، لکه څرنګه چې حضرت علي (رض) ویلي، چې رسول الله د ظاهري شکل له مخې ډېر قوي وو.

## یو سړي وویل زه نکاح (واده) نکوم، بل وویل چې زه روژه نیسم، بل وویل چې زه همیشه لمونځ کوم.

یوه ورځ درې کسان د رسول الله ﷺ کورته راغلل، د رسول الله ﷺ د عبادت پوښتنه یې وکړه، کله چې پوه شول چې رسول الله څومره زیات عبادت کوي، نو له ځانه سره یې وویل: مونږ چیرته او رسول الله ﷺ چیرته، په داسې حال کې چې رسول الله ﷺ ته مخکینې او وروستني ټول ګناهونه معاف شوي دي، د دوي څخه

یو وویل:زه به همېشه روژه نیسم او تول‌ه شپه به عبادت کوم،بل سړي وویل:زه به تول عمر روژه نیسم ،دریم سړي وویل:زه به هیڅکله نکاح ونکړم،له ښځو څخه به لرې کېږم،رسول الله ﷺ ورته وویل:په الله(ج) قسم چې زه ستاسو څخه د ېر د الله(ج) څخه وېرېږم او ستاسو څخه ډېر پرهېزګاره یم ،روژه هم نیسم ،روژه ماتې هم کوم،لمونځ هم کوم، د ښځو سره نکاح هم کوم،نو څوک چې زما سنت ونه کړي نو هغه زمونږ څخه ندی.(متفق علیه انس(رض))

رسول الله ﷺ به خبرې نه کولې،مګر په مهربانۍ او تبسم سره.(احمد)

د مکې خلکو د رسول الله ﷺ څخه غوښتنه وکړه چې هغوي ته څه معجزه وښیي،نو رسول الله ﷺ ورته سپوږمۍ دوه ټوټې کړه،تردې چې دحُرا په غره کې یې میاشت دوه ټوټې ولیدله(بخاري او مسلم انس(رض))

رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې: ماته دالله(ج) له لوري څخه په خبرو کې دلنډ والي امر شوی دی،ځکه چې لنډې خبرې بهتره او غوره دي(ابوداوود)

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:ایمان عبارت دی له:دایمان پېژندل په زړه کې ،په ژبه سره اقرار کول او په ارکانو باندې یې عمل کول.(ابن ماجه علي(رض))

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:الله(ج) ستاسو بدن ،نسب،مال او شتمنۍ ته نه ګوري،مګر ستاسو زړه او عمل ته ګوري

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:قرباني کول ستاسو د پلار ابراهیم(ع) سنت دي،څوک چې قرباني کوي، نو دمال دهر وېښته په بدل کې ورته په عملنامه کې یوه نیکي لیکل کیږي

ابوذر(رض) وایي:ما پوښتنه وکړه،ای رسول الله ﷺ ،دپېغمبرانو شمېر څومره دی؟رسول الله ورته وویل،یو سلو څلورویشت زره،چې ددې له جملې څخه درې سوه پنځلس تنه یې رسولان دی.(مشکوة)

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## یو ځوان د رسول الله ﷺ څخه د زنا کولو اجازه وغوښتله

یوه ورځ یو ځوان رسول الله ﷺ ته راغی او ورته یې وویل: ای رسول الله ﷺ ما ته اجازه راکړه چې زنا وکړم، رسول الله ﷺ ورته وویل: خور لرې او غواړې چې همدا کار دې له خور سره وشي؟ ځوان وویل: نه، رسول الله ﷺ ورته وویل: مور لرې؟ ځوان وویل: هو رسول الله ﷺ ورته وویل: غواړې چې همدا کار دې له مور سره وشي؟ ځوان وویل: نه، ای رسول الله ﷺ، رسول الله ﷺ ورته وویل: غواړې چې همداسې کار دې د اولادونو سره وشي؟ ځوان وویل: نه، رسول الله ﷺ ورته وویل: څرنګه چې دخان لپاره یې نه خوښوې نو، نور هم همداسې دي. رسول الله په خپل مبارک لاس باندې د ځوان سینه وټپوله او دعاء یې ورته وکړه، لدې وروسته هغه ځوان د عمر ترآخره پورې زنا ونکړه.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د ایمان ترټولو لوړه درجه دا ده، په هرځای کې چې یې نو پوه شه چې الله (ج) له تا سره دی. (طبراني)

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د فضیلت له مخې ترټولو غوره کار، په الله(ج) باندې د ایمان راوړلو څخه وروسته، د خلکو سره مینه کول دي (طبراني ابوهریره)

## خپله ګناه مه ښکاره کوئ

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: زما ټول اُمت ته بخښنه کیږي، مګر هغه څوک نه بخښل کیږي چې په ښکاره ډول سره ګناه کوي مثلاً: که یو څوک د شپې بد کار وکړي، وروسته بیا هغه د ورځې ښکاره کړي، په داسې حال کې چې الله (ج) په هغه باندې پرده غوړولې وي، وایي چې: فلانیه ابېګا مې داسې او هغسې وکړه او په سهار کې خپله پرده له ځانه څخه پورته کړي (بخاري او مسلم ابوهریره)

## الله (ج)، رسول الله ﷺ، ابوبکر صدیق (رض) او... درې شیان خوښوي

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: زه په دنیا کې درې شیان خوښوم ښځه، خوشبویي او عطر، او په لمانځه باندې دسترګو یخوالی.

ابوبکر صدیق (رض) وویل: زه هم درې شیان خوښوم: ستالورې ته نکاح کول، ستا په مخکې کېناستل، او په تا باندې مې خپل مال مصرفول
عمر (رض) وویل: زه هم درې شیان خوښوم: امربالمعروف، نهي عن المنکر، او دحق ویل که څه هم تریخ وي
عثمان (رض) وویل: زه هم درې شیان خوښوم: ډوډۍ ورکول، سلام اچول، او په شپه کې لمونځ کول چې خلک ویده وي
حضرت علي (رض) وویل: زه هم درې شیان خوښوم: دتورې وهل، مېلمستیا، او په ګرمۍ کې روژه نیول
وروسته جبرائیل (ع) ښکته راغی او ويې ویل: زه هم درې شیان خوښوم: دامانت ببرته سپارل، تبلیغ کول، او د مسکینانو او غریبانو سره مینه او محبت کول
وروسته لدې څخه جبرائیل (ع) وویل: الله (ج) وایي، زه هم درې شیان خوښوم: ذکر کوونکې ژبه، شکر ویستونکی زړه، اوصبر کوونکی بدن

## په اسلامي طریقه سره سلام اچول

سلام اچول سنت دي او ځواب ورکول یې واجب دی
رسول الله ﷺ فرمایي: سلام اچول دعاء ده، نو هیڅ مسلمان دهغه څخه مه بې برخې کوئ
رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د الله (ج) په وړاندې غوره کسان هغه دي، چې دنورو څخه مخکې سلام اچوي

## په علي (رض) باندې، دعمر (رض) سلام اچول

یوه ورځ عمر (رض) رسول الله ته شکایت وکړ، چې علي (رض) په ما باندې هیڅکله هم لومړی سلام نه اچوي، رسول الله ﷺ دهغه څخه پوښتنه وکړه، چې ولې په عمر (رض) باندې سلام نه اچوي؟ علي (رض) ورته وویل: ای رسول الله تاسو ویلي وو، چې هرڅوک اول سلام واچوي نو الله (ج) ورته په جنت کې ماڼۍ جوړوي، نو ما هم وغوښتل چې زما وررور حضرت عمر (رض) دیو کور

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خاوند شي، ځکه چې عمر (رض) سره مینه لرم، وروسته عمر (رض) ډیر خوشحاله شو.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: هرکله چې د ماشومانو په مخکې تېرېږئ نو په هغوي باندې سلام اچوئ.

صحابه، به د ثواب په خاطر بازار ته تلل، ترڅو چې د خلکو سره وګوري او په هغوي باندې سلام واچوي، ترڅو چې ثواب وګټي، چې یو له هغوي څخه ، عبدالله بن عمر (رض) دی.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: محتاجو او بې وزلو ته ډوډۍ ورکړئ، که څوک پېژنې او که نه یې پېژنې سلام وربانديې واچوه. (بخاري او مسلم عبدالله بن عمر (رض))

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: سلام د الله (ج) د نومونو څخه یو نوم دی، چې هغه یې په ځمکه کې پربښی دی، په خپلو منځونو کې غټ او واړه په لوړ آواز سره سلام اچوئ

رښتیا هم هرڅوک چې د یوې ډلې د څنګ څخه تېرېږي، نو باید په هغوي باندې سلام واچوي او هغوي یې باید ځواب ورکړي څوک چې سلام اچوي نو الله (ج) ورته ډېرې درجې ورکوي، ځکه چې هغه ، نور خلک په سلام سره ستایلي دي که یوچا د سلام ځواب ورنکړو نو ، بهتره ده چې ملائکې به د سلام ځواب ورکوي (طبراني ابن مسعود (رض))

## یو یهودي په رسول الله السام علیکــــم وویل

عایشــه (رض) وایي: څو نفره رســول الله ﷺ تــه راغلل، پــه ځـای د دې چې الســلام علیکم ووایي، السام علیکم یې وویل ، چې مانا یې ده (مرګ دې وي پرتا ) ، بي بي عایشــه (رض) ورتــه پــه ځـواب کـې وویـل: مرګ دې وي پرتاسـو ، د الله (ج) لعنت او غضب دې وي پرتاسو. رسول الله ، عایشې (رض) ته وویل: ژبه دې په واک کې کړه، د سختو او بدو خبرو څخه ډډه وکړه (بخاري)

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:مؤمن انسان،نه کنځلې کوي،نه بد وايي،نه فاحش کارونه کوي او بده ژبه نه کاروي.(ترمذي)

## رسول الله ﷺ به څه ډول سترې مه شې کوله

انس(رض) وايي:رسول الله ﷺ به چې کله د خلکو سره سترې مشې کوله نو ترهغه وخته به يې خپل مبارک لاس نه لرې کولو ترڅو چې جانب مقابل به خپل لاس لرې کړ، خپل مخ مبارک به يې د هغه څخه ترهغه وخت پورې نه اړو .ترڅو چې به جانب مقابل خپل مخ واړو. او هيڅکله به يې خپلې مبارکې پښې د خپلو ناستو کسانو په مخکې نه غځولې.(ترمذي)

## مکمل سلام اچول دېرش درجې ثواب لري

د عمر بن حصين (رض) څخه روايت دی:چې يو سړی رسول الله ﷺ ته راغی او ويې ويل:اسلام عليکم ، رسول الله ﷺ د هغه سلام ته ځواب ورکړ او ويې ويل:لس (د غه سړي ته د ده د سلام په مقابل کې لس نېکۍ وليکل شوې) ،وروسته يو بل سړی راغی،ويې ويل:السلام عليکم ورحمت الله ،رسول الله ﷺ د هغه سلام ته ځواب ورکړ او ويې ويل:شل (ده سړي ته د ده د سلام په مقابل کې شل نېکۍ وليکل شوې) ،هغه سړی په مجلس کې کېناست،وروسته يو بل سړی راغی،ويې ويل:السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته ،رسول الله ﷺ د هغه سلام ته ځواب ورکړ او ويې ويل:دېرش ( د هغه سړي د سلام په مقابل کې د هغه لپاره دېرش نېکۍ وليکل شوې) ،وروسته هغه سړی هم په مجلس کې کېناست.(ترمذي)

د انس(رض) څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:ای زما اولادې اهر کله چې خپل کورته داخلېږئ نو په خپلې کورنۍ باندې سلام وايئ،څکه چې دا هم ستا او هم ستا د کورنۍ لپاره برکت دی.(ترمذي)

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:هر كله چې كور ته ننوځئ نو په خپلې كورنۍ سلام اچوئ او هر كله چې د كور څخه د باندې ووځئ نو د الله په امانۍ سلام ور باندې كوئ (بيهقي)

د ابو هريره (رض) څخه روايت دى، چې رسول الله ﷺ و فرمايل: وړوكى دې پر غټ سلام اچوي، روان دې په ولاړ كس سلام اچوي او هغه چې لږ دي په هغو چې ډېر دي سلام دې اچوي (بخاري)

د علي بن ابي طالب (رض) څخه روايت دى، چې د رسول الله ﷺ څخه يې نقل كړي دي: كه چېرته د يوې ډلې څخه يو كس سلام واچوي، نو د ټولو لپاره كافي دى او د هغه كسانو لخوا چې ناست دي، د يو كس لخوا ځواب وركړل شي نو د ټولو لپاره كافي دى (بيهقي)

د عطاء خراساني په نامه د يو تابعي څخه روايت دى، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: يو د بل سره ستړې مشې كوئ، چې تر منځه مو كينه او بغض ختم شي او يو بل ته ډالۍ وركوئ چې تر منځ مو مينه پيدا شي او كينه او دښمني مو له منځه لاړه شي (مالك مرسلا)

## د رسول الله ﷺ ډوډۍ خوړل

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: وخورئ، وڅښئ، صدقه وركړئ، واغوندئ تر هغه حده پورې چې د اصراف، كبر او ځان ښودني نيت پكې نه وي (ابن ماجه عبد الله بن عمر (رض))

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: كله چې الله (ج) خپل بنده ته نعمت وركړي او هغه بنده الحمد لله رب العالمين ووايي نو الله (ج)، د هغه څخه زيات او بهتره نعمتونه وركوي

ځوك چې په مصرف كې اعتدال او ميانه روي وكړي، هيڅكله به فقير او محتاج نشي

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

رسول الله ﷺ فرمايلي دي کله چې په شريکه ډوډۍ خورئ او ماړه شوې نو ډوډۍ مه بس کوئ، ځکه چې د نورو د شرم سبب ګرځي.(بيهقي ابن عمر (رض))

**خپله ګېډه په درې برخوباندې ووېشئ**

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: انسان د خپلې ګېډې څخه بل بدتره لوښی نشي پيدا کولی، که چېرته هغه ډکه کړي، په انسان باندې لازم دي چې په اندازه باندې څو مړې ډوډۍ د خپل ځان د تقويت لپاره وخوري، د ګېډې يوه برخه د ډوډۍ لپاره، يوه برخه يې داوبو لپاره او يوه برخه يې د هوا او تنفس لپاره خالي پرېږدئ.(ترمذي)

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: خواړه په پيمانه او اندازه سره مصرفوئ، ځکه چې په هغه کې ستاسو لپاره برکت دی.(بخاري)

څوک چې د دسترخوان څخه د ډوډۍ مېده ګي راغونډوي او هغه وخوري نو رزق يې زياتيږي

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې په داسې حال کې ويده شو، چې د هغه په لاسونو باندې د ډوډۍ اثر او غوړ وي، نو که هغه ته څه ضرر ورسېده، نو د ځان څخه پرته دې نور څوک نه ملامتوي(ترمذي ابوهريره (رض))

رسول الله ﷺ به ښي لاس د ډوډۍ خوړلو، څښلو اودس کولو او نورو ښو کارونو لپاره ځانګړی کړی وو، او چپ لاس يې د استنجاء، اودس وچولو، پوزې پاکولو او ددې په شان نورو کارونو لپاره ځانګړی کړی وو.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: شکر ايستونکی د ډوډۍ خوړونکی، د صبر کوونکي روژه دار په شان دی.(ترمذي او ابن ماجه ابو سعيد الخدري (رض))

د سلمان فارسي (رض) څخه روايت دي، چې ما په تورات کې لوستلي وو، چې د خوراک څخه وروسته دلاسونو او خولې وينځل د برکت سبب ګرځي، ما دا مطلب رسول الله ﷺ ته وويلو، رسول الله ﷺ وويل: د خولې وينځل مخکې د ډوډۍ او د ډوډۍ څخه وروسته د برکت سبب ګرځي.(ترمذي)

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## د ډوډۍ خوړلو دعاء له یاده مه باسئ!

دعایشې (رض) څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: ستاسو له جملې څخه هرڅوک چې ډوډۍ خوري، نو دالله (ج) نوم باید ذکر کړي (یعنې بسم الله باید ووایي)، او که څوک په اول کې بسم الله له یاده وباسي، نو داسې دې ووایي: بسم الله اَوّلَهُ وَآخِرَهُ. (ترمذي)

دعمر بن ابي سلمه (رض) څخه روایت چې وایي: ما په وړکتوب کې د رسول الله ﷺ په مبارکه غېږه کې زده کړې ده، د ډوډۍ خوړلو په وخت کې به زما لاس په کاسه کې یو طرف او بل طرف ته تلو، رسول الله ﷺ ماته نصیحت وکړ، چې د ډوډۍ څخه مخکې بسم الله وایه او په ښي لاس سره ډوډۍ خوره او د خپل طرف یا لوري څخه ډوډۍ خوره. (بخاري او مسلم)

## هغه څوک چې نه مړېږي

ځینې صحابه وو، د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه، ای رسول الله ﷺ، زمونږ حال دارنګه دی چې مونږ ډوډۍ خورو، خو نه مړېږو، رسول الله ورته وویل: کېدای شي، چې تاسو جدا، جدا ډوډۍ خورئ؟ هغوي ورته وویل: همداسې ده، مونږ جدا، جدا ډوډۍ خورو، رسول الله ﷺ ورته ویل: ډوډۍ یوځای او په شریکه سره خورئ او دالله (ج) نوم یادوئ، نو په هغه وخت کې به ستاسو په ډوډۍ کې برکت وي (د مړښت احساس به درته وشي). (بخاري)

دابو جحیفه (رض) څخه روایت دي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زه په تکیه وهلو سره ډوډوی نه خورم

دعبدالله ابن عباس (رض) څخه روایت دی وایي: رسول الله ﷺ به د ثرید په نامه خواړه چې د ډوډۍ او د غوښې داوبو څخه جوړشوي وو، او همدارنګه حلوا چې د ډوډۍ، خرما او غوړیو څخه جوړه شوې وه، ډیره خوښوله (ابوداوود)

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دانس (رض) څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: الله (ج) د خپل بنده دې عمل څخه ډېر خوشحاليږي، چې هغه څه وخوري او وروسته الحمد لله او شکر وکړي اويا چې څه وڅښي، نو شکر او الحمدلله ووايي. (مسلم)

د ابو سعيد الخدري (رض) څخه روايت: رسول الله ﷺ به چې هر کله د ډوډۍ وخوړله، نو دا دعا به يې ويله: الحَمدُ لِلهِ الذِي اَطعَمَنَا وَ سقَانَا وَ جَعَلَنَا مِنَ المُسلمِينَ (ترمذي)

ژباړه: ټولې ستاينې او صفتونه الله (ج) لره دي، هغه ذات چې په مونږ باندې يې ډوډۍ وخوړله اوپه مونږ يې اوبه وڅښلې او مونږ يې د مسلمانانو د ډلې څخه وګرځولو.

دعبدالله ابن عباس (رض) څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: داوښ په شان په يوه ساه او به مه څښئ، بلکې په دوه يا درې ساه ګانو سره اوبه وڅښئ او کله چې اوبه څښئ نو لومړی بسم الله ووايئ او هر کله مو چې اوبه وڅښلې او دلوښي څخه مو خوله لرې کړه، نو الحمد لله او شکر وباسئ. (ترمذي)

دانس (رض) څخه روايت دی: رسول الله ﷺ به اوبه په درې ساه ګانو سره څښلې، اوپه صحيح مسلم کې دا اضافه شوي، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: په دې ډول سره داوبو په منځ کې ساه اوباستل، په اوبو باندې د مړښت او دمعدې لپاره دسکون او فايدې سبب ګرځي. (بخاري او مسلم)

د عبدالله ابن عباس (رض) څخه روايت: رسول الله ﷺ په لوښي کې دساه ويستلو او پو کولو څخه منع فرمايلي ده. (ابن ماجه)

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## د ډوډۍ خوړلو اداب

ډوډۍ خوړل د اسلام له نظره: لومړی باید بسم الله ووایو او خپل لاسونه ښه پاک ووینځو، ځکه چې ډوډۍ باید په پاک لاس او میکروبونو څخه پاکه او زمونږ ټول فکر باید د خوراک څخه خوند اخیستلو او دالله(ج) حمد او ثناء ته وي. د ډوډۍ څخه وروسته دې دعاء ووایي او شکر دې وباسي.

او لازم دي چې د ډوډۍ خوړلو څخه وروسته لاسونه ووینځل شي، ځکه کیدای شي، چې تشناب ته لاړ شو. د غاښونو وینځل هم مهم دي په ځانګړي ډول د شپې لخوا کله چې ویده کیږو، نو زمونږ د غاښونو په منځ کې خواړو پاتې کیږي، چې زمونږ غاښونه خرابوي په ډوډۍ خوړلو کې باید د ډېرو یخو او ډېرو ګرمو مایعاتو څخه ډډه وشي، او خواړه باید ښه ډېر وژولو شي، یو دا چې د خوړو څخه مزه اخلو او بله دا چې د معدې لپاره د دې خوړو هضم آسانیږي یوه غوټه پیاز خوړل ډېره ګټه رسوي، خو که چېرته تاسو د معدې مشکل ونه لرئ. د ډوډۍ خوړلو په وخت کې خبرې مه کوئ او یا لږې خبرې کوئ او هغه خواړه وخورئ چې تاسو یې خوښوئ او د ډوډۍ خوړلو آداب مراعت کړئ.

که چېرته په نابلده ځای وئ، نو کوښښ مه کوئ چې لومړی تاسو په ډوډۍ خوړلو سره شروع وکړی، پریږدئ چې هغوي لومړی په ډوډۍ خوړلو شروع وکړي. د ډوډۍ خوړلو په وخت کې د نورو مړیو ته مه ګورئ.

درې ډوله خواړه مه خورئ: ډېر ګرم، ډېر یخ، سوزېدلې ډوډۍ، خامه ډوډۍ او حرامه ډوډۍ.

که چېرته په خپل کور کې یئ نو کاسه پاکه کړئ، چې ثواب لري او که په بل ځای کې مېلمه یئ نو څه اندازه خواړه په کاسه کې پرېږدئ، ترڅو د کور خاوند پوه شي، چې تاسو ماړه شوي یئ، ځکه چې هغه خجالته نشي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## د پرنجي دعاء

د ابو هريره (رض) څخه روايت دي،چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي کله چې له تاسو څخه څوک پرنجى کوي،نو ووايه چې:الحمد لله ، هغه څوک چې د هغه په څنګ کې ناست دی،دهغه په ځواب کې دي ووايي: يَرحَمُکَ الله، کله چې ده . دا وويل،نو پرنجی کوونکی به ورته په ځواب کې ووايي چې: يَهدِيکُمُ الله وَيُصلِح بالکُم (الله (ج) دې تاته هدايت وکړي او الله (ج) دې ستا حال سم کړي).(بخاري)

د سمله (رض) څخه روايت دی:چې يو کس د رسول الله ﷺ په مخکې وپرنجېدو . رسول الله ﷺ وويل:يَرحَمُکَ الله ، بيا وپرنجېدو ،نو رسول الله ﷺ وويل: دا سړی زکام دی(يعنې هرځل د يَرحَمُکَ الله ،ويل ضروري ندي ).(مسلم)

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:کله چې الله (ج) ، آدم (ع) پېدا کړاو په هغه کې يې روح واچو ،نو آدم (ع) وپرنجېدو ،او ويې ويل:الحمد لله ،او الله (ج) وويل:يَرحَمُکَ الله ، الله (ج) وويل:ای آدم(ع) زه لاړ شه او ملائکو باندې سلام واچوه،آدم(ع) لاړو ،په ملائکو يې سلام واچو ،ملائکو ورته په ځواب کې وويل:وعليکم السلام ، الله (ج) ،آدم (ع) ته وويل: داستا او ستا داولادونو ،يو تربله دعاء ده

## کورته دننوتلو دعاء

مخکې کورته دننوتلو څخه درود شريف ووايئ،بيا په ښي،پښه کورته ننوځه اوبسم الله ،ووايه او هرڅوک چې دې وليدو ،نو سلام پرې واچوه ،په ماشومانو هم سلام واچوه ،ځينې داسې فکر کوي،چې واړه او ښځې بايد په خپلو لويانو باندې سلام واچوي،مګر داسې نده،رسول الله ﷺ به په ماشومانو او تولو باندې سلام اچوو.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## دکور څخه د وتلو دعاء

څوک چې د کور څخه او ځي او دا دعاء ووايي، د شيطان د هر ډول ضرر څخه به دالله(ج) په امان کې وي او د هغه کارونو د ترسره کولو لپاره چې دی وتلی دی، هغه به په موافقانه ډول سره سرته ورسوي

هغه دعاء دا ده: بسم الله تَـوَكَّلتُ عَـلَـى الله لا حَولَـه وَلا قـُوَّةَ الا بالله

## درسول الله د وېده کېدو طريقه

کله به چې رسول الله غوښتل ،چې ويده شي، نو عطر او خوشبويي به يې وهله او سترګی به يې په رانجو سره توررولې.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: کله چې تاسو د وېده کېدو ځای ته ځئ نو په هماغه ډول چې دلمانځه لپاره اودس کوئ، اودس وکړئ او بيا په ښي طرف باندې ويده شئ (مسلم)

## څوک چې خوب ويني

کله مو چې خوب وليده او هغه خوب تاسو خوشحاله کړئ او هغه مو خوښ شو، نو هغه خوب د الله(ج) ،له طرفه ومنئ او شکر وباسئ او کله چې مو بد خوب وليدو ، نو هغه د شيطان خوب دی، الله(ج) ته پناه يوسئ، او هغه چاته مه وايئ، نو زيان درته نه رسوي (بخاري ابو سعيد الخدري)

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: چا چې زه په خوب کې وليدلم ،په حقيقت کې يې زه ليدلی يم ، ځکه شېطان نشي کولی چې ځان زما په شکل جوړ کړي (بخاري او مسلم)

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: خپل خوب يوا ځې عالمانو او هغو کسانو ته ووايئ چې تاسو ته نصيحت کوونکي او ستا خير خواه کسان وي (ترمذي)

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې سورت يٰسين دويده کېدلو څخه مخکې ووايي او وروسته مړشي، نو هغه شهيد دی او که څوک يې دالله(ج) درضاء لپاره ووايي نو الله(ج) به ورته ټول ګناهونه معاف کړي

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

رسول الله به د شپې په اوله برخه کې ویده کېدو او په اخره برخه کې به د خوب څخه راپاڅېده.(بخاري او مسلم عایشه (رض))
څوک چې په ورځ کې درې خلې قل هو الله احد او دوه خلې اذا زلزلت الارض (دزلزال سورت) ووایي، نو الله (ج) ورته د قرآن د ختم ثواب ورکوي کوښښ وکړئ د شپې د خوب په وخت کې او د سهار لخوا دا سورتونه وایئ.

## بېهوده خوبونه

یهودي، عیسوي او مسلمان، حلوا پخه کړې وه، حلوا کمه وه، دوي وویل چې حلوا کمه ده، زمونږ له ډلې څخه چې هر چا ښه خوب ولیده، نو هغه به دا حلوا خوري، شپه تېره شوه، یهودي وویل په خوب کې موسی (ع) راغی، زه یې جنت ته یوړم، عیسوي وویل په خوب کې عیسی (ع) راغی، زه یې پاس آسمان ته یوړم، مسلمان وویل ما خوب ولیده چې رسول الله ماته وویل پورته شه حلوا وخوره، هغوي یو، آسمان ته لاړ دی او بل جنت ته، ما هم حلوا وخوړه، هغوي وویل خوب هغه وو، چې تا ولیدو، زمونږ خوبونه ټول خیالونه او باطل وه.

## داعرابي خو پوښتنې او د رسول الله ﷺ خوابونه

د انس بن مالک (رض) څخه روایت دی چې یوه ورځ رسول الله په مسجد کې ناست وو، چې یو کس د عربو څخه راغی، په رسول الله یې سلام واچوو، رسول الله یې سلام ته ځواب ورکړ، ورته یې وویل د کوم ځای څخه راغلې؟ اعرابي سړي ورته وویل د ډېر لرې ځای څخه راغلی یم، څو سوالونه لرم، له تاسو څخه د هغې ځواب غوارم، رسول الله ورته وویل پوښتنه وکړه، عربي سړي ورته وویل غوارم چې د الله (ج) تر ټولو پوه بنده اوسم، رسول الله ورته وویل د الله (ج) څخه وېرېږه، بیا یې پوښتنه وکړه، غوارم چې د الله (ج) د خاصو بنده ګانو څخه شم، رسول الله ورته وویل شپه او ورځ قرآن کریم لوله، بیا یې پوښتنه وکړه، غوارم، چې زړه مې همېشه روښانه وي، رسول الله ورته وویل مرګ له یاده مه باسه، بیا یې عرض وکړ، غوارم چې د دښمن لخوا څخه ماته څه ضرر ونه

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

رسیږي، رسول الله ﷺ ورته وویل: همېشه په الله (ج) باندې توکل کوه، بیا یې عرض وکړ، غواړم چې دالله (ج) ترټولو دروند او غزتمند بنده اوسم، رسول الله ﷺ ورته وویل: دچاڅخه څه مه غواړه، بیا یې عرض وکړ، غواړم چې عمر مې زیات شي، رسول الله ﷺ ورته وویل: صله رحمي کوه، بیا یې عرض وکړ، غواړم چې رزق مې زیات شي، رسول الله ﷺ ورته وویل: همېشه په اودس کې اوسه، بیا یې عرض وکړ، غواړم چې زما لپاره دقبر غذاب نه وي، رسول الله ﷺ ورته وویل: خپله جامه یا لباس پاک ساته

## صحابي چاته ویل کیږي؟

صحابي هغه چاته ویل کیږي چې په ژوندون یې رسو ل الله لیدلی وي او په هغه یې ایمان راوړي وي او دایمان په حالت کې وفات شوی وي لکه ابوهریره (رض) ، ابن مسعود (رض) ، ابن عباس (رض) ، بن عمر (رض) ، جابر (رض) اوداسې نور...

## حضرت ابوبکر صدیق (رض)

ابوبکر صدیق (رض) لومړنی صحابي وو، چې الله (ج) ، دجبرائل (ع) په واسطه هغه ته اسلام ورسوو ، لومړی حج هم ابوبکر صدیق (رض) کړی دی.
رسول الله ﷺ فرمایلي دي: زما دټولو امتیانو څخه به ابوبکر صدیق (رض) ، ژر جنت ته داخلیږي

## رسول الله ﷺ به دابوبکر صدیق (رض) ، ډېر احترام کولو.

ابوبکر صدیق (رض) ، دخپل خلافت په وخت کې داسلام بېرغ ، تر یوولس لکه میلو مربع پورې ورساوه ، ابوبکر صدیق (رض) ، ته یو یهودي په وریجو کې زهر ورکړه.
ابوبکر صدیق (رض) دیوې زړې کمپلې څخه خپلې جامې جوړې کړې دې، چې تکمې پر ځای به یې اغزیو څخه استفاده کوله، دغریبو ژوند یې ډېر خوښولو ، کله به یې چې قرآن کریم لوستلو ، نو ژړل به یې ، لومړی صحابي دی

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

چې د رسول الله ﷺ ځای ناستي شو ،نورو صحابه وو به د حضرت ابوبکر صدیق (رض) سره د ډېره مینه درلوده

## دحضرت ابوبکر صدیق (رض) علم او پوهه

عایشه (رض) فرمايي: کله به چې صحابه وو ،په څه کې اختلاف کولو ، نو ابوبکر صدیق (رض) به هغه حلولو ،مثلاً: کله چې وویل شول چې رسول الله ﷺ ،به چېرته خښنوو ،نو هیچا سره دهغه په باره کې علم نه وو ، هغه وخت ابوبکر صدیق (رض) وویل: د رسول الله ﷺ څخه مې اورېدلي دي، چې ویل یې: هرنبي چې په کوم ځای وفات شوی دی، په هماغه دخوب په ځای کې چې دی وفات شوی دی، په هماغه ځای کې دفن شوی دی.

د رسول الله ﷺ د میراث په باره کې اختلاف وو ، د هیچا سره دهغې په باره کې علم نه وو ،نو هغه وخت ابوبکر صدیق (رض) وویل: د رسول الله ﷺ څخه مې اورېدلي دي چې ویل یې: زمونږ د نبیانو له ډلې څخه میراث نه ورل کیږي، هغه څه چې زمونږ څخه پاتې شوي، هغه صدقه ده.

## څوک د رسول الله ﷺ سره مینه لري؟

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: هیڅوک له تاسو څخه د ایمان خاوند نشي کېدای، ترڅو چې زه هغه ته د خپل ځان، اولاد او شتمنۍ څخه ، ګران او محبوب نشم (بخاري)

دابوبکر صدیق (رض) مینه او محبت وګورئ؛ هغه وايي: زه په سفر کې ډېر تږی شوی وم، څه آندازه اوبه او شیدې مې رسول الله ﷺ ته ورکړې، چې هغه یې وڅښلې، رسول الله ﷺ، دومره وڅښلې، چې زما تنده یې ماته کړه. همدارنګه کله چې دابوبکر صدیق (رض) پلار ایمان راوړ ،نو ابوبکر صدیق (رض) ، وژړل ،رسول الله ﷺ هغه ته وویل: ولې ژاړې ،نن خو دخوشحالۍ ورځ ده، چې پلار دې ایمان راوړی، ابوبکر صدیق (رض) وفرمایل: پدې ژاړم ،غوښتل مې چې نن

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ورځ زما دپلا ابو طالب پرځای ،درسول اللهﷺ پلار وای،ځکه چې رسول اللهﷺ به دېر خوشحاله شوی وی.

## دابوبکر صدیق (رض) پندونه او نصیحتونه

حضرت ابو بکر صدیق (رض) فرمايي: که غواړې چې فضیلت ته ورسیږې .نو مه پرېږده چې څوک له تاڅخه مخکې سلام واچوي

پرته د ابوبکر صدیق (رض) څخه ،هیچا ته درسول اللهﷺ خلیفه نه دی ویل شوی،ابوبکر صدیق (رض) درې زامن درلودل ،چې نومونه یې عبد الله ، عبدالرحمٰن او محمدابن ابي بکر ،وه.

او همدارنګه درې لورګانې يې درلودې د بي بي اسماء،بي بي عایشه او بي بي ام کلثوم(رض) په نومونو سره.

یوه ورځ یوه ښځه د رسول اللهﷺ ،څنګ ته راغله،او دیوې موضوع په باره کې یې پوښتنه وکړه ،رسول اللهﷺ ورته وویل:زه درروسته راشه،هغې ښځې ورته وویل:که ته مې پیدانکړې،نوبیا په چا پسې لاړه شم،رسول اللهﷺ ورته وویل: په ابوبکر صدیق(رض) ،پسې لاړه شه

زید (رض) وایي:دابوبکر صدیق(رض) په جامو کې مې وشمارل چې اوولس پېوندونه دهغه په جامو کې وه.

ابوبکر صدیق(رض) وایي: رښتیا امانت دی او دروغ خیانت دی،هرقوم چې فحشاء خپروي ،نو هغوي به په بلا کې ګرفتاره شي،ترهغه و خته زما اطاعت کوئ چې زه د الله(ج) اودهغه درسولﷺ اطاعت کوم،کله مې چې دالله(ج) او دهغه درسولﷺ ، نافرماني وکړه،نو زمااطاعت پرتاسو لازم ندی

ابوبکر صدیق (رض) ،دمرګ په وخت کې خپل د زړه ټوټې ام المؤمنین عایشه (رض) ته وویل: زما دغه دوه جامې ووینځه او هغه زما لپاره کفن کړه،ځکه چې نویو ټوټو ته ژوندي، ضرورت لري،نه مړي

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ابوبکر صدیق(رض) ،به چې څوک د لرې څخه هم ولیده ،نو په هغوی به یې سلام اچوو او نورو ته به یې ویل: که غواړئ چې غوره اوسئ ،نو دنورو څخه په سلام اچولو کې مخکې شئ.

**رسول الله ﷺ،به په سړیو کې ،دچا سره ډېره مینه درلوده؟**

د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وشوه ،ترټولو زیات دچا سره مینه لرې؟رسول الله ﷺ ورته وویل:عایشه (رض) ،بیا ورڅخه پوښتنه وشوه ،په سړیو کې د چا سره ډېره مینه لرې؟ رسول الله ﷺ وفرمایل:دعایشې (رض) پلار ،ابوبکر صدیق (رض).

رسول الله ﷺ وفرمایل: که ما څوک دځان لپاره خلیل او دوست نیولی ،نو ما به ابوبکر صدیق (رض) به خپل خلیل او دوست نیولی وی، مګر هغه زما صحابي او ورور دی.په ربښتیا سره چې الله(ج) ،رسول الله ﷺ خپل دوست او خلیل نیولی دی.(مسلم عبدالله ابن عباس (رض))

**دابوبکر صدیق (رض) ژړا**

حضرت ابوبکر صدیق (رض) ناست وو ، چې د زلزال سورت ،نازل شو ،حضرت ابوبکر صدیق (رض) وژړل،رسول الله ﷺ د ابوبکر صدیق (رض) ،څخه پوښتنه وکړه،ولې ژاړې ؟ابوبکر صدیق(رض) ، ورته وویل:دغه سورت ،ما ډېر ژړوي،رسول الله ﷺ وویل:که ته چېرته ګناه ونکړې او د ګناه مرتکب نشې او الله(ج) درته بخښنه ونه کړي ،الله(ج) داسې امت پېدا کړو چې ،هغوي خطا وکړي او د ګناه مرتکب شي او الله(ج) به هغوي وبخښي.

بي بي عائشه(رض) وايي:حضرت ابو بکر صدیق(رض) د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو ، رسول الله ﷺ ورته وویل ، الله(ج) تا ته د دوزخ څخه آزادي او نجات درکړی دی، له همغې ورځې د عتیق په نامه یاد شو.(ترمذي)

حضرت ابو بکرصدیق(رض) په سړیو کې لومړی کس وو ، چې ایمان یې راوړو ،او د رسول الله ﷺ سره مدینې منورې ته په هجرت کې یواځینی ملګری

وو، او هم د حرا په غار کې درسول الله ملګری وو، او هغه کس وو چې رسول الله ته یې وویل: په الله(ج) قسم کوم، چې لومړی زه غار ته ننوځم، ځکه که کوم خطر پکې موجود وي نو ماته دې ورسیږي، کله چې غار ته ننوتل نو رسول الله ویده شو، ابوبکرصدیق(رض) خپله پښه په سوري کې ایښې وه، نو مار ابوبکرصدیق(رض) په پښه وچیچلو او ددې لپاره یې خپل آواز پورته نکړ چې رسول الله له خوبه رابېدار نشي.

حضرت ابوبکر صدیق (رض) درسول الله خسر وو، د ام المؤمنین عائشې (رض) پلار ابوبکر صدیق (رض)، چې کله وفات کېده، نو د رسول الله په شان یې عمر (۶۳) کاله وو.

حضرت ابوبکرصدیق (رض) لومړی کس وو، چې د رسول الله دوحې قصه یې رښتیا وګڼله او قبوله یې کړه، له دې وروسته رسول الله هغه ته وویل: مبارک دې وي تاته ته لومړنی صدیق او امین یې.

**پنځه(۵) تیارې او پنځه(۵) رڼاګانې**

حضرت ابوبکر صدیق (رض) ووایې: ګناه تیاره ده او دهغه څراغ او رڼا توبه ویستل دي، قبر تیاره ده او دهغه رڼا لمونځ دی، تله تیاره علم دی او دهغه رڼا توحید دی، قیامت تیاره دی او دهغه رڼا نېک عمل دی. پل صراط تیاره دی او دهغه رڼا یقین دی.

**حضرت ابوبکر صدیق (رض) دخلافت په وخت کې**

ابوبکر صدیق (رض) دخپل حکومت په وخت کې ټوټې په غاړه کې اچولې وې، دخرڅلاو لپاره یې وړلې، عمر (رض) ورڅخه پوښتنه وکړه، چېرته ځې ای د الله (ج) درسول خلیفه، هغه ورته وویل: دخپلې کورنۍ دخرچ او نفقې لپاره، عمر (رض) ورته وویل: دبیت المال څخه به څه حق درته وټاکو، ترڅو دخلکو او خلافت کارونه پرمخ بوځې، ابوبکر صدیق (رض) دا خبره ومنله، لدې وروسته بیا بازار ته لاړ نه شو.

## ابوبکر صدیق (رض) خپلې ژبې ته سزا ورکوي

یوه ورځ عمر (رض) د ابوبکر صدیق (رض) کورته ننوتلو، ویې لیدل چې حضرت ابوبکر صدیق (رض) خپله ژبه نیولې ده، ګویا چې هغه یې تهدیدوله، عمر (رض) ورځخه پوښتنه وکړه، ولې خپله ژبه تهدیدوې. ابوبکر صدیق (رض) ورته وویل: آیا زما د ژبې څخه پرته بل شی ما نېک بخته یا بدبخته کولی شي؟ (ژبه هم کلا ده، هم بلا ده. که ژبه ووایي، چې نکاح مې قبوله ده، یا ژبه ووایي ته طلاقه یې، نو ښځه په ما نکاح یا طلاقیږي).

رسول الله ﷺ فرمایي: ای الله (ج) په ابوبکر صدیق (رض) باندې رحم وکړې!
زه یې د خپلې لور په نکاح کې رواستلم، ما سره غار ته لاړو. ما سره یې هجرت وکړ او بلال (رض) یې آزاد کړ.

ای ربه! په عمر (رض) باندې رحم وکړه، چې حق وو ایي. که څه هم د پر تریخ وي
ای ربه! په عثمان (رض) باندې رحم وکړه، چې ملائکې د هغه څخه حیا کوي او شرمیږي
ای ربه! په علي (رض) باندې رحم وکړه ... ای ربه! که هغه په هر ځای کې وي، نو حق ورسره ملګری کړه.

## د ابوبکر صدیق (رض) په وخت کې به د رندو ښځو سره کومک کېدو

عمر (رض) به زړې او رندې ښځې ته اوبه راوړلې او کور به یې ورته پاکو، او د هغې هر کار ته به یې ځان رساوه، یوه ورځ عمر (رض) د دې زړې ښځې کور ته ننوتلو، ویې لیدل چې هر شی پاک او په ترتیب سره اېښودل شوي دي، حیران شو، ځان یې د کور په کونج کې پټ کړ، ګوري چې ابوبکر صدیق (رض) هغې زړې ښځې کورته د هغې سره د کومک کولو لپاره را ننوتلو، عمر (رض) ورته وویل: زما ځان دې له تا قربان وي، زما ځان دې له تا قربان وي

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## امير المؤمنين حضرت عمر (رض)

حضـرت عمـر (رض) دوه نـيم کالـه خلافـت وکړ ،لـو مړی کـس دی چـې پـه امير المؤمنين لقب سره ياد شو، لومړی کس دی چې د رسول الله ﷺ لخوا د فاروق په نامه ياد شو ،لومړی عادل او زړور مسلمان دی، چې د الله (ج) عبادت يې پرته د کومې ويرې څخه په ښکاره ډول سره اعلان کړ ،لومړی انصاف داره دی چې شراب يې منع کړ او د الله (ج) څخه لومړنی ويرېدونکی پاچا دی چې د شپې لخوا به د خلکو د کورونو په څنګ کې تېرېده او د خلکو حال به يې اخيسته د عمر (رض) د خلافت په وخت کې ليبيا، مصر، فلسطين، اردون، عراق او د ايران زياته برخه فتحه شوله

## د حضرت عمر (رض) ، پندونه

حضرت عمر (رض) و ايي: کله چې ته يو عمل کوې نو هغه ليکل کيږي، کله چې دې بدي وکړه، نو نېکي وکړه. هغه شی چې تا ته ضرر رسوي له هغه څخه لرې اوسه او نيک ملګری انتخاب کړه.

په دروغو قسم عادي مه ګڼه، که نو الله (ج) به دې هلاک کړي. هغه څه چې په تاپورې اړه نلري په هغه کې مداخله مه کوه. خپل راز دې له ملګرو څخه پټ کړه، مګر د امين ملګري څخه يې مه پټوه.

د چا خندا چې زياته شي، د هغه د هشت کميږي، څوک چې تو کې کوې هغه سپک ګڼل کيږي

څوک چې ډېرې خبرې کوي نو هغه ډېر خطا کيږي د چا چې خطا ګانې زياتې شي نو حيا يې کميږي او د چا چې تقوا او پرهېزګاري کمه شي نو زړه يې مر کيږي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: انسي او جني شيطانان مې وليدل چې د عمر (رض) څخه يې تېښته وکړه.

حضرت عمر (رض) فرمايلي دي: په فاسدو او حرامو شيانو خوړو او ښناک باندې ګېډه ، ډکول د مريضۍ او په لمانځه کې د سستۍ سبب ګرځي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

باید په خوراک او څښاک کې میانه روي وکړئ ،ځکه چې د صحت لپاره گټه رسوي او د اسراف څخه ډډه کیږي

حضرت عمر (رض) وفرمایل:انسانان په درې ډوله دي

لومړی هغه کسان دي چې پاک لمنه ،عاجز طبیعته،د ښې رایې او سم نظر خاوندان وي،کله چې د کوم مشکل سره مخامخ شي،نو په خپل فکر او نظر سره هغه په سمه توگه سرته رسوي

دوهم کسان دي چې خپله نه پوهیږي،خو د کار په وخت کې د پوه کسانو څخه د کار په باره کې مشوره اخلي

دریم هغه کسان دي چې خپله هم نه پوهیږي او د بل څخه هم مشوره نه اخلي

**عمر (رض) غوښتل چې د ابوبکر صدیق (رض) څخه مخکې شي**

حضرت عمر (رض) وایي:یوه ورځ رسول الله ﷺ خپلو صحابه وو ته وویل:خپلې پیسې او مالونه مو انفاق او صدقه کړئ،ما له ځانه سره وویل:غوره ده چې نن له ابوبکر صدیق(رض) څخه مخکې شم،خپل نیم مال مې رسول الله ﷺ ته راوړ،رسول الله ﷺ راته وویل:خپلې کورنۍ ته دې څه پرېښودل؟ما ورته وویل:همدومره مې هغوي ته پرېښودل،وروسته ابوبکر صدیق (رض) خپله تول شتمني رسول الله ﷺ ته راوړله،رسول الله ﷺ ورته وویل:ای ابوبکر،خپلې کورنۍ ته دې څه پرېښودل ،هغه ورته وویل:د هغوي لپاره مې الله(ج) او د هغوي پیغمبر پرېښودل،له ځانه سره مې وویل:هیڅکله به زه د ابوبکر صدیق (رض) څخه په څه کې مخکې نشم

**هغه سړی چې د عمر (رض) دکور په څنګ کې تېرېده**

یو سړی به هر وخت د عمر (رض) د کور دروازې څنګ ته راتلو ،عمر (رض) ورته وویل:څه لاړ شه د الله (ج) کتاب یاد کړه، هغه سړی ولاړ، د ډېر وخت نه معلومېده، یوه ورځ د عمر (رض) سره مخامخ شو ، غوښتل یې چې عمر (رض)

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ته څه ووايي، عمر (رض) ته یې وویل: دالله(ج) په کتاب کې داسې څه پیدا کړه چې زه یې دعمر دکور څخه بې زاره کړم

**دنیل دسیند جریان دعمر (رض) په خط سره**

کله چې عمرو بن العاص (رض) مصر فتحه کړ، دهغه ځای خلکو وویل: ای امیره! دغه دنیل سیند له پخوا څخه یو خاصیت لري چې دهغه څخه پرته نه روانیږي، ځواني انجونې په ښکلو لباسونو سره سینګارو او هغه په سیند کې ورغورځوو، وروسته بیا سیند په حرکت راځي، عمرو بن العاص (رض) ورته وویل: دا کار په اسلام کې نشته، هغوي په سیند کې انجونې ونه غورځولې، دنیل سیند هم حرکت ونکړ، خلکو غوښتل چې داوبو دنشتوالي څخه دغه ښار پریږدي، دغه خبر حضرت عمر (رض) ته ورسېدو، حضرت عمر (رض) یو خط ولیکلو: دالله (ج) دبنده امیر المؤمنین عمر له طرفه دنیل سیند ته، امابعد: که په خپله خوښه دې حرکت کولو نو مه جاري کېږه او که د الله(ج) لخوا په حرکت راتلې، نو مونږ دهغه قهار او لاشریکه ربه څخه غواړو چې تا جاري کړي، په دې وخت کې عمرو بن العاص خط په سیند کې واچوو، الله(ج) هغه سیند دپنځلسو ګزو په لوړوالي سره جاري کړ او هغه بد رواج یې د مصر څخه لرې کړ.

**حضرت عمر (رض)، او دخلکو غمخواري دهغه دخلافت په وخت کې**

یوه شپه عمر (رض) په یوه ځای کې اور ولیده، کله چې هلته ولاړ، نو ویې لیده چې یوه ښځه دخوراک لپاره څه نلري، اوریې بل کړی وو او دیګ یې ورباندې اېښی وو، چې خپل ماشومان وربانذې غلې کوي، ماشومان ژاړي، عمر (رض) پوښتنه وکړه چې دچا څخه شکایت لرئ، ښځې وویل: زمونږ پاچاه او والي ولې زمونږ دحال څخه خان نه خبروي؟ عمر (رض) بیت المال ته لاړو، داورو بوجۍ، غوړي او نور شیان یې په شا کړل، دګدام والا وویل، پریږده چې زه یې یوسم، حضرت عمر (رض) وویل: دآخرت په ورځ زما ګناهونه په شا ورلی

شي،وړه ،غوړي او نور خواړه يې هغوي ته په خپل لاس دهغې اولادونو ته يوړل او هغوي ته يې ډوډۍ ورکړه،دماشومانو مور وويل:ای كاش چې ته دعمر په ځای خليفه وای،نه عمر،حضرت عمر (رض) وويل سبا دعمر خنګ ته راشه زه هم هلته يم ،ستا مشكل هغه ته وايم، عبدالرحمٰن بن عوف(رض) چې دحضرت عمر (رض) سره وو ،ويې ويل:راځه چې ځو ،عمر (رض) وويل:زه دغه ماشومان د ژړا په حالت كې ليدلي وه،ترڅو چې هغوي خوشحاله او په خندا نشي نو زه نه ځم،سبا دماشومانو مور دارالخلافت ته ولاړه،ويې ليدل چې هغه سړي ته هرڅوک اميرالمؤمنين وايي،دښځې رنګ زيړ شو او وډاره شوه،عمر (رض) ورته وويل:خوري مه ډارېږه،هغه ظلم چې پرتا سو شوی هغه په څوخرڅوې،ښځې وويل:ای اميرالمؤمنينه ستا څخه معذرت غواړم،بالاخره په شپږ سوه (۷۰۰) درهمه يې هغه ظلم چې په ښځه شوی وو، واخيست،حضرت علي (رض) دغه سند وليكو،ابن مسعود (رض) هم موجود وو.

### حضرت عمر (رض) په دخپل غلام سره نوبت كوو

ديوښار حاكم تسليم شو او ويې ويل:دښار كلي يوازې د مسلمانانو خليفه ته وركوم،ډېرو ورڅخه غوښتنه وكړه،خو هغوي ته يې ورنكړه،حاكم وويل:هغه څوک چې مونږ پېژنو نشي كولی چې د مسلمانانو خليفه وي،بالاخره عمر (رض) دځانه سره تصميم ونيوه او دقدس دښار په لوري يې حركت وكړ،حضرت عمر (رض) او دهغه غلام به په نوبت سره په اوښ سپرېدل او كله به يې اوښ تنها پرېښود ،ترڅو چې دمه وكړي كله چې عمر (رض) دخپل غلام سره ښار ته نژدې شول،دغلام نوبت راورسېدو .غلام يې په اوښ كېناست او عمر (رض) چې امير او پادشاه وو ،داوښ پړی يې په لاس كې نيولی وو، دهغوی دپادشاهۍ دځای په لوري ولاړل،هغوي فكر وكړ چې، غلام چې په اوښ سپور دی، هغه اميرالمؤمنين دی،كله چې پادشاه دغه حالت او عدالت وليدو ،حضرت عمر (رض) يې وليده،چې زړې او پېوندي جامې يې لكه

دعادي خلکو په شان اغوستې وې، ټول حيران شول او ويې ويل: په رښتيا چې ته هغه کس يې چې زمونږ په کتاب کې ستا ذکر شوی او مونږ هغه ويلی دی، حضرت عمر (رض) ډېر کلي واخيسته، الله (ج) ته يې سجده وکړه او شکر يې وايسته

## د حضرت عمر (رض) د اولادونو پېوندي جامې

يوه ورځ د عمر (رض) ځوی، د عمر (رض) څنګ ته راغی او ورته يې وويل: زمونږ جامې پېوندي دي، خلک په مونږ پسې خاندي، حضرت عمر (رض) دبيت المال مسؤل (د ماليې وزير) ته ولېکه، چې دوه درهمه زما دراتلونکي معاش څخه زما ځوی ته ورکړه، د دولت خزاندار عمر (رض) ته وليکل: آيا د سبا ورځې د ژوندون ضمانت کوې؟ حضرت عمر (رض) وژل، او توبه يې وايسته، زامنو يې په پېوندي جامو کې ژوند تېرو، افسوس د اوسنيو واک دارانو په حال

## د حضرت عمر (رض) جامې

حضرت عمر (رض) ته ډېرې جامې راغلې، هغه يې په نورو خلکو تقسيم کړې، د خپل ځان لپاره يې هم يوه جوړه را ستنه کړه، هغه چپن يې چې په خطبه کې اغوستې وه، د دوه ټوټو څخه جوړه وه، خلکو ته يې وويل: غوږ شئ ای خلکو! سلمان وويل: نه غوږ نيسم او نه دې اطاعت کوم، حضرت عمر (رض) ورته وويل: ولې ای ابو عبدالله؟! هغه وويل: مونږ ته دې يوه، يوه جوړه راکړه او خپل ځانته دې دوه جوړې واخيستې، حضرت عمر (رض) وويل: وار خطايې مه کوه، ځوی يې وويل: زما د پلار په تن کې جامې تنګې وې ما دخپلو جامو يوه برخه هغه ته ورکړه، سلمان وويل: اوس هم غوږ نيسم او هم دې اطاعت کوم

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## دحضرت عمر (رض) خلافت

قیصر خپل استازی، حضرت عمر (رض) ته ولیږو، چې څرنګه پادشاهي او مانۍ لري، کله چې مدینې منورې ته داخل شو، حضرت عمر (رض) یې دیوې ونې د سیورې لاندې پیدا کړ، چې د بالښت او توشکې څخه پرته ویده شوی او سر یې په تیږو باندې ایښی وو، ساتونکی او بادي ګارډ هم نلري، د قیصر استازی حیران شو، له ځانه سره یې وویل: ظلم دې ندی کړی نو ځکه بې غمه ویده یې، زمونږ پادشاه چې ظلم کړی دی، د خپل ساتونکو او بادي ګارډانو سره له ویرې خوب نه کوي، نوزه هم مسلمانیږم

## دحضرت عمر (رض) ترټولو غوره خاطره

عبدالله (رض) د خپل پلار حضرت عمر (رض) څخه پوښتنه وکړه، د رسول څخه دې ترټولو غوره خاطره چې له یاده یې نه اوباسي، هغه کومه ده؟ هغه وویل: دا به هیڅکله له یاده ونباسم، چې یوه ورځ د رسول الله ﷺ څنګ ته لاړم او ورته مې وویل: ای رسول الله ﷺ اجازه راکړه چې د عمرې لپاره لاړ شم، رسول الله ﷺ راته وویل: ما د خیر په دعا ګانو کې له یاده مه باسه د غه خبره په ټوله دنیا هم نه ورکوم (ابوداوود)

خوېندو او ورونو د خپلو دوستانو لپاره د خیر دعا وکړئ او مونږ هم د خیر په دعاء ګانو کې له یاده مه باسئ.

## حضرت عثمان (رض)

حضرت عثمان (رض) خپله ټوله سرمایه د الله (ج) په لاره کې په مصرف ورسوله او دولس ورځې کم دولس کاله یې خلافت وکړ. لومړنی صحابي دی چې د خپل خلافت په وخت کې یې د اسلام بېرغ تر څلور څلویښتو لکه میله مربع پورې یې ورساوو، وروسته د کنان بن بشیر په لاس په شهادت ورسېده.

## دحضرت عثمان (رض) ژوند

دحضـرت عثمـان (رض) پـه وخـت کـې طبرسـتان، کرمـان، بلوچسـتان، افغانستان، گرجستان، آذربايجان، قبرس، دافريقا يوه برخه او نور... خاورې فتحه شوې.

حضرت عثمان (رض) تـه رسول الله ﷺ لخوا د ذوالنورين لقب ورکړل شوی دی (يعني هغه څوک چې د دوه رڼاگانو خاوند وو، پدې مانا چې لومړی يې د رسول الله ﷺ ديوې لور سره واده وکړ، کله يې چې لومړۍ ښځه وفات شوه، نو رسول الله ﷺ دوهمه لور، عثمان (رض) ته ورکړه، رسول الله ﷺ وفرمايل: په الله (ج) قسم چې کـه سل لورگانې مې درلودی يوه په بلې پسې مې عثمان (رض) ته ورکولې). رسول الله ﷺ وفرمايل: په الله (ج) قسم چې عثمان (رض) بـه زما د اويا زره امتيانو چې هغوي به جهنم ته به روان وي شفاعت کوي، ترڅو چې ټول د هغه په شفاعت سره جنت تـه داخـل شي. همدارنگه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: زما پـه امت کې تر ټولو زيات حيادار او عزتمند، عثمان (رض) دی.

## دعثمان (رض) تجارت او ښتينولي

دحضرت ابوبکر صديق (رض) دخلافت پـه وخت کې قحطي راغلـه، عثمان (رض) دغنمـو او غـذايي مـوادو کـاروان د شـام څخـه مـدينې منـورې تـه راوستلو، تجاران راجمع شول او عثمان (رض) ته يې وويل: دغـه مـواد پـه مونږ باندې خرڅ کړه، مونږ درته دهر کالي په بدل کې دلسو څخه تر دولسو درهمو پورې زيات درکوو، حضرت عثمان (رض) ورتـه وويـل: نن دهغـه چا سـره سـودا کوم چې څوک له دې څخه زياتې پيسې راکوي، هغوي وويل: څوک زمونږ څخه زياتې درکولی نشي، مونږ لوی تجاران يو، عثمان (رض) ورتـه وويـل: زه دالله (ج) سره سودا کوم، د اويا چنده څخه زيات راکوي هماغـه وو چې ټول غنم او خواړه يې په غريبانو او فقيرانو باندې تقسيم کړه افسوس دنن ورځې، تجارانو او مالدارانو په حال.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## حضرت علي (رض)

حضرت علي (رض) ډېر لوی پهلوان وو، رسول الله ته یې ډېر احترام درلود اوزیات شیان یې د رسول الله څخه یاد کړي وه.علي (رض) څلور کاله،نهه میاشتې او یوه ورځ خلافت وکړ،چې دابن ملجم لخوا په شهادت ورسېده.
دحضرت علي (رض) دخلافت په وخت کې اسلامي حکومت تر پنځه وېشت لکه میلو مربع پورې ورسېدو.

## دحضرت علي (رض) نصیحتونه

حضرت علي (رض) وایي:ترټولو لویه سرمایه عقل دی او ترټولو لوی فقر لېونتوب دی.ترټولو خطرناکه وحشت ،ځان ښودنه ده.ښک اخلاق غوره ملګری دی.عقل غوره ملګری دی.عقل دلارې غوره ملګری دی.ادب غوره میراث دی.هر وروړ جدا کېدونکی دی،خو هغه وروړ نه جدا کیږي چې طمع درځخه ونلري
دسهار دلمانځه څخه وروسته لس ځلې سورت اخلاص( قل هو الله احد... ) لولئ
حضرت علي (رض) وایي:هرڅوک چې دسهار دلمانځه څخه وروسته لس ځله اخلاص صورت ووایي،نو په هماغه ورځ به دګناه څخه لرې وي،که څه هم شیطان خپله ټوله وسه وکړي
حضرت علي (رض) فرمایلي دي:الله (ج) دې مونږ ته نېک صالحه ښځه په نصیب کړي،نعمت په شکر پورې تړلی دی او شکر په زیاتوالي پورې تړلی دی او دا دواړه په یوبل پورې تړلي دي،ترڅو چې د بنده څخه شکر لرې نشي،نو الله (ج) به دهغه څخه زیاتوالی او برکت هیڅکله لرې نکړي
حضرت علي (رض) فرمایلي دي:په نېکیو سره امر کوئ او له بدیو څخه منع کوئ او دالله (ج) په امر کې بېړه کوئ ،که نه نو په تاسو به داسې قوم برلاسی شي،چې تاسو ته به هغوی عذاب درکوي اوهغوی ته به الله (ج)عذاب ورکوي

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

حضـرت علـي (رض) فرمـايلي دي خيـر دا نـدی چـې مـال او اولاد دې زيـات شي ،بلکې خير دا دی چې علم دې زيات شي او حوصله دې زياته شي
حضرت علي (رض) فرمايلي دي دريا کار درې ننبې دي کله چې خانته وي ،نو دامت تنبل وي، کله چې څوک ووينې نو تازه شي او کله چې د هغه صفت وشي نو د هغه عمل زياتيږي او کله چې د هغه سپکه وشي ،نو په عمل کې يې کمبود راځي.

## دحضرت علي (رض) زړورتوب او حوصله

يوه ورځ حضرت علي (رض) يوه نفر پـه جنـګ کې راچپه کړی وو ،هغه کافر دحضرت علي (رض) په مخ باندې لاړې تو کړې، علي (رض) دخپل مبارک مخ څخه لاړې پاکې کړې او توره يې په غلاف کې کېښـودله ،کافر ورڅخه پوښتنه وکړه ،ولې دې زه ونه وژلم؟علي (رض) ورته وويل غوښتل مې چې تا دالله (ج) د رضا لپاره ووژنم ،خو اوس که تا ووژنم نو تـه بـه مې دخپلې غوصې او انتقام لپـاره وژلـی وې ،رسـول الله ﷺ مـونږ تـه پـه همـدې ډول سـره لارښـوونه کـړې ده ،وروسته هغه کافر مسلمان شو.
حضرت علي (رض) لـو مړنی ماشـوم وو ،چې مسـلمان شـو ،او دفـاطمې (رض) سره يې نکاح وکړه.فاطمه (رض) درسول الله د رحلت څخه شپږ مياشتې مخکې وفات شوه.
حضرت علي (رض) فرمايلي دي زما څخه پنځه شيان ياد کړئ او په هغو باندې ټينګار او تاکيد وکړئ
دهيڅ انسـان څخـه طمعـه مـه ساتـه ،بلکې خپلـه هيلـه او اميد د خپل رب څخه ساته دهيڅ څخه مه ويرېږه ،پرته دالله (ج) د نافرمانۍ او ګناه څخه په هغه څه چې نـه پـوهېږې پـه پوښتنه کولو کې يې شرم مـه کوه.عالمـانو کـه دپوښتنې ځواب در نکړو ،نو ووايه چې والله اعلم ،پدې کې شرم مه کوه.او صبر د ايمان يوه برخه ده.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

**حضرت علي (رض) به د ويده کېدو څخه مخکې درې ځلې اية الکرسي لوستله**

حضرت علي (رض) وايي: فکر نه کوم، څوک چې په اسلام کې پېدا شوی وي او يا د عقل خاوند وي او د آية الکرسي دويلو څخه مخکې ويده شي کاش چې تاسو پوه شئ چې دا آية رسول الله ته د عرش د لاندې خزانو څخه ورکړل شوی دی او هيڅ بل کس ته نده ورکړل شوې او زه هيڅکله د درې ځله آية الکرسي د ويلو څخه مخکې ويده شوی نه يم او هغه په دوه رکعته وترو کې د ويده کېدو په وخت کې وايم

**مړو به د حضرت علي (رض) سره خبرې کولې**

حضرت علي (رض) د مدينې منورې يوې هديرې ته ولاړ او په مړو يې سلام واچوو، مړو د علي (رض) څخه پوښتنه وکړه، اې امير المؤمنينه ! زمونږ د مرګ څخه وروسته څه وشول؟ حضرت علي (رض) ورته وويل: ستاسو ښځو نورو په نکاح کړې، مالونه مو ووېشل شول، اولادونه مو يتيمان شول، هغه ځايونه مو چې جوړ کړي وه، په هغې کې نور خلک اوسيږي حضرت علي (رض) ورڅخه پوښتنه وکړه، ستاسو څه حال دی؟ مړو ورته وويل: کفن مو وشکېده، ويښتان مو ورژېده، پوستکی مو له بدن څخه جلا شو، سترګې مو اوبه شوې ، هغه څه مو چې مخکې له ځان څخه لېږلي وه ، هغه مو پيدا کړه او هغه څه مو چې پرېښي وه ، هغه مو له لاس ورکړل

**حضرت علي (رض) وايي: زما څخه څلور شيان زده کړئ**

کله چې د ابن ملجم لخوا څخه حضرت علي (رض) په توره ووهل شو، نو خپل ځوی امام حسن (رض) ته يې وويل: زما څخه څلور شيان ياد کړه، امام حسن (رض) ورته وويل: هغه کوم دي؟ حضرت علي (رض) ورته وويل: ترټولو غوره سرمايه عقل ده، ترټولو لوی فقر لېونتوب دی، ترټولو وحشتناکه جدايي ځان ښودنه ده، او ترټولو غوره صدقه نېک اخلاق دي

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

امام حسن (رض) ورته وویل: هغه څلور نور کوم دي؟ علي (رض) ورته وویل: د دروغجن د ملګرتیا څخه لاس واخله، ځکه چې هغه لرې، نژدې او نژدې، لرې معرفي کوي.
د بخل سره د ملګرتیا څخه هم لاس واخله، ځکه چې ستا د محتاجۍ په وخت کې له تا څخه لرې کیږي.
د فاجر له ملګرتیا څخه ډډه وکړه، ځکه چې تا په لږ شي هم خرڅوي.

**نهه (۹) شیان د یاده ویستلو سبب ګرځي**

د حضرت علي (رض) څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: نهه شیان د یاده ویستلو او حافظې د کمزوتیا سبب ګرځي: د ترشې مڼې خوړل، د دنیا (ګشنیز) خوړل، د پنیر خوړل، د موږک پاتې شوني خوړل، د قبرونو شناختې لوستل، د دوه ښځو په منځ کې تلل، سپږې غورځول په ژوندي حالت کې، په نقره کې حجامت او په ولاړو اوبو کې بولې کول.

**د فرضو، واجبو او سنتو ترمنځ څه توپیر دی**

فرض د الله (ج) امر دی، چې په نه کولو سره یې مسلمان ګنهکار او فاسق شمېرل کیږي او په نه منلو یې کافر کیږي.
واجب د فرضو حکم لري، چې په نه کولو سره یې مسلمان ګنهګار او نه منلو سره یې کافر نه ګڼل کیږي.
سنت د رسول الله ﷺ عمل دی، چې په کولو سره یې ثواب او په نه کولو سره یې عذاب نشته.
فرض په څو ډوله دي؟ فرض په دوه ډوله دي: فرض عین او فرض کفایي.
فرض عین حتمي امر دی، چې په نه کولو سره یې انسان ګنهګار او فاسق ګڼل کیږي.
فرض کفایي هغه دی، چې که یو یا څو نفره یې هم وکړي؛ نو نور د ګناه څخه خلاصیږي لکه د جنازې لمونځ.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سنت په څو ډوله دي؟سنت په دوه ډوله دي،مؤکد سنت او غیر مؤکد سنت
مؤکد سنت څه شی دی؟ مؤکد سنت هغه دي چې رسول الله ﷺ همېشه سرته رسولي وي
غیر مؤکد سنت څه شی دي؟ غیر مؤکد سنت هغه دي ،چې رسول الله ﷺ ځینې وخت سرته رسولي وي روایت څه مانا؟ د یوې خبرې نقلولو ته روایت وایي
حلال څه ته وایي؟
حلال هغه دي چې په هغو کې محدودیت نه وي،او په کولو کې یې د الله(ج) اجازه وي
حرام څه شی دي؟حرام هغه دي چې د الله (ج) لخوا څخه حتمي منع شوي دي
مکروه څه شی دي؟مکروه هغه دي ،چې حکم یې د حرامو څخه لږ او ټیټ دی،یعنې حتمي ندي

## مفسد څه شی دی

هغه عمل چې یوبل مشروع شوي عمل یا عبادت خرابوي لکه دبدن څخه وینې وتل د اودس په وخت کې ،خندا کول په لمانځه کې

## فتواء څه ته وایي؟

دیو شي دروا والي او یا د ناروا والي حکم ویل دهغه چا لخوا چې دفتواء صلاحیت ولري،یعنې په قرآن او سنتو باندې باید پوره پوهه ولري

## مباح څه ته وایي؟

هغه عمل ته وایي،چې په کولو او په نه کولو سره یې ثواب سره یې ګناه نشته، مثال: کېناستل، خوړل، څښل او داسې نور...

## مستحب څه ته وایي؟

هغه څه چې رسول الله ﷺ ځینې وخت کړی وی،لکه صدقه ،نفلي روژه اوداسې نور...

**اجماع څه ته وايي؟**

په يوه مسئله باندې د رسول الله ﷺ د اُمت د مجتهدينو لخوا اتفاق کولو ته اجماع وايي.

**قياس څه ته وايي؟**

يوه مسئله چې حکم يې د قرآن کريم، سنتو او د اُمت د اجماع څخه ثابت وي، د هغې په شان رښتيا او حکمت ته ، قياس ويل کيږي.

**مجتهد چاته وايي؟**

هغه يوه عالم چې د قرآن او احاديثو په رڼا سره يو شرعي حکم را وباسي او په ټولو اسلامي علومو باندې بايد پوره پوهه ولري.

**څو ډوله دينونه موجود دي؟**

دين په دوه ډوله دي،الهي دين او غير الهي دين، چې الهي دينونه د اسلام مبارک دين، يهوديت دين او د عيسويت دين دی، چې د يهوديت او عيسويت دينونه منسوخ شوي دي.

**ايمان څه شی دی؟**

ايمان، يعنې ايمان روا رل (يقين او باور لرل )په الله (ج) ، په ملائکو ،آسماني کتابونو، پېغمبرانو او د آخرت په ورځ يعنې د مرګ وروسته په بيا راژوندي کېدلو ايمان لرل.

**اسلام څه شی دی؟**

اسلام په لغت کې تسليمېدلو ته وايي، او ايمان لرل په دې چې د الله (ج) څخه پرته بل معبود نشته او رسول الله ﷺ د الله (ج) بنده او استازی دی.اسلام په پنځه ستنو ولاړ دی.

د کلمې طيبه ويل، لمونځ کول، روژه نيول، زکات ورکول او حج ته تلل.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## پیغمبر چا ته ویل کیږي؟

هغه څوک چې د الله(ج) لخوا ورته وحې کیږي ، هغه ته پیغمبر ویل کیږي لکه عیسٰی (ع) ،موسٰی (ع) ،حضرت محمدﷺ او داسې نور.

## مذهبونه

مذهبونه څلور دي،چې په لاندې ډول دي:
۱)حنفي مذهب،چې لاربنود یې امام اعظم ، ابوحنیفه نعمان دی،چې د پلار نوم یې ثابت دی او دنړۍ زیاتره خلک د حنفي مذهب پیروان دي
۲)مالکي مذهب،چې لاربنود یې امام مالک بن انس دی.
۳)شافعي مذهب،چې لاربنود یې امام محمد ابن ادریس شافعي دی.
۴)حنبلي مذهب،چې لاربنود یې امام احمد ابن حنبل دی.

## ملائکې څوک دي؟

ملائکې(پرښتې) دنور څخه پیدا شوي دي،چې هیڅ ګناه نکوي او یوازې دالله (ج) عبادت او دهغه امرونه پرځای کوي
ملائکې خوراک او څښاک نکوي،ښځې او نر هم نلري او دخوب ،سترتیا ،مریضۍ او ددې په شان نورو حالتونو څخه پاکې دي
د ټولو ملائکو په منځ کې څلور ملائکې دېرې مقربې او لوی ملائکې دي چې عبارت دي له:جبرائیل (ع) ،میکائیل(ع) ، عزرائیل(ع) او اسرافیل(ع).
دهرې ملائکې دنده معلومه ده، مثلاً: دجبرائیل(ع) وظیفه پیغمبرانو ته دالله (ج) لخوا دوحې او کتاب راوړل دي دمیکائیل(ع) وظیفه دباد ،باران او په ځمکه کې دنورو واقعو راوستل دي
دعزرائیل(ع) دنده ،دهغه انسانانو او ژوندیو موجوداتو د روحونو اخیستل دي،چې په دنیا کې یې نور عمر پوره شوی وی. داسرافیل(ع) دنده ،دقیامت په ورځ دشپیلۍ پو کول دي،ترڅو چې انسانان دوباره ژوندي شي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

پاملرنه:هرانسان په خپل څنګ کې دوه ملائکې لري،يوه د انسانانو نېک کارونه ليکي او بله د انسانانو بد عملونه د حساب د ورځې لپاره ليکي
ملائکې په شپه او ورځ کې په نوبتي ډول له تاسو سره وي،ملائکې د سهار او مازديګر په وخت کې يو له بله سره راغونډيږي،وروسته ملائکې پورته خېژي،په داسې حال کې چې الله(ج) په هر څه خبر دی،د ملائکو څخه پوښتنه کوي،زما بنده ګان مو په کوم حالت کې پرېښودل ؟هغوي ورته وايي:هغوي مو په داسې حال کې پرېښودل چې لمونځ يې کوو،او کله چې د هغوي څنګ ته لاړو نو بيايې هم لمونځ کوو.

## دأحد غر

يوه ورځ رسول الله ﷺ،حضرت ابوبکر صديق (رض)، حضرت عمر(رض)او حضرت عثمان(رض) د أحد دغره دپاسه ولاړ وه،غر وخوځېده،رسول الله ﷺ په خپله پښه سره غر وواهه او ورته وې وويل: آرام اوسه، ای أحده ! په تا باندې يو نبي ﷺ،يو صديق او دوه شهيدان ولاړ دي.
رسول الله ﷺ فرمايلي دي:دڅلور شيانو پوښتنه کيږي:دعمر پوښتنه کيږي چې هغه دې څنګه تېر کړی دی،دځوانۍ پوښتنه کيږي چې هغه دې څنګه تېره کړې ده،دمال پوښتنه به کيږي چې هغه دې په کومه طريقه لاسته راوړی دی اوپه څه کې دې مصرف کړی دی او دعمل پوښتنه به ورڅخه کيږي چې څومره عمل دې کړی دی.
هيله لرم چې ددې کتاب ښېنې صفحې څوځله ولولئ ، موضوعات او ضروري کيسې يې يادې کړئ، په مجلسونو کې دبېهوده خبرو پرځای ،نورو مسلمانانو او هغه کسانو ته چې سواد نلري، په ساده ژبه سره يې ورته ورسوئ او عمل پرې وکړئ، رسول الله ﷺ فرمايلي دي
که غواړئ چې دهرې ورځې روژه مو ديو کال په آندازه او دهرې شپې عبادت مو دليلة القدر ديوې شپې دعبادت په آندازه شي،نو د ذي الحجې لومړی لس روژې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

(دلوی اختر شخه لس ورځې مخکې) روژې ونیسي او عبادت پکې وکړئ(مسلم)
که غواړئ چې رزق مو زیات شي،نو همېشه په اودس کې اوسه که غواړې چې الله(ج) درته دحج او عمرې ثواب درکړي نو د سهار لخوا څخه داشراق لمونځ کوه.
که غواړې چې ټول گناهونه دې وبخښل شي،نو د تسبیح لمونځ کوه.
که غواړې چې دلیلة القدر دشپې دعبادت ثواب درته درکول شي،نو دشپې تبارک الذي سورت لوله
که غواړې چې الله(ج) درته د دولسو کالو عبادت ثواب درکړي،نو د ماښام دلمانځه څخه وروسته د اووابین لمونځ کوه.
که غواړې چې الله(ج) درته د درې سوه شپېته(۳۶۰) روژو ثواب درکړي،نو شپږ ورځې روژه دشوال د میاشتې ونیسه(مسلم)

## دلقمان حکیم صیب پندونه

ملگری په گته او تاوان سره وازمایه ،هوښیار او زیرک ملگری ولټوه،څواني دې غنیمت وگڼه،دخپل جېب په آندازه مصرف کوه،ځامنو ته دې علم او ادب ورزده کړه،دلویانو سره خبره مه اوږدوه،فضول او کبرجن کېږه مه،په کم خوراک ،کم ویلو او کم خوب سره ځان عادت کړه.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary